

Ketabton.com

ښاغلی قیام‌الدین خان « خادم »

د «روهی ګلاونه» مؤلف

ketabton.com - The Digital Library

ketabton.com - The Digital Library

د پښتو ټولنې له خپرونو څخه :

دخپرونو لمبر ( ۷۱ )

# روهي ګلونه

مؤلف

قيام الدين « خادم »

د پښتو ټولنې د دائرة المعارف د ترجمې د څانګې مدير

۱۳۲۵

د کابل

عمومي مطبعه .

ketabton.com - The Digital Library

# زېری

بلبلان پسی ناري وهی رحمانه !     دبهار گلونه شویدی که نه دی ؟

«رحمان»

* * *

دسوندك موندك سپلي اخری کیبزي     په بلبلو زېری و کړه : بیا بهار دی

«خوشحال»

* * *

د گلونو قدر چا زده ؟

دبلبل یا دبو را زده

«خوشحال»

ketabton.com - The Digital Library

تقريظ:

# روهي ګلونه

هرطرف ته نو بهار دی غوړ يد لی
ستړ ګی وخوره چه به دا ننداره نه کا
(خوشحال)

دا ښکلي ګلونه چه د ښاغلي خادم په زيار راغونډ شوي دي او د پښتو ادب مينانو ته د سوغات په توګه وړاندې کېږي، هغه ګلونه دي چه پښتنو د پخوا نيو شاعرانو د زړه په وينو روزلي شوي دي.

ښه ګه چه تراوسه پوري د پښتو ژبې په ادبياتو کښې داسې يو جامع منتخبات نه و، او ښاغلي خادم (چه د پښتو يو پياوړی اديب دی) په دې کارګوتې پوري کړې او بريالی شوی دی، نو پښتو ټولنه داخپله وظيفه ګڼي چه ددې فاضل دا دستايلو وړ خدمت وستايي او په دې انتخاب ده ته تبريك ووايي او هم په دې ګلونو سره د هغو پردېسانو روح ښاد اوياد کړي چه دوی به د خوازه وطن په بېلتون کښې ويل:

قاصدان له روهه نه راځي مدت شو
سلام باد را رسوی منت ئې تم دی

او له خدايه غواړي چه داسې ډېر آثار پښتنو ته وړاندې کړي.

(عبد الرؤف «بېنوا»)
د پښتو ټولنې عمومي مدير

ketabton.com - The Digital Library

# تهدیه

زه دا درنګ رنګ تا زه ګلونو دسته هغه چاته په مخکښې ږدم چه تر هر چا اوتر څه دروه په ګـلانو مین دی !

دشا هانو ور کړه لعلو چواهر وی          دادب دخاوندانو ؛دزړه وینې

« خادم »

ketabton.com - The Digital Library

# بسم الله الرحمن الرحیم

داوې ښښتن حمداوثنا وايو . او دده په هغه ستاینې چه تر ټولو غوره دی ؛ او په آل اولادئی ، درود لېږو او ددې شکر کوو چه په لږه موده کښې مونږ دخپل ملت (پښتو اوپښتو نولی) په خدمت کښې «چه زمونږ دمشرانو او خصوصاً دګران ټولواک اعلیحضرت محمد ظاهرشاه رضامندی هم په دې کښې ده»
څومره چه کېدی شوه دهغې نه ډېر کامیاب شو . یعنی په کوم وخت کښې دپښتو خدمتګارانو زیات آثار و لیکل؛ چه لږه دغو څخه چاپ شوی دی ؛ او ډېر لا پاتې دی په فرصت کښې به چاپېږی او دذوق خاوندانو ته به وړاندی کېږی .

یوله دغو آثارو څخه چه دپښتو په ادب کښې ورته ډېره اړتیا لیدی شوه دا کتاب دی چه د «روهي ګلونو» په نامه نن له چاپه راووت . دا کتاب دډېرو پخوانو هغو شاعرانو دا شعارو انتخاب دی ، چه نن یې آثار ډېر لږ کېږی . دا اشعار او ددغو شعراؤ دیوانونه ما په ډېر کوښښ پیدا کړیدی . او په ډېر زحمت سره مې تری دا مجموعه جوړه کړېده ؛ چه په خپل ډول او ترتیب کښې دنورو ژبو دیوې ، انتخابا تو ته هم نده ورته .

او داله دې کبله چه دپښتو شعراو ادب ځانته روح او ځانته لاری لری . مادغه روح او دغه اسلوب په نظر کښې نیولی دی ؛ او هغسی مې د کتاب دترتیب نقشه جوړه کړېده . اوبیا مې دا کتاب لیکلی دی ددې کتاب په ترتیب کښې نوې خبره داده چه دتهجی تورو یا در دیف او قافیې په لحاظ ندی ترتیب شوی بلکه په ترتیب کښې موضوع او معنی ته زیات اهمیت ورکړی شوی دی ، نوهر څومره چه دا مجموعه یوه ادبی مجموعه ده ؛ او دا دادب اوشعر دنزاکتو او شاهکار یو څخه ډکه ده ؛ هغو مره دژوند او زندګې داسرارو خزانه هم ده !

په دغه شان سره دپخوانو کلاسیکی شعراؤ شعر په شپږو بابونو وېشل شویدی چه په هرباب کښې فصلونه دی ؛ اوپه فصلونو کښې هم ځانته ځانته عنوانونه دی . او دهر عنوان لاندی د مختلفو شاعرانو اشعار لیکلی شویدی . امید دی چه دقدردانانو په نزد به زما دا خواری ځای و نیسی؛ او په درنه سترګه به ورته وګوری !

کابل - تسندوز سازی - قیام الدین خادم

# لومړی باب

## مینه او محبت

لویه خدایه ، لویه خدایه !    ستا په مینه په هر ځایه
غر ولاړ دی درناوی کښېږي    تو له ژوی په ځاری کښېږي
د لته دی د غرو لمنی    ژمونږ کنړدی دی پکښېږي پلنی

داو ګړی ډېر کړی خدایه !
لویه خدایه ، لویه خدایه !

دلته لنړ ژمو ږ اور بل دی    وړه کور ګی دی، ووړه بور جل دی
مینه ستا کښېږي مونږ مېشته یو    د بل چا په مله تله نه یو
هسك او ځمکه نغښته ستا ده    د مېهړ وو ده له تا ده

دا یا لنه ستا ده خدایه !
لویه خدایه ، لویه خدایه !

« بیټ بابا »

❀ ❀ ❀

پر لویو غرو هم په دښتو کښېږي    په لوی سهار په نیموشپو کښېږي
په غاړه ژغ او په شپېلکو کښېږي    یاد وېر ژ لیو په شپېلو کښېږي

تول ستا دیاد ناري سوري دی!
دستا د مینې ننداري دی !

جنډی زرغون که په بېدیا دی    د بر بڼ خواته په خندا دی
ترناك چه خردی په ژړا دی    دا ټول اغېز د مینې ستا دی

ټوله ښکلي دی ستا له لاسه
ای دیا سوالو یا سه یا سه !

که نمر روښانه مخ یې سپین دی    یا دسپوږ میه تندی وربن دی
که غر دی ښکلی پر تمین دی    لکه هنداره مخ یې سپین دی

ستا دښکلا د ا پلو شه ده
دا یې یو سپکه ننداره د ه

---

لغات : هسك آسمان . مېشته : ډېره . ځاري : عجز . جنډی : ګل . ترناك : دیورود نوم دی .

دلته لوی غرونه زرغونېږي      درونه وږمې پکښې چلېږي
بوراوې شا وخوا کړېږي      سترگی لیدو ته یې هېښېږي
لویه خاونده دا ټوله ته یې
تل دنړۍ په ښکلېده یې

خاونده! ښکلی ستا جمال دی      ښکاره یې لور په لور کمال دی
که ورځ که شپه که پېړۍ کال دی      ستا دقدرت کمکی مثال دی
ستا د لور ونو یوه رڼا ده
دلته چه جوړه تماشا ده

زړه مې داستا دمینې کور دی      سوی دعشق په سوځندا ور دی
رب یې وتاته په هر لور دی      بېله دې هېڅ دی ورک یې پلور دی
ستا دجمال په لید و ښاد دی
که نه وی دغه نور بر باد دی

په غرو کښې ستادعشق شپېلکی دی      ددې نړۍ په عشق سمی دی
که غټ که وړ که پنډ نری دی      ستا د جمال ځری هر شی دی
چه پر دنیا مې ستر گی پرې شوې
ستا دجمال په ننداری شوې

نه هست نه مځکه وه تور تم وُ      تیاره خپره وه ټول عدم وُ
نه دا ابلیس نه نبی آدم وُ      ستا د جمال سو چه پر تم وُ
چه شو ښکاره ښکلی دنیا شوه
دپنځ پر لوری یې رڼا شوه

زه چه څر گند پردې دنیا شوم      د ښکلی مخ په تماشا شوم
ستا پر جمال باندی شیدا شوم      له خپلی ستنی را جلا شوم
په ژړا ژړام چه بېلتون دی
یمه پردیسی بل مې تون دی

وگړیو، ولې «متی» ژاړی      سورې یې اوری غاړې غاړی
څه غواړی، څه وایی، څه باړی      خپل تون او کورو کلی غواړی
چونېی چه بېل شی نیمه خواشی
تل یې دبڼ په لور ژړا شی

« شیخ متی : کلات بابا »

❀ ❀ ❀

---

لغات ـ هېښ : حیران ، تون : ځای ، چونبی : بلبل ، بڼ : باغ

الهی ! د محبت سو زو گداز را
تن پرور بلبل دې عیش کاندی پر گلو
که مې نزموې به ویاړ دوزو ستر گو
چه نظر له ناتوانی وچا ته نه کا
چه مې نوی سر کوزی چاته بې ښکلیو
اضطراب د حرص مې کړي له زړه گی لري
که مې نه فاشوي سرزید و عمر تـه
خو بـه گورم د قیامت و ورځو شپو ته

چه خپل بر گټ په آب د چرخ نکرم سر سبز
چه مدام وی په چشمه د آفتاب ولـی
چه کباب یې په گرمی ، زما ځیگر شی

چه بلبل یې و دیدن تـه انتظار کا
کـه مې نه محتاجوي د صبا باد تـه
سرخرو یې زما نصیب لـکه لاله کړه

په اوبو کښې یې د کاملی گوټ پیدا کړ
پـه سجود یې مځکې سردی لگولی

الله مې رب دی زه یې مربوب یـم
غرق پـه اوبو کښې کله اوبه وینی

د ده پـه حکم با لا پستی شی
نـه تل بهار وی نـه تل خزان وی

چه زما په چمن راشی گستاخی کا
چه آزاد ه د منکر تر سره پر بوځی
چه کشور د افغانانو معطر شی
الـهی ! د خپل حبیب لـه بر کتـه

په داور کښې دستی(۱) سمند رسازرا
پروانـه لره پـه اور زما گداز را
می د عیش په میخانه کښې د مجازرا
د هغو بیمارو ستر گو نازو نیاز را
لـه دولت د عشقه هسی کبرو ناز را
قناعت قوی لنگر ددې جهاز را
خپل زانو لکه نرگس محرم راز را
دا انجام په دم قدم کښې د آغاز را
«عبدالمجید مهمند»

د همت علو پشان د کهکشان را
د سحر پشان درست عمرسپین دامان را
دلاله غوندی په جام مئی جوشان را
کاظم خان «شیدا»

تن و ماوتـه گلشن د هغه باغ را
بوی د یار د تورو زلفو په دماغ را
پر سینـه لـه محبتـه هسی داغ را
«شمس الدین کاکړ»

ده ور کړی پکښې اورلره مکان دی
هم یې زوړند په رکوع سره آسمان دی
«عبدالرحمن مهمند»

بنده دده یم کـه خوب نا خوب یـم
نعمت یې نه وینم پـه نعمت ډوب یم
«عبدالقادر خټك»

مستی خمار شی خمار مستی شی
هستی نیستی لری ، نیستی هستی شی
«خوشحال خټك»

د شبنم په شېر یې عمر یوزمان کړي !
د فلك په شېر مې توره د زبان کړی !
د هر بیت مصرع مې زلفې د خوبانکړی !
دا : ساده انشار نگینه د رحمان کړي !
«عبدالرحمن مهمند»

(۱) په اکثرو نسخو کښې د (ستی) پځای (سهی) لیکلی شویدی ؛ خو مونږ یې په معنی نیوهېږو «خادم»

روغی گلونه (۵۲۵) ب سردار محمد : ح سراج الدین : ر محمد امین : ن محمد نعیم ؛ ه اجرائیه پښتو ټولنه لیل ۱۸ : ۸-۳۰-۴ع

ketabton.com - The Digital Library



الهي د مينې درد را ... کرم دل آهو نه سر درا
خلاص کړه ما له بې دردۍ ... له دې هسې د لسر دی
زړه په شان د غنچې را کړه ... آتشی زما مينا کړه

«کاظم خان شيدا»

پر هر چا چه حق ياد نشي ناتمام دی ... پر کاغذ اول دده بنا م.قلم ږده

«دوات لوانی»

## ب : داستاځی په مينه

که رڼا ده پيروی د محمد ده ... ګنه نشته په جهان بله رڼا

«عبدالرحمن مهمند»

ړندي ستر ګې چه دزړه مې بري بيناشوې ... يم پيدېن د محمد آخر زمان خوبن

«عبدالعظيم رانيزی»

توره تاريکی تو له لدې جهانه لاړه ... نور دپاك رسول چه په جهان کښې شه پيدا

«ميانعيم متی زی»

ما مختار يکښې مذهب د حنيفه کړ ... چه مختار ؤخود يه ستورو کښې مهتاب

«پير محمد کاکړ»

راغلم ووجود ته د حبيب له بر کته ... شوم لکه ذره هسې په نمرسره اظهار

«پير محمد کاکړ»

توره تاريکی تو له له دې جهانه لاړه ... نور دپاك رسول چه په جهان کښې شو پيدا

«ميانعيم متی زی»

په زر گونو انبيا تر دنيا تېر شو ... محمد غوندې بل نه ؤ پيغمبر هيڅ

«دولت»

## ج : عشق . . . ؟

هسې پټ ګرځم دا زير رخسار له خلقو ... لکه زر چه خوك له خلقو پټ پنهم ږدی
راحت نه دی بې زحمته چا موندلی ... کوم طبيب دی چه په روغ صورت ملهم ږدی
زه هر ګوره خيل صنم پورې شرميږم ... برهمن چه سر په پښو دخپل صنم ږدی
وآسمان ته لاس د عقل نه رسيږی ... داخو عشق دی چه په عرش کرسی قدم ږدی

«عبدالرحمان مهمند»

که د سربندل دشوار په ما و تا دی
اندېښنه سړی بېدار کاندې لـه خوبه

دا په عشق کښې سهل کاردې دشوار ندی
کم اندیشه که بیدار دی بیدار نـدی
«عبدالرحمان مهمند»

که په کاردې د سرو شونډو شیرینی وی
درحمان په عاشقی کښې سترګې وشوې

د خپل ځان په وینو سو رلکه انار شه
خوك چه وایی عاشق ړوند دی هغه خوار شه
«عبدالرحمان مهمند»

عشق د نـفس لـه خاصیته منـزه دی

کاردستر ګو به خوك څرنګ پدهانـکـا
« عبدالرحمان مهمند »

څه حکمت دیار په مینه کښې رب کېښود
دا باران نه دی چه اوری له آسمـانه

چه عاشق لره همدر د او همدوا شوه
د مر غانو په رحمان باندی ژړا شوه
«عبدالرحمان مهمند»

چه په زړه بـاندی زرداغونه جوړ شی

چه دیـار لـه داغه آه کـاښه ګر م دی
«خوشحـال ختـك»

زه تر عشق جار ېږم : تر هغو چه عاشقان دی
رایشی له کومه ځای په څوو کا په زړه کښې
هی دخدای دیاره تفحص رایسی مکړه

واړه عشق یکـار دی حقیقت دی که مجاز دی
هیڅ پری نه پوهیږم عشق یو څه سوزو ګداز دی
پلارته وایه نشي عشق یو هسی مخفی راز دی
« خوشحـال ختك »

عاشقـان دعشق له کاره انکـار نه کا

فاسقان به په خپل زړه کښې اری غلا
« خوشحـال ختك »

ځینی هـوس کـامینـه پـه بـاغ لـری
داد واړه ګرو هـه بوالهـو سـان دی

خوك می پـر ستـه حب دا یـاغ لـری
عـاشقـان مینه د زړه په داغ لری
« عبدالقـادر ختك »

لیونی غوندی دعشق په کـارو بـار کښې

دخپل ځان په سودو زیـان نه یم هر ګـز
« عبد الحمید مهمند »

که هرځـومې تند تېزه تـوسن دعقـل

عـاقبت شوپـه دنبـال د مینـی پـا تـی
« میـا نعیم متی زی »

دعشق یوسبق کـافی دی

نور ددرست جهـان دفتر هیـڅ
« صدرخان ختك »

عـاشـق ګـرم او شوقـی وی
چه دعشق پـه لاره درو می

زاهد سوړ بی حمیتـه
خالی ندی لـه تهمتـه
« دولت لوانی »

خام خاطر مې مشوش و په هجران کښې    چه تمام دعشق په اور وسو متین شو

«دولت لوانی»

معرفت ځنې پیدا شو    عشق د عقل پلارو مور دی

«مرزا خان انصا ری»

دغه عقل چه په عشق با ندې شیدا شو    دعر ب په مینه گو ره چه عجم مری

«مرزا خان انصاری»

وقبلې د عشق مخ د کل عالم دی    ودریاب ته ځی که سیل له هر جا پاځی

« مرزا حنان»

په هرداغ مې دخپل زړه هسې باوردی    چه په مرگ به راته شمع شی په گور کښ

« عبدالحمید مهمند»

که شهید نکړی خیل ځان دعشق په توره    نوش به کله جام دحوض کوثر نکړی

« عبدالعظیم را نیزی »

دسیماب په شان په لاس کښې نیوی نه شم    عشق را هسې کړ م هم نرم هم لطیف

آئینې غو ندی هر و لی هر نا و لی    شی مهمان ځما په کور کښې بی تکلیف

« شمس الدین کاکړ »

هر یو زړه چه شی پیدا غه بیکار نه دی    چه بی مهره شی بسرات هغه با طل دی

« مرزا حنان »

ته دعشق په لذتو نو خبر نه شوې    په سراب دځان مشغول کړ ، له دریابه

هغه چاری چه دعشق په جذبه کیږی    کله کیږی په لښکرو په افواج

« خوا جه محمد بنگښ »

جریده د عشق په لار ځم همراه نه لرم بې عشقه

بی ر فیقه ، بی پناه ځم ، پناه نه لرم بی عشقه

هرساعت چه بیلتون یاد کړم په خپردادو فریاد کړم

څکړم چاو ته فریاد کړم ، نیکخو اه نه لرم بی عشقه

مدام غوښې د زړه خورمه ، دزړه وینی به تل څښمه

څکړم څکړم چرته ځمه ، همراه نه لرم بی عشقه

معتقد یدا خیل رزق یم ، مبرا په زړه له فسق یم

واړه سرتر پا په عشق یم ، پو گاه نه لرم بی عشقه

دافقیر دولت نفسی یم ، و گناه ته هوسی هم

خدای مې بیامرزه عاصی یم ، گناه نه لرم بې عشقه

« دولت لوانی »

عشق دی دا که پوفساد دی نه پوهیږم    په جهان کښې چه داشورو شر پیداشه

بیا به روغ دعاشقی له رنځه نشی    په هر تن کښې چه د غه اثر پیدا شه

« عبدالرحمان مهمند »

ketabton.com - The Digital Library



باد شاهانو که قصرو نه کړه آباد ماد عشق عمارتونه کړه آ باد (۱)
نوم د کوم یوه بادشاه هسې یادېږی لکه نوم دی دمجنون او د فرهاد
عشق عاشق لره یوهسې پیر استاددی چه به نه دی بل دا هسې پیر استا د
دغه واړه کرامت د عاشقی د ی چه څوك غوث کاندی، څوك قطب څوك اوتاد
« عبدالرحمان مهمند »

د رحمان شر ا ب ا.ه عشقه نه ا نګو ر (۲) نه لـه عنبه
« عبدالرحمان مهمند »

عاشقی ده خدای له اوره پیدا کړی چه په اور کښې یې وطن وی څه به خوب کا
« عبدالرحمان مهمند »

مدام ناست یم وچ کو ګل ستر ګی په نم کښې عشق راوښود بحروبر په خپل حرم کښې
« عبدالرحمان مهمند »

دا یو څرنګه ژوندون دی نه پوهېږم خواب وخیال دی که افسون دی نه پوهېږم
دېښنګ او د بلبل ترمینځ حیران یم مخ دې اوردی که ګلګون دی نه پوهېږم
عشق په هسې رنګ مقام باندی قائم کړم چه وصال دی که بېلتون دی نه پوهېږم
د رحمان څېره یې زېړه زعفرانی کړه خدای زده عشق دی که طاعون دی نه پوهېږم
« عبدالرحمان مهمند »

خودځر ګندوی لکه صبح په جهان کښې هر ګېږوان چه په یاری، کښې دریده شی
بی مطلوبه بی هیڅ فهم په چا نه وی هر طالب چه په طلب کښې فهمیده شی
یا به قند یا به نبات او یا به شهد وی هر کـلام چه لـه رحما نه شنیده شی
« عبدالرحمان مهمند »

سر اومال مې شو تالا په تور د عشق لامې ندی لاړ له سره شور د عشق
« عبدالقادر خټك »

چه د عقل په تدبیر مې عاشقی کړه پوهېد لی په تدبیر وم د د بیر کېچ
هیڅ مدد له عقله مه غواړه په عشق کښې د دغه طبیب دارو لری تا ثیر کېچ
راهبران دعقل واړه رهزنا ن د ی لنړ د عشق له لاری مه بیا یه بهر کېچ
« عبدالحمید مهمند »

په هر ځای کښې ناست ولاړ زانګم له غمه مینی مخ راته د ځمکی ګهواره کړ
« عبدالحمید مهمند »

ته چه ما له عشقه اړ وی ژ صحه ا دا عبث دی پول د سحر په دریا زدی
« شمس الدین کاکړ »

عشق دعقل پـه تـد بیر چـلاوه نشی په دې ناوې نه جوړېږی پسول د چـا
« عبدالحمید مهمند »

---

(۱) په مجنو نسخو کښې (بنیاد) راغلی دی (۲) دانګور په ځای که (خورما) وای، ښه به وای «خادم»

داجهان دی خدای له عشقه پیدا کړی — د جمله ؤ مخلوقاتو پلار دی دا
تر عشق غوره بل څه کار په دنیا نشته — ترهمه کارو نو غوره کار دی دا
« عبدالرحمان مهمند »

بل به هسې سرګردان په جهان نه وی — یا عاشق دی یا آسمان دی یا آسیا
ته چه ژ غورې سرومال په عاشقی کښې — عاشقی دا هسې کله ده ویړیا
چه یې کسب عاشقی ده د دلبرو — نظر نه کاندی په کسب د کیمیا
« عبدالرحمان مهمند »

بېدردان دعشق له درده خبر نه شول — براهیم ځکه منت بار دا هل درد یم
« ابراهیم »

هیڅ می نزده محبت که اور دی دا — په اور سوزم په رضا که زور دی دا
چه په تله د سرو مال راځخه نه ځی — واقعی د تورو ستر ګو تور دی دا
چه یې زه له بله غمه په امان کړم — دعشق غم دی که زما غمخور دی دا
چه می ولیدو «حمید» دعشق په کار کښې — لیونی د مجنون کشر و رور دی دا
« عبدالحمید مهمند »

یاد شکلیو دیا ولیو شرنګها ر دی — یا د عشق د لیونیو د ز نځیر
« عبدالحمید مهمند »

بی رهبره یون دعشق په لاره ګران دی — دلیه بویه چه پیدا کاندی رهبر څوك
« عبدالرحمان مهمند »

خپله مینه یې رهبر پیر کامل دی — عاشقان ځکه طلب دبل پیر نه کا
« مطیع الله پیرخیل »

آرام زړه په عشق کښې نشته سرله سره — خوب محال په هغه ځکه چه توده شی
« عبدالله پوپلزی »

چه اثر د مینې نه وی باندې شوی — هغه زړونه ګویا کانې د بیدیا دی
« ملا جمعه »

# غزلیات

که خوك یار په جهان غواړي یار دی دا    یار دی دا که دجهان ستمگار دی دا
خیال دز افو یې زما لـه زړه چا پـېـر شو    که تر گـنجه چا پـېر شوی مار دی دا
دا جهان دی خدا ی له عشقه پـیـدا کـړی    د جملو ؤ مخلو قا تـو پـلا ر دی دا
تر عشق غـو ره بل څه کار په دنیا نشتـه    تر هـمه کـا رونو غـو ره کـار دی دا
بل بـلبـل بـه د گـل نـوم ا خستـی نـه ؤ    که خبروی چه گـل نه دی خار دی دا
بیـا را تلـه و دی جهان ته بل وار نشتـه    بل وار نشته بل وار نشته وار دی دا
د حباب عمـر دي و گـو ری چـه څـه دی    که څوك شمار کـاندی دعمرشماردی دا
د مجنون صورت به زده کړه رحمان گوره    ستا په عشق کښې همـی خوار زاردی دا

« عبد الرحمن مهمند »

چـه یـې و لیـدو ستـا حسـن بـېـحسا ب    له دي قصد ه تـاو پیدا شو د آفتاب
په آرزو یې دنر گس ستر گی څلور شو ي    غنچه سره دزړه په وینو شوه غرقاب
ستاپه غم‌می دوا ړه ستر گي سري ناغي شوي    که خیمی د ی سیاه پوښي سره طناب
که دي زلفي په مخ پیچ وتاب شوي ښایی    وبښته څه طـا قت لر ی د اور له تاب
در حمان بخت بـه هلـه له خوبـه ویـښ شی    که ستر گي ورته بورته کړي له خواب

« عبدالرحمن مهمند »

کـه سـاقی تـلـخـه با ده در یا ی شور کـا    د فلـك به جام به مست کله مخمور کـا
آرا سته وی تل محـفل د خنـد ه ر و یـو    زمانه‌به د گـل جام څر نگک نسکور کـا
چه‌په لاس کښې یې‌تل چوب لـکه شانه وی    بی افسونه به نیو ل د تور منگور کـا
د لتنگی کـړم لـکـه گـل بـه خنـدا ور کـه    کـه می بل دصبا باد به خونه او ر کـا
چه په سریې سبز آسمان زری دستار زدی    عا قبت یې لـکه شمع بیـا سر تور کـا
لـکه گـل کـړی گـران بـار تـر دا منـنی    باد دي څه لـکه غبار‌په کتف سور کـا

« کـاظم خان شیدا»

کـه ښکـا ره زما خا طر د لاله داغ کـا    په زړابه ستر گي سري د گـلو باغ کـا
د حباب غو نـد ي مي ډك بـه آه سرد کړ    څوك زما‌به گوربه بل څر نگک چراغ کـا
افرو ختـه یو و ی محـفل بـه شان دشمـع    چه سوخته دبل‌په کـار کښې‌خپل‌دماغ کـا
د کر دش نـو بت یی هېـڅ به ما د ا نشی    که سا قی د ز ماني ، فلـك ا یاغ کـا
ز نگک که هر کـله «شیدا» دتیغ جوهر خوری    دمگس به بال به څر نـگک استفراغ کـا

« کـاظم خان شیدا»

چـه مـی ولیـد ه ا بـرو بـه مخ دیار کـج    له تعظیمه ور ته زه شوم په تـلوار کج
کنږي ورو ځی گوڼ با نه کنږي یی ز لفی    منا سب دی له کنږو سره رفتـار کـج
مار به دا سبب مـد ام کـمر قتـا ری کـا    چه یی ولید ه دا ستا د زلفو مار کج

هسې ژړا ځلې اتر له همنشینه
چه معما رې اول ښځته کړه کښېښې دی
ژړبه وا چوی یار دار چار پای په ښا کښې
هېڅ جواب د پېغام نه را ځی دیار ره

خوږ ژوندون راپوري هسې کړهجران تریخ
نو خطان چه د عاشق له ژړا بد وړی
په وصلت کښې له رقیبه نه خلا صېږم
مې حرام دی په مجلس کښې چه یار نه دی
چه مې نوم ستا د هجران په ژبه وا خیست
که فرهاد ته شیرین غم د شیرینی دی

چه مې یار ولید په سینه د اغیار ګډ
د غه حق د بلبلا نو په جا نب دی
په امید د زلفو و نښتم په دام کښې
ددیدن په ګدائی کښې مې ننګ نه شی
د وفا د ګلو پا نی پکښې نشته
زه رحمان ئې د فردوس له غمه خلاص کړم

دا تور خط را غی په مخ د ګلعذار
سپین رخساري په تور خط کښې هسې پټ شو
زما نه به بی سپین مخ دا هسی تور کا
هر کارسازن په خپل کار کښې درمانده دی

او ښو د فراق دستر ګو خواب را خښه یووړ
رنګ په رنګ ژړا کړم لکه نی دیار لغمه
نه مې را برسېره کړ ګوهر دعشق له بحره
تل چه یې هوس کاندی سره لاس وخونریزی ته
یوطرف ساقی شو بل طرف شو جام دمیو
وا چولم یار د جدائی په سره دیګ کښې
هېڅ یې نظرونه کړ زمتا وخاکسارۍ ته
سینه خوله دیار چه په خواست زه شمس الدین غوا ړم

په سبب د کنځې پښې شي‌سم بازار کږ
بیا ترسره پوری ځی هغه دیوار کږ
که یې یو ځله ځوك وځکوی مهار کږ
پسی زما شوه تورلیمه په انتظار کږ
« شمس الدین کاکړ »

لکه حال وی پربند یانورد زندان تریخ
پرسبزه باندې نا وخته وی باران تریخ
پرموسم د ګل اوقات شی دباغبان تریخ
بی له ګله وبلبل ته شی بوستان تریخ
لا تر او سه مې په هغه دی دهان تریخ
داستا غم کړ شیرین عمر پرحنان تریخ
« د مرزا حنان »

له غیرته می لیمه شوه په خو نبار ګډ
خدای دنه کا منګیر کړې په لاله زار ګډ
رو هیلی وم ساده دل په هندو یار ګډ
د رویز ګریم د بتا نو په با زار ګډ
کاشکی نه وی زه ددهر په ګلذار ګډ
چه په کلی په کوڅه شوم د خپل یار ګډ
« عبدالرحمن مهمند »

که غا لب شوه په کشمیر باندی کفار
لکه پته چه معنی وی په اشعار
چه غرض اری د بل په کا رو بار
اوبه کله وډای شی ګرځ دخپل رخسار
« شمس الدین کاکړ »

کور زما دصبر دې سیلاب را ښځه یووړ
زړه مې په یوه نفس احباب را ښځه یووړ
زیات یې لاآرام لکه حباب را ښځه یووړ
سرې دهغو ستر ګو قصاب را ښځه یووړ
عقل یې له میانه په شراب را ښځه یووړ
روح یې زماد ځان لکه ګلاب را ښځه یووړ
زړه مې سیا چشمو په شتاب را ښځه یووړ
خواست دهرې ورځې دمخ آب را ښځه یووړ
« شمس الدین کاکړ »

ketabton.com - The Digital Library



زما زړه گوره چا یووړ / په دوه زلفو لیلی یووړ
ځکه دی شوبې ارامه / چه د زلفو بلا یووړ
چه په خپل قوت غره وم / زړه قوت په تالا یووړ
دا کتاب زما دسترگو / سیلا بو د ژړا یووړ
خه بازار چه مې د زړه ؤ / ...ن ستاحسن په غلا یووړ
حسن باج ؤ چا ورنکړ / ده جهان په یغما یووړ
ما ویل چه مینه نه کړم / زړه بېوا که شهبا یووړ
قراری دزړه مې نشته / بېقرار زلفو ستا یووړ
داتمام عالم ښادی کا / احمد غم د اشنا یووړ «احمدشاه ابدالی»

ستا د زلفو خیال چه زه افګار ساتم همیش / هسې په سینه کښې ګویا مارساتم همیش
زلفې دې سنبل مخ د ګلاب سترګې نرګس دی / زه بانديِ باغبان یم داګلزار ساتم همیش
داله تلو سې نه چه پر قلب مې پېرزو نه شي / ځکه په ځګر کښې ستا ازار ساتم همیش
خلق زهیر بېزي چه مجلس لره ور دروم / پس له دي به زه نور ځان کنارساتم همیش
عکس د رخسار چه دي زما په زړه کښې ګرزی / زه په خپل ځګر کښې سورا نګارساتم همیش
زړه مې ستا له غمه همېشه آه و فغان کا / زه په خپل وجود کښې دابیمار ساتم همیش
سترګې مې څلورشی ستا پر خواچه وعده وکړي / زه حنان له غیرو داستالار ساتم همیش
« مرزا حنان »

خط به مخ دصنم راغی که سپوږمۍ شوه په هاله کښې / دا یې غابږ په خوله کښې زیب کاکه ژاله شوه په لاله کښې
هسې رنګ سحروجادو کا په نظر د شهلا سترګو / نه یې سیال په هند کښې شته دی نه ثانی په بنګاله کښې
لکه ونهلې مرغۍ په سست دام د سلو لومو / هسې زه پر پښانو زلفو کښې یستم په کشاله کښې
دازما له غمه شپې زړه یکښې خیال د یار دلبو / هسې رنګ زیب وزینت کا لکه مې په شنه پیاله کښې
ما ویل عین ګل ګل دی دغنچې په لمن لښتې / که مې کوټ یو ګل اندام وپروت په سبزه دوشاله کښې
شکلې مخ کا ولې ناسته، په مجلس د رقیبانو / په جوار دسپو کښې نه وی هیڅ ارام په غزاله کې
سرتر پایه تیغ دهجر لکه نی سوری سوری کړم / ځکه یم مدام داهسې په فریادو په ناله کښې
که یار غوا دي هومره ژاړه خودرځی عبدالحمیده! / دایه دا چه درموندم شی په دریاب ته په ناله کښې
« عبدالحمید مهمند »

زه داهسې دیوا نه او مجنون چا کړم / له رواج او له رسومه بیرون چا کړم
نه پوهېږم چه داهسې چاري څوک کا / لیونی د خپل نګاه په افسون چا کړم
کومې سترګې کوم بانړه کومه غمزه ده / دوب شهید غوندې په خاکې او په خون چا کړم
توان توفیق چه دفتنو را خخه نه ؤ / په فتنې د تورو سترګو مفتون جا کړم
رحمان هیڅ له خپله ځانه خبر نه یم / چه دا هسې رنګ زبون او محزون چا کړم
« عبدالرحمان مهمند »

زه دیار په دردوغم کښې شاد مان یم / لکه ګل دبر پښانۍ په وخت خندان یم
نه زما و بېکسی ته نظر مه کړه / خدای ساتلی لکه ګنج په بیا بان یم
لکه ونه د ځنګل په میوه پوره / په ویرا نه ویرا نی، کښې ابادان یم
پوه بنتـه مې دصورت بی عشقه نه دی / څو کیدار په هر نفس دخپل کار وان یم

دو صال مارغه داو ښو دا نه را کړه      لکه لعل ودر په غاړه د خوبان یم
د کاملي عقیدي له بره کته      دروهی په غاړه ناست شاه جهان یم
روښناني مي په طلب کښي شوه حاصله      ښه اوورو لکه آفتاب په لار روان یم
چه صفت دتو رو زلفو د اشنا کړم      بلي ، سر په لو یه لار د هندوستان یم
بی مینه می هیڅ حال د صورت نشته      لکه بي مال ومتاعه تش د کان یم
دهوس بلبل ویسا را با ندي نه کا      دافلاس په کبل بـو ته‌ی د خزان یم
دلبرانو ته خاك تر تلـی لا نـدي      د دي نور جهان په سر لکه اسمان یم
چه دیار په دیدن سرو مال ښندمه      خلقو واوری زه هغه عبدالرحمان یم
«عبدالرحمان مهمند»

زه‌دیار په‌درو غم کښی غرقاب خوښ یم      په دااور کښي بیطاقته بیتاب خوښ یم
تر دا بوچی گفتگوی چه زه یی اورم      په نغمه په ترانه د رباب خوښ یم
چه دیار دخط وخال ښی پکښي وی      زوړ ند سر په مطالعه د کتاب خوښ یم
د ریا تر نا قبو له عبا د ته      دساقی په میو مست او خراب خوښ یم
چه نه علم نه تسبیح نه تلا وت وی      له‌دي هسي بیداری‌نه په خواب خوښ یم
دطوبی دونی سوری مي خوښ نه دی      ستا دمخ په لمبو سوی کباب خوښ یم
خاموشی که هر خو لو یه مرتبه ده      زه دیار سره په سوال وجوب خوښ یم
دیار دهري غمخوری یم عاجز کړی      رحمان‌ځکه په‌خوردن دشراب خوښ یم
«عبدالرحمان مهمند»

خوك چه بد راسره کا ورسره ښه‌یم      هم په دا ښو دبد انو تـو ز لپـمه یـم
له‌هغو مي‌څه اندوه چه‌په خوی اوردی      په‌خپل خوی کښي سوړ اونرم تراوبه یم
چه وماته وزما عیب پښکښ را وړی      ددی هسی یار له خدا یه په غوښته یم
نور زما دی ، نار زما دنورو څه دی      دیتنگوغوندي مخ خیر دځان‌په سوه یم
په ایرو یې‌مخ سپیره شی‌چه نفاق کا      آینې غو ندي مخ سپینه تور په زړه یم
چیري نه وی چه به بل مخ وته گوری      په‌هجران کښي‌خوښ دستر گوپه واته یم
له نور چا کله گله عبد القادر کړم      زه‌خوار کړی خپلو ستر گویم خپل‌زړه یم
«عبدالقادر ختك»

مخ‌دي لکه‌نمر دي‌ورته ځیر کتلی نه‌شم      ځکه یي دمدحي ترعهدي وتلی نه شم
زړه یی‌راغلبیل کړ دهجران په ناو کیو      راز پکښي دیار د محبت سا تلی نه شم
اوس‌مي‌په‌معنو کښي ښه مین دستر گو کسی      کسی به د خلقو په ویـل ایستلی نه شم

زه یې د زنخ په څاه کښې بند لکه یوسف کړم
بند یې د حواس په پنجره زه عبدالقادر کړم

د خپل یار له مینې هسې دېوانه یم
که یې آهه یې ناڅې بې زغه سوزم
دخال خیال یې ما ضعیف لره کافي دی
چه یې خیال ساتم د سرولبو په زړه کښې

په جنت نه یم خوښ هر گز په درد یار مې قسم
زړه مې له تا وعده د نه وصل هر گز و نه لیده
پر وایه گل و یه خار نه کړم د جنون له قبضه
که مې سرو لاړ شي ستا په مینه لاخوشحاله یم زه
تور بخت مې و نه لیده هیڅ ستا د کنا کل شب قدر
ستا د گلگون رخساره شرقه زه حنان دا وینو

زه چه مین دیار پر مخ یم نوبهار څه کوم
چه وعده و کړې دعفتی ترمیان کړې تېر گلونه
رضا د ځان مې په رضا دخپل اشنا ور کړې
چه مې زړه وړی په منگوله هغه یار دی زما
که د وصال په هوا را شي یکشتنها دلبره

سپین رخسار دې وای سپین صبا شو قم
د صبا او د بیگا تر منځ حیران یم
سپیریندې غوندې قی کړی کوامې ناست یم
گنجینه شوم ستا د مینې له دو لته
چه میرا در سره نه وی قلندر ره !
قلندر په کومه پوزه لاړ شي صوات له
د میرا صاحب له جوره قلندر ره !

مغنی گوتې په ځیر ز دی په بم هم
ستا دعشق دغشي هسې ځای پرهار دی
ستا د زلفو مار چیچلی نه رغیږی
تاچه مخ ورته ښکاره کړو لیونی شو
هغه راز د محبت چه پټ له تا دی
دخوښۍ پیاله په لاس کښې نن زما ده

بې یې د زلفینو درسی ختلی نسه شم
زړه مې پر واز غواړی ولې الو تلی نه شم
«عبدالقادر خټك»

چه خبر نه یه کعبه یه بتخانه یم
پر څراغ د مخ یې هغه پروا نه یم
د مینې په دود قانع په لېز دانه یم
دا یه دا مدام د لعلو خزانه یم
« مرزا حنان »

خوښ په لذت یم دخوارۍ په اعتبار مې قسم
په نامیندگۍ د توري شپې دانتظار مې قسم
په سینه صافه آئینه د نو بهار مې قسم
په تېره تېغ داستاد جور جوهردار مې قسم
په تورو مینگو ستا دزلفو په هر تار مې قسم
گلان کړم هره گړۍ په لاله زار مې قسم
« مرزا حنان »

تماشه بې دیاره مخه د گلزار څه کوم
بې له وصاله نش دخوابې خالي اقرار څه کوم
دا که مې قول دیار په لاس دی خپل اختیار څه کوم
نور حسن داره بې له ده دقندهار څه کوم
نور منتونه زه جمعه به د دیار څه کوم
« جمعه بار گزی »

تور کاکل دې وای تورشپه د تم
نه پوهېږم چه عمر و کړم یه کم
دهجران لاس مې و کاږی زېروبم
اژ دهار را باندې گرزی دمبدم
تهچه صوات لره ورځې عذر دی کم
چه میرا یې همراه نه وی هوس کم
دا یو ، لاړو ، السلام علیکم
« قلندر »

هم ساقي شته هم بهار و صنم هم
چه ریښه پرې اینبوداې نشی مرهم هم
په ستا نوبه زیار تو نو په دم هم
پاس د غرو نو په سر گرزی په سم هم
زړه خبر ور ځنې نشو قلم هم
درد زحمت را څخه و تښتېده غم هم

په لذت دي دسروشرنلوو کوثر هيڅ کړ
د يوه لاس نقاره دا سی آواز کا
که ناستي ديار کوی په خاورو مو مې

د شبنم دا نه که تخم شی د ګلو
چه بی نشه لکه ګل ښه رخسارونه
حال دسوی طالع څه بيان کړم چاته
معطل په عارضه د شام غريب ندی
داسمان په شان يی تيز دفتنو تيغ کړ

پسرلی مي دخزان په تاتار تېر شو
اوس که ځان وهم که خاوري په سر اونم
لامې غټوړ ته په خير کښلي نه وو
لکه ډېر پری پيکر هم پری رو وو
وه ورځ به دا غنز و شی عايخا نه

بی له ياره راښکاره ژوندون ډيون شو
چه دعشق په مکتب ماده داستان اوست
دقلم په دود به چا که سينه ټوی کړم
دحسرت ګوتې به غاښ کړی طبيبانو

سور پېزوان دپه سروشونډو هسی زيب کا
دسرو ټيك دشهزاده په جبين پروت دی
دواړه ليچې دي وښکلي مصري نوري
ستاله غمه به ځان زړه در حمان سوزی

پارسائي يی د پارسا له لاسه يووړه
چه مي کړي وه توبه لهمی خواري،
معجزه چه د احياده په دوه لب يی
دلبرانو چه دعوی د دلبری کړه
را ته پاتي دا يوه مسلماني وه
ماوي زه به دعشق راز لرم پهزړه کښي
چه دزړه صبر ديار له سخه غوا ړم
که دنور و هوشياری په عشق کښي پس وړی

د حيات او به لا هم د زمزم هم
دا افسر کلا به ستا نه دی دم هم
باغ بهار د سکندر دی ارم هم
« سکندر خان خټك »

زړه به سوړ په ديدن نشی د بلبلو
څوك به څه کاتوري زلفي دسنبلو
لکه نمر زما جبين دی د داغلو
که مي زړه به حلقه بند شو د کاکلو
صبح و شام ګرزی ښکاره په سرو منګلو
« کاظم خان شيدا »

مالا ګل بوی کړی نه ؤ بهار تېر شو
په هيڅ رنګ په پېر ته نه رازی وار تېر شو
لکه برق رخشنده په تلوار تېر شو
هم هغه رنګه تېز روپړی وار تېر شو
چه فلا ني هم لکه ګرد و غبار تېر شو
« عليخان خټك »

اشتياق مي دزړه مرګ و ته افزون شو
هك حيران را ته فرهاد دوېم مجنون شو
د مرجان په طور روڼي مي لړون شو
له قانون اوله شفی رنځ بېرون شو
« صمد »

لکه جيم په قلم ښکلی کاتبانو
شينکی خال دي مححاسل په بند پوا نو
در پوهبزم سر به پرېکړي د خوارا نو
لکه شمعه په زيارت د شهيدانو
« عبدالرحمان مهمند »

دانائي ئی د دانا له لاسه يو وړه
په چشمانو يی زما له لاسه يو وړه
لاس يه لاس دمسيحا له لاسه يووړه
دا دعوی يی دهرچا له لاسه يووړه
دا مي هم هغه ترسا له لاسه يووړه
دا خبره مي ژړا له لاسه يووړه
محبت مي دا دعا له لاسه يو وړه
دخوشحال يی لا يه خوا له لاسه يووړه
« خوشحال خټك »

سنا د زړه سختي مې سر تر پایه و لید نه
سنګ په سینه دوږ کړی ستا له هسې سخته دله
نو ره دنیا نشته چه څه وه را څخه خلقه
وار په وار می واړه په دلبرو و ښند له
یار می هغه وخت وي چه په شیشه به سره ناست وو
شمعې به ژړا کړه صراحي به خند پد له
ګل چه شګفته شي عندلیب باندې ناري کا
نشته یو ه ښکلی چه ي و بو لم بد له
تل ګونه و هلی هر زمان ساړه اهو نه
ما چه عاشقي کړه خود په ما به دا کېدله
سري لمبې بې بلې دخوشحال خټك په زړه کړي
سور خت یې اغوستی په دا لاري تېر بدله
«خوشحال خټك»

مست یم مې پرست یم رندي کړمه کړمه کړمه
واوره محتسبه! باده خورمه خورمه خورمه!
نور شراب مې واړه تور عالم وته بخښلی
لام و ی مې محادلی یسې مرمه مرمه مرمه!
موږ به څښي نه شم زه د میو مستسقی یم
تل که هسې د کې پیالی چښمه چښمه چښمه!
لار د محبت زه تل به روغ سلامت نه وم
زه چه په دا هسې لاري تلمه تلمه تلمه!
څه وایې وماته حال دڅه‌ؤ په‌هجران کښې
نور خبر دار نه یم په‌زړه سومه سومه سومه!
خلق راته‌وایي رنګ‌دي پیاز یږ شو عاشق شوې
هیڅ منکری نکړم خلقه شومه شومه شومه!
دوردعاشق دادی‌چه په عشق کښې ملامت وی
څکه زه خوشحال ملامت وړمه وړمه وشړمه!
«خوشحال خټك»

توره چه تېر یېږی خو ګذاره اره کنه!
زلفی چه ول ول شی خو خپل یاره لره کنه!
ولی راته وایی چه په ښکلو نظر مکړه
سترګې چه پیدا دی خو دیدار لره کنه!
شیخ‌دي‌نمونځ روزه کازه‌به‌د کې پیالې اخلم
هر سری پیدا دی خپل خپل کار لره کنه!
تا وې چه زما د خولې بوسه اخله دا روده
غوا ړم دا دارو د زړه پر هار لره کنه!
وینې مې دزړه خوری مګر نور څه لره نه‌دی
زړه زما پیدا دی تا خونخواره لره کنه!
څه ژړا فریاد کړې دشپې د تورو زلفو
نور تلی پیخپله دی ښامار لره کنه!
خو د به ستا دمخه د ګیاه غوندې خر ګندشی
ګل دلاله را وړه خپل رخسار لره کنه!
مې شته چنګ‌ونې شته‌دخپل یار سره‌خوشحاله؟
خپل باغ په لاس کښې څه ګلزار لره کنه!
«خوشحال خټك»

لکه مخ زما د یار دی نمر خوهسې وی کنه!
لکه زه په عشق کښې زیریم زیږ خوهسې وی کنه!
دعالم دبري خبري اور به اوږ توري لښکر یې
زړه مې نه خولۍ له ځایه غر خوهسې وی کنه!
بې دعشق له شور وشره چه هر ګز زما له سره
نه‌ځی نور څه هر څه دروم‌ی سر خوهسې وی کنه!
چه بې ریبم عمل لا کا چه بې ورك کړی ځان یېد کا
ورځ دشپه داهسې کر کړم کر خوهسې وی کنه!
تاوې دروه‌لوم‌مې زبر کړه بل سبق له‌زړه‌بدر کړه
تل مې نه‌یی په‌خاطر کښې زبر خوهسې وی کنه!
وهغه ته‌مې سر کوزدی چه‌معلوم ورته رموزدی
په خبره نه پوهیږی خر خو هسې وی کنه!
چه آزاد مرې ورد رومی خپل مرادو رځنی مومی
په هیڅ‌ځا نه‌دی تړلی ور خو هسې وی کنه!
په‌یوه زمان ته یاردورشی راشی څو ګذاره
دخوشحال خاطر تېر بردی پر خو هسې وی کنه!
«خوشحال خټك»

د وفا خبر پیدا ران دی بل خوا دروغ‌مي
مگر ځان وسپاري خدای ته به امان شي
هغه یار به زه و ګرمي خواته غوا‌ړم
دلبران که هر څو ډیر دی په جهان کښي
چه هم قد لري هم زلفې هم سري شونډي
عشق عاشق لره یو هسي ګلستان دی
که مجنون غوندي په عشق کښي څوک صادق شي
دا نایاب به د رحمان په قال یوهېږي

ستا به مخ کښي چه حساب د جمال نشته
ته د سرود مال وېره په ما مکړه
روښنائي مي د چشمانو ستا دیدن دی
په جو یېار زما دستر ګو سروته یې
مخ دي بې له خط و خاله هسي زیب کا
ستا په یادو کښي رحمان هسي مشغول دی

ګنج و عقل زار شه د عاشق د خاخکي او ښي
تیغ دیار له لاسه به مري د عاشقانو
خدای لره به ورسم په سودا دیار له مخه
څه که زاهد زهد کا دي و جنت د پاره
ګوره د منصور هسي به دار نه شي رحمانه

په ګلونو اواز ورو کړه بلبله !
عقل و هوښ عزیز تر هر څه ښندل نه شي
خدای دي ه کاچېري چوخ بې دي په بېهوشي
و مطرب ته مینا وا یې وایه و ایه !
صدقه یې هم تر پسل عبدالقادر شه

وینځه که اصیله وي که توره وي که سپینه
شهد که څه نبات دی که شته شیریني نوري
خیال یې د زلفینو لکه مار و ربا ندي پروت دی
سل زخمه که و خوري توي به یو څاڅکي پري نو لخي
خوب به یې بدل په بیداري خوښي پري و پر شي
یار به هوا دندي که د زړه مینه پیدا کړي !
څه عبدالقادره ! په خوله مینه مینه وایي

دا متاع د زمانې په دکان نشته
کینه بېل خواته د هیچا امان نشته
چه یې هیڅېر یې منزل او مکان نشته
زما یار غوندي د نبر په جهان نشته
دغه هسي رنګ آفتاب په آسمان نشته
چه و باغ و ته یې لار د خزان نشته
د لیلی په دروازه کښي دربان نشته
دا ته کار د هر نااهل و نادان نشته
«عبدالرحمان مهمند»

چه که ما څخه د صبر مجال نشته
و وېره ما څخه د سر او د مال نشته
په دا کور کښي بل چراغ او مثال نشته
په دا نهر باندې بل څه نهال نشته
چه یې هیڅ حاجت په خط و په خال نشته
چه په زړه کښي یې نور هیڅ غم و خیال نشته
«عبدالرحمان مهمند»

نه خر وار د عقل سه د عشق یوه دانه
هسي لذت کا لکه د میو پیمانه
بل مقصود مي نشته په کعبه په بتخانه
سر ښند لي نه شي په ور بل د جانانه
مکړه دا د عشق خبري مي ستا رندانه
«عبدالرحمن مهمند»

پر ښیا نه ېږي ستا د شوره له غلغله
ته یو څه رنګه ډېر ګران یې د مل جله !
قدم ورو زده دراېلاو په ګل ګله !
دا معناني پیدا کېږي له قلقه !
څه قدرت لري چه واېي اه دل دله !
«عبدالقادر خټک»

کښلي شي له حور و چه پري ورشي د زړه مینه
مینه که ئي ګوري چه تر هر څه د شیرینه
نه پریږدي و زړه ته بله مینه چه ور ځینه
هسي رنګه وچه د صورت کا مینه وینه
هر چه یې په زړه کښي د دلبرو مینه وینه
مینه هسي څېز دی چه نه زدي لري کوینه
خو دي لاو سجاره نده مینه نده مینه
«عبدالقادر خټک»

چه له خپله اشنا نه لری گډه
له نور چا به په نور څه لری گله

انگوری ترخه شراب ور اره بویه
میخواران له گبینه لری گله

چه بی تا یې غروم د بل و مخ ته
په دا خوی له ما نېمه لری گډه

هیڅ ایستادي بکښې و نکرتري پر بوت
له ناوکه یې مې زړه لری گله

چه جارو مې ستا د در د خاورو نکړه
ډېر زما له ما بیا نه لری گله

بد و بدو ته بنکار بېږی ښه و ښه ته
ښه له بد و بد له ښه لری گله

ښه که سرؤ تری قربان عبدالقادر کړ
بیا تري ولې یار له ده لری گله

«عبدالقادر خټک»

ننداروله راځی چه پسی ځو نه
په اختر به ځلمی جونه کا میلونه

ته به وایی مخ یې گل د پیغمبر شی
چه یې د ... په مخ ووهی خالونه

چه په سیل د بهار د گلو گرځی
ځلمی گل به پگړی ږدی په اور بل جونه

ځینی دوامه زلفې ډ کی کا له گلو
څوك په غاړه د گلونو کا هارونه

زیړ او سره نمری اغوستی گلرخانو
وایې سبر و نې و نیول گلو نه

چه گلو نه تولوی سندري وایی
شرمنده کا د بلبلو اوازو نه

درست صحرا په خوشبوئی سره خرشبوی کا
په هغه ځمکه چه کېږدی قدمونه

چه له سیله را روانه شی ورته
گل لمن ، بلبل یې نیسی آستینونه

چه له هسې ننداره نه ځان وساتې
شیخه ورك دي شه پیو خته خلوتونه

له لیدل د ښایسته ؤ بکښې نه وی
چا به څه کړه اته واړه جنتونه

که اوازدی که لیده د روح خوراك دی
نفساني دې باندي نکا غرضونه

تېر شو وار عبدالقادر ره ! را به نشی
که ژړا کړي که فرياد کړی که آهونه

«عبدالقادر خټک»

څه افسون دې په ما وکړ پریزاده
چه یودم نه یم خالی د تا له یاده

زړه مې ډك لکه سیند دی شعله بویه
که د زړه په فراد وکړم څوفریاده

بهانه ددي غرض مگر شانه کړي
ته یې لاس وروړې و زلفو ته شمشاده

چه اواز دې د تېښې په کهسار نشته
د شیرینې په طلب لاړې فرهاده

په اسباب کېږي مې زړه بند په اسباب ندی
د چمن په قید سرو ده آزاده

مهیا ورته قفس د ښاخ د گلو کړه
که څه رحم په بلبل کوې صیاده

چه په هر منزل کېږي سرخوری لکه شمع
د هغه لاري څه نفع ده له زاده

په سختی کله امساك د دولت کېږی
جوهر نه ځی په هیڅ وخت له فولاده

همیشه یې پیچ و تاب لکه جوهر وی
چه شیدا راغی تر دا حیرت آباده

«کاظم خان شیدا»

زه چه مست په لب دیار یم هیڅ حاجت د شراب نشته
او ر د عشق مې زړه کباب کړ و هیڅ حاجت د کباب نشته

تمام تن مې و چ لر گی شو ، ر گ مې تار دو ر باندي پر بوت
زیر و بم اواز تري خېژی هیڅ حاجت د رباب نشته

پر پرهار نمک پاشی کړی چه پرسش کړی له ما نه
حال مې خود ور ته معلوم دی ، هیڅ حاجت د جواب نشته

لکه مرغ نیم بسمل یم ، تپش کړم په ځمکه باندي
ځان مې ور کړ ستا په عشق کښې هیڅ حاجت د قصاب نشته

«خوشحال شهید»

ketabton.com - The Digital Library



سحر دا آوازمی غوږ پیوست له بلبله
ستا خندا په ژړا کښې پیستلم گله !

ترمستی یې لا لذت د خمار ډیر دی — ستا د ستر گو مستی بده ده ترمله
ښا پسته د زمانې د نیا پرست وی — په کوڅه کښې یې پل مه کښېږده بې پله
په چغلی مې ستا ؛ په یارمینه زیاتېږی — څو دې ژده هومره چغلی کوه چغله !
ساقی مې چه را کوی یې په قهقه خانده — زده کړه دا د صراحی له قلقله
د لیدونکو په نظر کښې تفاوت وی — او که نه وی خبرجدا نه وی له کله
په پریشانو اندېښنو خاطر پریشان شی — جمعیت مو می خاطر له تو کله !
چه ستامخ ورنه حاضروی گل به گوری — دهغه ستر گی دې دخدای ننکابې گله
د مجلس روښنائی ته یې ته دی استی — کوم نقصان دی که صبا کړه ډېوه گله

دا دنیا په مثال پل د آخرت دی
تېرشه زر عبدالقادره لد ی پله

«عبدالقادر ختك»

سرو که لیده شی د چمن تازه تازه — ستا حسن تري وینم ماه من تازه تازه
زلفې دی سنبل دی یا ښامار دی په چمنونو — یا دواړه نافې دی دختن تازه تازه
گوره ستاله مینې زړه یې ټك دی وینې وینې — رحم کړه شیرینې په کوهکن تازه تازه
سار دی ښه مجلس دی ښه یاران دی سره جمع — وایه ای فاضله ! هر سخن تازه تازه

«فاضل»

۞ ۞ ۞

زه اول هم دېوانه وم ، دېوانه یم لا تراوسه — له دلداره همخانه وم ، همخانه یم لا تراوسه
له طفلی نه عاشق وشوم ، غم طلب او بلا کش وم — د دلبر د مخ په شمع ، پروانه یم لا تراوسه
زه هلك هم افسانه وم ، له عالمه بېگانه وم — ترخلو ښتو کالو تېرشوم بېگانه یم لا تراوسه
چه عاشق په جانانه شوم ، له اغیارو کرانه شوم — زوړ و ښته مې د سر سپین شو ، کرانه یم لا تراوسه
چه داخل د یار په صف شوم ، د تهمت د تیر هدف شوم — عام وخاص مې واړه ولی ښانه یم لا تراوسه
تل راضی یې په قضا وم ، هم صابر یې په بلا وم — عذر نلرم له حکمه ، بې بهانه یم لا تراوسه
د شیرین دلبر له لاسه ، ما شراب د عشق بې قیاسه — څوبې حده مې ډېر وڅښه ، فرزانه یم لا تراوسه

دا فقیر دولت یو مست یم ، د اشنا په مینه مست یم
په ازل مې شراب څښلی د یوانه یم لا تراوسه

«دولت لوانی»

۞ ۞ ۞

ناست یم ستاله لاسه زړه یاره سینه افگاره — ته له ما نه څه غواړي فلکه ستمگاره
ته یو موش گیرك یې لایق نه یې د گلو نو — ولې بلبلان شړې کمبخته ! له گلزاره !
یار دې له ما بېل کړ تا خو هیڅ ښادی و نکړه — وایه څه دې وگټل رقیبه دل آزاره !
یو دې د هجران په تنا ره کښې لوغړن کړم — بل دې د رقیب سینه رایخه کړه دلداره !

ketabton.com - The Digital Library



هر يو ګل يې خار شي په لمن زما څو خېژي
نه چنه د وفا طمع کوي له سر و قنده
غوڅ وي قلندر په تيغ د هجر کړی نيا زه!

سير د ګلو نو چه کوم يې له خپل ياره
سروبه هيڅ ليد اې نه ري ميوه داره
مه کوه ميرا ! نوره جفا درب دپاره !
« قلندر »

څوك چه ستا په مينه کښې وما ته کا پند ونه
زده مې که نادان په لاس کښېومات لکه ښيښه شو
او ښې دبانو په سر چه را شي نه در ښېژي
نه شي څوك ساتلی سره بڅري په ګريوان کښې
نه دی چا موندلی ښاپېرۍ په دو شالو کښې

وايه بېفائدې زدی ابا سينه لره بندونه
نه شي څوك ايښو دای وښيښوته پيوندونه
ندی چا بند کړی په ګيا سره سيندونه
ومې سول پاه سره د صبر در مندونه
وا خله قلندر ه ! په ميرا پسې کندونه
« قلندر »

چه صبا يې په هر ګل باندې طواف کا
د پتنګ په دود د ځان په سوو رضا يم
هميشه د ګل په بوی زه شمس الدين ځم
ميل نکا را ته باز د يار د ستر ګو

زه هوس د هغه باغ لرم له شوقه
ځکه مينه پر څراغ لرم له شوقه
په خپل يار پسې سراغ لرم له شوقه
تل په لاس کښې پردی زاغ لرم له شوقه
«شمس الدين کاکړ»

څوښې له وصله نه شوم د هجران له غمه زه
خلق را ته وايي چه زحمت دې لاد وا دی
سر دې په جهان کښې د همه وا دو ښا ديو
لوس به له دې وروسته دخپل يار په غم اخته شم
غم دې له ازله په نصيب د عاشقانو
ما عبدالقادر چه دا غزل د فراق و وي

نه کړم په ګل مينه دخزان له غمه زه
لا به چه يې خلاص شوم د درمان له غمه زه
نه دې شم بېغمه د جانان له غمه زه
ډېر په زړه زهير شوم دجهان له غمه زه
ځکه ته خلا صيږم يو زمان له غمه زه
رشك به کړم په اوښو دباران له غمه زه
« عبد القادر خټك »

يو غوا ډم له ياره ښه ديدن تازه تازه
ځکه بلبلان چغار کوی په تازه ګلو
يو زمان له مدحې د دلبرو مه د رېږه
زړه چه درقيب زما په بد سره ښه کېږي
آه کوی له دله په فرياد له زير ګله
بل فکر مې نه کېږي بې ستا له ګفتګو يه
په کړه په جفا سره آزار د بلبلانو
ستر ګې مې خيره شوی چه ولاړ يې زه دې ګورم
زړه د يونس چوی ستا د هجر له سختی

بل در قيبانو ځا نکندن تازه تازه
نه به مدام ګل وی نه چمن تازه تازه
تل دي يار له وصفه کړه سخن تازه تازه
مکړه په ازار زما د ښمن تازه تازه
وا وره له بلبله ښه ګفتن تازه تازه
شير شکري وايه له دهن تازه تازه
ښه خوبه وفا کړه انجمن تازه تازه
وکړه په دا لوری آمدن تازه تازه
ښه خوبه خپل مهر کړه غمجن تازه تازه
« يونس »

ښه مې ولېدل په سترګو واړه ښکلي
چه تر واړو لا تېری کا جمال ستادی
د دنیا په مخ به ډېر وي ښه مخونه
چه تر هر څه ډېر لذت کا وصال ستادی
د واړه زلفی د حلقه کړي اکه لو می
چه دانه دی په دا لومه کښې خال ستادی
دوړه ښېي ګلګوني سرې به د ماغ درومې
ګوره بیا څوک مره وګړي پایمال ستادی
ته کشتن د غمزی کړه مه ودرېږه
مقتولانو قبول کړي وبال ستادی
که همه د خلقو ښکلي سره تول شي
خسته زړه مې په تولې کښې لیوال ستادی
چه دي څوك په کوڅه تېر شي نور مېین شي
چه تمام له عشقه روغ دی دیوال ستادی
که مثال د صورت غواړي ګوره میاشت ته
چه پوره د دوه هفتو شي مثال ستادی
چه صبا بېګا یې لوندارم په اوښو
یادګاری را څخه پاتې رومال ستادی
څور بیار در سره نه بیا یې دوړاندي
چه په چم به یې تېرېږي محال ستادی
که په قهر یې شړي په لطف یې بولي
چه یې نه پرېږدي په هیڅ کښې خوشحال ستادی

« خوشحال خټك »

مخ د یار شمس و قمر دري واړه یو دی
قدې سرو صنوبر دري واړه یو دی
حاجت نه لرم په شهد و په شکرو
لب د یار شهد و شکر دري واړه یو دی
که بې یاره په بستر د پاسه پروت یم
نارو خارو دا بستر دري واړه یو دی
چه و در او و دېوار ته یې نظر کړم
باغ بوستان اودغه در دري واړه یو دی
چه غبار یې د کوڅې را پاندې راشي
دا غبار مشك و عنبر دري واړه یو دی
خدای د یار له هجره هیڅوك خبر مکړه
تاخت و قتل و دا خبر دري واړه یو دی
هغه دم چه سړی د روح له جهانه
توري خاورې سیم و زر دري واړه یو دی
قلندر که په رښتیا قلندري کا
خان سلطان او قلندر دري واړه یو دی
په دکان د نابیناؤ جوهریانو
خر مهرې لعل و ګوهر دري واړه یو دی
دا پیران دي عار زما له عشقه نکا
پاك عاشق پیر و پدر دري واړه یو دی
په سبب د ظالمانو حاکمانو
ګور او کور و پښور دري واړه یو دی
غزا و شوه که خانان ستانی ور حمان ته
بې هنر و ګاو خر دري واړه یو دی

« عبدالرحمن مهمند »

تور ګیسو د پسه چندن پاندې ښامار دی
تورې زلفې دي سنبل د نو بهار دی
تورې سترګې دي هوسۍ دي خطا شوي
چه و خرو ته پرتې په سنبل زار دی
تورې ورېځې دې لیندې با نه دې غشي
عاشقان یې زخمي شوي په ګذار دی
مصفا تندی دې ښه دی تر بلوره
بیدلان یې په سرونو خریدار دی
د غه خال چه دې دورو څو په پیوند دی
دخطا د ملك اصلي نافې ترې جار دی
سینه پوزه دې غوټې د زنبق ده
چه چاپېر ترې نور ګلونه د ګلزار دی
پښنا ګونښ د نسترن دی غوړېدلی
د چنبې تر ګلو به د واړه رخسار دی
سینه خوله که دې غنچې سره نسبت کړم
د غنچې غوټې کله شکر بار دی
دواړه سرې شونډې دې ښې دی د سرو لعلو
سپین غاښو نه بې بها در شهوار دی

ښایسته زنه د سیب د سمرقند دی
چه خوا ږه یې تر ښا تو نه بسیار دی
صراحی د سپینو زرو سپینه غاړه
سیم اسا اوږې دې هم په د غه شمار دی
واړه تن دې د حلب تر ښېښې صاف دی
چه را زونه د درون ترې نمودار دی
سپینې لېچې دې ښکلې مصری توری
چه خو نونه یې په غاړه سل هزار دی
د یاقوتو نېګینې دې سره نوکونه
ځای په ځای دې په اوږو باندې قرار دی
چه مې ستا د تیو ښه ننداره وکړه
هغه کلک په لذت ډک خواږه انار دی
د نامه غوټی دې ګل ده د ګلابو
کېږ اوښې د ګلو پاڼې پرې انبار دی
د نامه د ښکته دم وهلی نه شم
هم هغو زده چه خبر په دا اسرار دی
د پنډو تر صفت دې نه رسېږم
ولې سپینې په سپینو الی تر چنار دی
سپینې پښې دې د زنبق د ګلو پاڼې
دپښو ګوتې دې ګلونه د انار دی
تمام قد دې په مثال د صنوبر ونه
در پسې یې سم په مثل د چینار دی
سر تر پا یې نندا ره بې ځان دې جوړ کړ
ترتا جار واړه را نمی د هند و بار دی
ستا مثال په هند و بار کښې را ښکاره شو
د لو بیا دا نه یوه مټر خروار دی
نه خو ډېر مهر کوی عمر دې ډېر ښه
دخوشحال خټک دې تش لیدل په کار دی

« خوشحال خټک »

عاشقی را باندې سوری کړې مری،
هیڅ مې نه د رومی بې پاره تر مری،
څه اثر به یې د عقل وی په سر کښې
د هغو په سر چه کښېني ښاپېری،
د مژګانو په پنجه مې زړه وکاږی
خدای دې تر کو مستې سترګې کړې مرزی،
علو فه به یې بې غمه نور څه نه وی
هر چه کاندې دخو بانو چاکری،
لږ د صبر سبق ما لره هم را کړی
که په عشق کښې څوک دغه طاقت لری،
خدایه څه دې د کوډوال په لاس کښې ور کړم
شپه او ورځ مې غږ وی لکه تو ری،
په صورت مې نری تبه شوه ولاړه
تاچه دواړه سترګې تورې کړې نری،
د وصال د لالان کوم طرف ته غواړم
چه بندی شوم د هجران په کچری،
نور د شمعې په فانوس کښې پټېږی
تاچه واغوستې دخیال جامې نری،
زه رحمان په زړه نری کړم هغه جونو
چه یې ملاوې د ویښته په دود نری،

« عبدالرحمان مهمند »

د اچه مست په میو راغی یار د چا دی
بیا به تاخت کا په کوم غولی وار دچا دی
چه زړه سوی یې د حرم په صید هم نشی
دا بید رده بیصر فې ګزار دچا دی
ما خو نه دی څوک پېښو جهی ازار کړی
دا چه ما ازار وی ازار د چا دی
چه یې درست جهان د مخ په رڼا ژیست کا
دا آفتاب غوندې روښان رخسار دچا دی
چه بلبل یې رسېدی تر ګلو نه شی
دا دننه په حرم ګلزار د چا دی
چه هیڅ ترس په زړه کښې نه لری رحمانه
دا نا ترس او بې پروا ګزار دچا دی

« عبدالرحمان مهمند »

سپین رخسار او مشکین خال یې سرخم دی
یا محمود او ایاز ناست سره همدم دی
که دې مخ په زلفو پټ دی باک یې نشته
د حیات اوبه هم پټې په تور تم دی
ستا له زلفو له رخساره له سرو شونډو
پیدا شوی شام، شفق او صبحدم دی
په دهن کښې دې غاښونه تجلی کا
یا غوټی چه په غنچه کښې د شبنم دی

ketabton.com - The Digital Library



نه چه اوس ز ما زړه غوځ ستا په غمزو دی  —  چاره، غوښې له قده یم سره په غم دی
بې ژړا چا ته نه گوري سیاچشمه  —  د نرگسو غوږ یـد ه د جوی په نم دی
راحت ندی چا مونډلی بې ز حمته  —  ستا جفا او وفا دواړه منقسم دی
ستا د حسن د تعریف لـه بر کتـه  —  د رحمان د شعر کوکی په عالم دی

«عبدالرحمان مهمند»

❀ ❀ ❀

زه که پرنگ بدیم ښکـلیه! اعـ رولی له ما کړې  —  چارې د قسمت دی، زه یې زشت ته یې زیبا کړې
یو ځـله بیا راشه پـه گـلونو گذر وکړه!  —  ای د صبا باده! چه بیا غنچې واکړې
گـل دې په هجران کښې سل ټوټې خپله سینه کړه  —  سرې دې له فراقه لاله سترگې ښډا کړې
ولی لـه شیدا بلبلی مخ جار باسی گـلـه!  —  ته په دا خوبی هم دده ناز و رسوا کړې
لاخوشبوئی ورکا چه یې واچوی وا ورته  —  زه به تنا زیاته کړم که ته زیاته جفا کړې
ته د حسن نمر یې دانو ښکـلی لکه ستوری  —  گـل به کالعدم شی که ښکاره خپله لقا کړې

«عبدالقادر خټك»

خوښ یم تر ابـد ه د ساقی لـه میخانی  —  خورم شراب د مینې ډکې ډکې پیمانې
قدر د بلبل چه پاتی نه شو به گـلزار کښې  —  جوړې شوې په باغ کښې د زاغانو اشیانې
سپینو سترگو د ر راوښو واړل پـه خاورو  —  نـه یې وساتلې پـه پښه کښې د ر دانې
هر ساعت چه ډمه کا سنگار د یارد زلفو  —  وخېژی تر زړه زما غـا ښونـه د شانې
هیڅ حاجت مې نشی پـه شیخانو ملایانو  —  ور کې شه بیخایـه د پښتون د پرې ستانې
تل مې لیونی عوندی څوك نه پرهېږدی و کور ته  —  ځای رالره نشته یې د یار لـه استانې
هرچه پـه ازل وی هغه دی زما پـه برخه  —  څه لره نور زه کړم شکایت د زمانې
مرگ د شمس الدین چه د دلبرد یاده نه ځی  —  شپه ورځ بې تړلی دی پـه گوتو نښانې

«شمس الدین کاکړ»

ما په خوب کښې ځان ملنگ لیدلی دی  —  د زړه رخت مې په عشق رنگ لیدلی دی
اوس لـه ویرې پـه کوڅه ورتللی نه شم  —  ما د مستو سترگو جنگ لیـدلی دی
غم و ښکـلې توری راغی که مې پرېږدی  —  ما خـلاصی د ستا ترخنگ لیدلی دی
ما بـیـگـا شپه د یار مخ لید لکـه شمعه  —  دا خپل ځان مې پرې پتنگ لیدلی دی
د ا مطیع پـه سحر ځـکـه ځـکـه ژاړی  —  چه خپل حال یې ډېر بد رنگ لیدلی دی

«مطیع الله پیرخیل»

مینه د خوبانو نام و ننگ لرې کوی  —  تش دیدن د ښکـلیو د زړه زنگ لرې کوی
تل آرزو لرم چه به پټ حال و یار ته وایم  —  کـله سپی غماز لـه یاره څنگ لرې کوی
خوښ د معشوقو هغه عاشق وی چه بې ننگ دی  —  ځکه هر ملنگ لـه ځانـه ننگ لرې کوی
خدای په دواړو کونو هغه ړوند په تور لیمه کړه  —  څوك چه ستا له شمعی ما پتنگ لرې کوی
یار مې په شړل ندی راضی زه پرې پوهېږم  —  سپی غماز له دره ما پـه جنگ لرې کوی
بس کړه ای ناصحه! تور ځیگر را باندې مه خوره  —  کـله مست بنگی له ځانـه بنگ لرې کوی
بل شغل مې نشته په زړه بې دیدار له مخه  —  عشق بوهسې رنگ دی چه بل رنگ لرې کوی

«مطیع الله پیرخیل»

زړه مې د دلبرو تورو زلفو ته هوس کا     ګوره دا په ځان خونی تورمار لره وردرومي
مرم د خدای د پاره په شتاب شتاب رادرومه     چېری هم طبیب ورو ورو بیمار لره وردرومي
ځم د یار په لوری په هواهوس خوشې کړم     ذوق کاندې بلبلې چه ګلزار لره وردرومي
هر څوك چه طلب کا پته نده دا خبره     هر کله مطلوب و طلبګار لره وردرومي
«خوشحال خټك»

خوږې شونډې دې شکرې نه دی څه دی     ښکلې غاښ دې مرغلرې نه دی څه دی
چه تسخیر په تورو سترګو کا د زړونو     سیه چشمې سحر ګرې نه دی څه دی
چه د زلفو په زنځیر یې زمری بند کړل     هوسی سترګې زړوروې نه دی څه دی
چه د باغ سرو یې پسته تر قامت ده     ښېښتنې په قامت سترې نه دی څه دی
وایې نورې مینې لرې کړه د زړه نه     ستا د مخ په دور لرې نه دی څه دی
«خوشحال خټك»

یار په ستمونو د خپل یار نه زهیر یږی     سترګې د ښو په درانه بار نه زهیر یږی
څو کبر لویې ده و خوبانو خدای ورکړی     هیڅ چېرې بې زړه په عاشق خوار نه زهیر یږی
څه شو که ترې سلسله ځار یږی په ساعت کښې     ګل د بلبلانو په چغار نه زهیر یږی
ښه رنګ یې بدرنګ کا چه پری والوزی پوخته     زړه د خزان ګوره په بهار نه زهیر یږی
ګرانې دی هر ګوره نوې چارې نوآموزته     هرچه مدام مې خوری په خمار نه زهیر یږی
زردی چه خبر به شی د سترو له احواله     هرچه د ویښتو په آزار نه زهیر یږی
سرغوړه له خدایه خولی ډېری دی فاضله     هرچه غم د سر کا په دستار نه زهیر یږی
«فاضل»

چه خدای په بت مین کړم که داعیب دی هم وی دی     سجود که روښن کړم که داعیب دی هم وی دی
عالم وایې عاشق شوې زه سوګند خورمه چه کله     درست خلق دروغجن کړم که داعیب دی هم وی دی
کافر یم که یې و باسم هغه ساعت له زړه     ستانوم چه ځنکندن کړم که داعیب دی هم وی دی
که ستا کوڅه جنت سره څوك سمه راته کښېږدی     کوڅه به دې وطن کړم که داعیب دی هم وی دی
چه ځوان وم دایم زوړ شوم په رښتیار ښتیاخبرو     عالم د ځان دښمن کړم که داعیب دی هم وی دی
شیخان او زاهدان واړه په پسې شا ویل کا     په مخ یې مبرهن کړم که داعیب دی هم وی دی
که نور په صهبا مست دی زه خوشحال په خرابات کښې     مستی یې په دیدن کړم که داعیب دی هم وی دی
«خوشحال خټك»

په ما غم دی واړه ستا د مینې مینې     زړه مې درست پاره پاره شو وینې وینې
اندرون ګوګل مې درست دوپنو ډك شو     ظاهری جامې اغوستې سپینې سپینې
بیا دې نوی پرهار ونه په ما روغ کړه     لرغونی مې لا روغ نه دی ځینې ځینې
په ژوندون یې څه احسان را سره نکړه     څه پکار دی که یې کړی په مړینې مړینې
زه دې درست له باغه واپستم د لبره     تور زاغان پکښې مېوې خوری خوږینې خوږینې
تورو زلفو دې خوشبو یه کړه ملکو نه     د واړه ګلو ښتی دی د مښکو چینې چینې
خماری سترګې دې د واړه شنه زمری دی     د خواجه محمد و مرګ ته وږینې وږینې
«خواجه محمد بنګښ»

نه به ښوک بی نا چاري وطن پر ېږدی
که ستا مخ یو زلی وو یني په ستر ګو
د یوسف غوندې به خوځنی بیر ون کا
که دې ولید ی سرې شونډی جو هر یانو
که د لبر په دا ښایست لاړ شی چمن ته

نه به روح هرګز په خو ښه بدن پر ېږدی
بت پرست به نور سجود دو شن پر ېږدی
که د زنې چا ته زلفې رسن پر ېږدی
په یاقوت پسی به تله د یمن پر پر ېږدی
د خولګی دعوی به ګل دچمن پر ېږدی
« کامګار »

چه یوه ګړۍ په جمع زړه ښه مخ وته و ګورې !
داخوی زما قدیم دی څه ماوس ندی راوړی
د خلقو تهمت یوسر دجهان غم نه بل سر
دا اور چه په ما بل دی دخپل یار له جدائی
اشنا ته و ایه نشی نا اشنا به څه خبر یږی
ناوک یې دمږګانو دابرو په کمال جوړ کړ

که درسته دنیا ستاشی هم څه نده دا تر پورې
چه بې دزیبا مخه رانه خس دی چار ې نورې
هم ته به مې لاهسې رنګه سختی بلا ژغورې !
نه ګرم نه ملامت یم که تل وینې ژاړم تورې
دا راز چه لاهمانه دی او ریدلی خپلی مورې
خدای زده چه به دچا تر زړه ګی وزی پورې وورې

ښه باز دې دخوشحال خټک خاطر په لاسو کبوت
په قدری خبر شه چېرې نه په لښزی پلو رې !
« خوشحال خټک »

شنه خال ونه چه د پاسه پر جبین ز دې
د عشق اور مې ویلوی د زړه ګی شمع
مادې خیال اره فرش کړی تور لیمه دی
په شپه حال د مهجورانو په یاد راوړه

دا زما پر زړه دا غونه آتشین زدې
بیهوده مې پر موم نقش دنګین زدې
ته بی نیا زه قدم ولې پر زمین زدې
په راحت چه سر له نازه پر بالین زدې
« پیر محمد کاکړ »

❀ ❀ ❀

## ه: موضوع ګانې

### (۱) - مخ:

بادیې لاس په پلو کښېښږدی سره ریږدی

دپرېې ښکلی جو ماییدلی دی په ستر ګو
زور دغاښو مکړه مخ یې صاف تر آئینې دی
عمر به یې لنږ شی که ئې تاردزلفو کم شی

ای چه په مخ وړې خو ئې له ور ده
ته یی آسیبه بهی ، سیب او سی

که مخ دې نمر کړم دنمر کړه وړه نښته

دپر هوس لرم د استا د مخ و ګل ته

ګل یې مخ وته نظر کا خوله یې رېږدی
« خوشحال خټک »
روند شم که به تا غوندې په حسن بله وه
زخم به پرې وشی په ورو وروی ښکلوه
فهم کړه ای دمی ! زمنځ ورو وروچلوه
« عبدالقادر خټک »
خالی یو دم نه یم د ستا له در ده
که تر نار نج مې خپر ده زر ده
« عبدالقادر خټک »
که یې سنبل کړم سنبل مشکین ندی
«عبدالقادر خټک»
زه بلبل پرې الوته کړم که بد نه وړې
«شمس الدین کاکړ»

ketabton.com - The Digital Library



سپین رخسار دی ستا کعبه د عاشقانو
تورې زلفې غلافونه د اطلس
«میا نعیم متی زی»

دا په خوب کښې را ښکاره شو د دلبر مخ
چه یې و لیدو دا ستا جوهر د غاښو
له حیا دی غټ و مخ ته کښتې نشم
که په ابر کښې ښکاره شو د قمر مخ
پټ له شرمه په خپل آب کښې کړ گوهر مخ
کله لید په خوږو سترگو شی د نمر مخ
«قلندر»

دا دې یار خو دی خوله نیولی
دا دې سرې شونډې که سپین غاښونه
که لاله گل دی پر خپې وهلی
که لعل و در دی سره پېیلی
«خوشحال ختک»

ډېر مې ستا و مخ ته و کتل ته موړ نشوم
نور به څو پردې نابوده دنیا ویاړم
«شمس الدین کاکړ»

لکه مخ زما دیار دی ای باغوانه!
په درست باغ کښې یو نسرین هسې لری!
«خوشحال ختک»

مخ وته یې، گوره چه په مخ لری خال اونه
څه عجب زیبا دی لکه گل د پیغمبر
«خوشحال ختک»

## (۲) شونډې او ژنه:

د خولې ویل دې واړه نبات دی
خوا ږه دې لا د کنځلو زبات دی
څوک یې چه ښکل کا سخ د هغو دی
شونډې دې دواړه آب حیات دی
«خوشحال ختک»

بوی به ستا د محبت څخه روان شی
که پاره مې د نافې په دود ټټر کړي
په نازکو شونډو بار د پانو مه ږده
خدای چه شونډې سرې بې پانو درته در کړې
«عبدالقادر ختک»

غنچه خوله چه یې نقطه مو هومه ده
څه عجب که په خندا کښې شی دوه نیمه
«پیر محمد کاکړ»

په سرو شونډو کښې یې روز دی هم اوبه دی
دواړه زیست کا په یو ځای کښې بې جداله
«دالپوری حافظ»

که څوک و وینی دا ستاذ نخ پر آب
زړه یې و وزی د سینې لکه حباب
«عبدالله پوپلزی»

چه یې خیال د زنخدان وزړه ته تېر کړم
په کوهې کښې گذار کاندې اسکورلا
«میانعیم متی زی»

هغه شونډې چه ځائې د پانو سرې دی
هغه شونډې څه حاجت لری وپان ته
«خوشحال ختک»

چه په خیال د سر و لبو د شپې خملم
هر سحر شا شی ځما تر بستر وینې
«عبدالله پوپلزی»

(۳)- بوسه:

چه بوسې د جفا جو یو د خولې اخلی
څوک مایوس څوک په امید دیار دوصل
زه خوشحال د آهو چشم مینې سر گرم

چه د یدن دمین و کړمه تازه شم
په ارمان د هغه وخت یم دریغه دریغه

څوکچه زور مه ښکاره کا وزیاتیږی

مگر تا سره سامان د سلطنت دی

څو مې یاد دهغې خولې دمچې خوند دی

سر به در کړم مچه را کړه ښه سودا ده

په رښتیا رما ته وو ایه طبیبه!
سپینه خوله که بې ریباره وزپیشکش کړم

دادی هغه اوچه په هجران کښې پسی ته مرې

دصبا باده! گزر په چمن بیا کړه
زه خوشحال کمزوری نه یم چه به دار کړم

زده مې تخمخ کېږی دسپین مخ وښکلو لته
زه چه غني سوال دبوسې و کړم راته خاندی

چه یې تل دمخ ثنا وایی خوشحاله

دبوسې وعده دایم صبا برات کا

بیا حانت په سپینه خوله شوم د خو با نو

هغه چا چه ستا دلبو خوازه نوش مکړه

که هز ار لحله شیخی کوی خوشحاله

گویا اخلی د یاغیانو قلنگو نه
څوک پراته غاړه غړئی په پالنگو نه
د غرخه غوندې په هسې کړ سگو نه
«خوشحال خټک»

لکه ککبنت چه په باران سره او به شی
که د زنې سبب یی بیا زما په خوله شی
«خوشحال خټک»

که پخپله بوسه را کا زور به نشی
«خوشحال خټک»

چه په هود مې سپینه خوله غواړې ختکه
«خوشحال خټک»

نور مې کل له د له هېر دی تلذذ
«خوشحال خټک»

که یی ته په بها پیرې زه یی پلورم
«خوشحال خټک»

چه د رنځ به یې صحت وی که به نه وی
په خوشحال به مې منت وی که به نه وی
«خوشحال خټک»

اوس یی په وصال کښې دواړه لوری ښکلوه
«خوشحال خټک»

په چمن کښې رنگارنگ گلونه وا کړه
په شکار ناری وهم چه خوله یې را کړه
«خوشحال خټک»

لاس یې لر بر کېږی دزلفینو ونیول ته
یا به زړه راضی ده یا پروانه کاوینه ته
«مطیع الله پیرخیل»

په صله مې سپینه خوله درته بخښلې!
«خوشحال خټک»

زړه به څو کاندې تازه په دا وینا کښې؟
«اشرف خان هجری»

قسمو نه مې نا صح گنل عبث
«میا نعیم متی زی»

په څو زو یی د حلوا نشته غرض
« یونس »

که ښه ښکلی درنژدی شی نو یی ښکل کړه
«خوشحال خټک»

## ٤ ـ سترگی :

مست دهغه مخ یم چه مخموری اری سترگي　　　هسی پري غوځېږم وایی توري لري سترگي
یار مي په ښایست کښي بی نظیره بی مانند دی　　　لا په درست صورت کښي د پرمشهوري لري سترگي
ناست دی لکه ځری رقیبان وخوار عاشق ته　　　ځکه ستاله مخه هوري دوري لري سترگي
هرچیرته چه ته یی هغه اورته می نظر دی　　　هرچرته چه زاني شاهین هوري لري سترگي
« خوشحال خټك »

ما یی خیال لره ابلق د ستر گو زین کړ　　　قدم ښز دی په رکاب زما د سترگو
« عبدالرحمن مهمند »

خار بندی می دېنو کړه تري چاپیر ه　　　گوندي خیال دیار په سترگو کښي حصار کړم
« عبدالقادر خټك »

ځکه ما دعشق په تېر ځان شهید کړ　　　چه مي نه رسی د صبر په کفن لاس
مرگی دژوند زما پوښته له مړاؤ سترگو　　　په رسا گذار یو هیږی د تورزن لاس
« عبدالحمید مهمند »

کږی وروځی کوږبانه چه دي را یاد شی　　　کازه غشی مي تر زړه لوېږی آزاد
« پیر محمد کاکړ »

نیمکښو دی د غمز و توري تېري ستا　　　پري به غوخ شی هرچه کاندي ننداري
« میا نعیم متی زی »

باز دیار دسترگو دمژگانو په پنجو کښي　　　دی لکه تنزری په چنگ و ړی زما روح
« میا نعیم متی زی »

د اشنا دتورو سترگو په تعریف کښي　　　نده کمه شاعری له اجتهاده
« میانعیم متی زی »

خو، دیار بیماري سترگي خدای خوني کړي　　　گنه خون کله کولی شی بیمار
« عبدالرحمان مهمند »

خپلو سترگو فتوی درکړه چه مي وژني　　　حیراني ده پردا لوستو د مکتب ستا
وکوثر ته حاجت نه لری د ښپلو　　　چه جام نوش کا ځوك دمیو لبالب ستا
« مرزا حنان »

زړه مي رم خوری له سینی پر خبر نه یم　　　دا د سترگو باز مي بیا راغی وښکار ته
« مرزا حنان »

یل یی په جهان کښي مو ندی نشی　　　عاشق تله د یار په لوری په لیمه کا
« عبدالقادر خټك »

بی دیار له مړاوو سترگو چه کج گوری　　　گنه نکا رنځورا چا ته جواب سخت
ځوك د صبر ارام نه غواړی په عشق　　　د ازل کاتب دی ښکلی پهدی باب سخت
« عبدالحمید مهمند »

عجب نده که وحشی د کوه و د شت شی　　　هرچه زړه د آهو چشمو سره مل کا
« پیر محمد کاکړ »

روهي گلونه (٥٢٥) ـ سردار محمد ، ج سراج الدين ، ر فتح محمد ، ن محمد نعيم ، ه اجرائيه پښتو ټولنه ١١-١٠-٤٢٥

## ۵ـ غـابښ

په آرزو دسپینی خولی یی په بوستان کښی
چه یی ولید . خندا د سپینو غا ښو

نرگس پیاس پر سر نیولی ده پیالئه
لـه شبنمه لمن د ـکه کړ . لا لـه
« شمس الدین کـاکړ »

په ر نـا د سپینو غا ښو یی خرم وم

وا قف نشوم د هجران د شب لـه دا چه
« پیر محمد کـاکړ »

## ٦ـ غوز اوپوزه :

در په غوز کښي د مهرو هسی ذیب کـا

لـکه بر بښی په سحـا ر کښي ستـا ر ه
« مرزا حنـان »

چه الماس دلمندرو زا نگی په غوز کښي

کو ا کب کـا په اسمـان لر زان حبیب
« میا نعیم متی زی »

چه له غوز وني مقصو د مو می لښتي ده

چه له یوزي یی مراد مومی لو نـگ د ی
« خوشحال ختک »

سپینه یو ز ه د ی غوتیء د زنبق د ه

چه چـاپیر تري نور گـلونه د گـلذار دی
« خوشحـا ل ختک »

## ۷ـ خا ل :

مخ وته یی گوره چه یه مخ لری خـالونه

ته عجب زیبا د ی لـکه گـل د پیغمبر
« خوشحال ختک »

زه حیران د اعتقاد وریځو یه نور خال یم
گـل دده ږي بـاریـکیء یه شبنم خوړ شي

کـافرخهر نـګسجده کـاندي‌په‌محراب کښي
نازك زړونه بد وي یه صاف جواب کښي
« عبدالرحمان مهمند »

مشکین خـال دي یه سرولیو هسي زیب کـا

لـکه مهر یـه مخر ن د د ر مر جا نو
« عبدالرحمان مهمند »

لـکه عکس د اسمـان چه او به شني کـا

زړه مي شین شوستا دشنه‌خال له‌لاجورده
« شمس الدین کـاکړ »

چه ز خـال و خط خبر ی یـکښي نه وی

د عشـا قو یـکبـار د ا ترا نه نه د ه
« قلندر »

شنه خـالونه چه د پـاسه پر جبین ز د ي

دا زما به زړه دا غونه آ تشین ز دي
« پیر محمد کـا کړ »

شینـکي خـال د وروځو منځ د مهر و یا نو

هم محراب دی ، هم منبر دی هم خطیب
« میا نعیم متی زی »

زړه مې ځکه په سل ژبو گفتگوی کړی
چه شانه وهی په زلفو د نگار لاس
«عبدالله پوپلزی»

په لښکر د تورو زلفو یې تالا کړم
خدای دې ته کا حال کماں کفر د چا
«میا نعیم متی زی»

خیال د زلفو د رخسار زما په زړه کښېږي
زرغونه کړه تر سنبل او سره گلاب
«میا نعیم متی زی»

زانگې پکښې زړونه د عاشقو سره په ویښو
ته چه څیرې کېږدې سره گلونه په اوربل
«میا نعیم متی زی»

کفرستان د شاه د تورو زلفو گوره
چه په څه ښاپښې تاویږی وایمان ته
«خوشحال ختک»

که څوك وایی چه مار کله په کټ خېژي
زه خوږ لی یم په کېټ د زلفو مار
«عبدالرحمان مهمند»

که اره لکه شانه شم پری نه یی نږدم
که د تورو زلفو تار په لاس راکښېوت
«مرزا حنان»

توری زلفی دی په لیچو باندی زانگی
ښامار ان دی دچندڼو په ښاخو نه
«خوشحال ختک»

دار بلیه هر یو تار یی زړونه بند دی
مشاطو ر باندی نور یسی په تارو
«خوشحال ختک»

که دد یدن حج اکبر کوی تلوار راو که
چه پر سپین مخ باندی‌د زلفو تور اطلس لرم
«صدیق آخندزاده»

## ۸- زلفی:

که بل مار چیچلی په لاس یا په پښو کاندی
په زړه خوله لگوی مار د تورو زلفو
«عبدالرحمان مهمند»

رحمان ستا په مخ بی ځنمو هم مین دی
بیهوده مه و ژنه کښېښنو دام په څه
«عبدالرحمان مهمند»

د ك مې د نښه لړمون په اور ځیږو
زړه مې سمندر دی پکښې یې کور شو
چه ستا د تورو زلفو په رنگ دی
له بخته خوښ یم چه بخت می تور شو
«عبدالقادر ختك»

په لیده یی پیچ وتاب شم نه پوهیږم
څه بلاده دشوخ چشمو په کاکل کښې
تر حلقو د زلفو مخ ئی معلو میږی
که گلاب راته ښکاره شو په سنبل کښې
«مرزا حنان»

زه مین په هغه زلفو په رخسار شوم
چه سنبل ورته خجل دی گلاب هم لا
«پیر محمد کاکړ»

خو دیه څو دیی کله زلفی په مخ زانگی
وا ړه زهر دی چه څوزی په تور مار کښې
«پیر محمد کاکړ»

خیال دز لفو یې دزړه نه جدا کېږی — د کیمې پـوړنې پـښکـته شې تـور حجـاب
«عبد الله یو یلزی»

## ۹ـ خندا:

په بار بار د خندا منت را بانـدی — چه په مـادی نظر وشوې خنـدا شوی
«خوشحال ختك»

کله کله په خپل قهر لکښ مسېږی — لکه خوك په هندو بار کښ دینداری کا
«شمس الدین کاکړ»

تبسم یې له دشنا مه سره زیب کا — قـدر ځـیـات لری تر خه چـه شی شراب
«میرزا حنان»

## ۱۰ـ لاس:

دا محما د قاتل لاس دی نه یو هیږم — که تر باغ وتلی لاس دی د سرو گلو
«عبد الرحمان مهمند»

کوم دلبری زړه په سرو منگو لوړی — چـه لـرمیو ن د ویـنـو د کې دی د حنـا
«شمس الدین کاکړ»

سره نوکان دی دسرو گلوپه څیر زیب کا — د واړه لاس چه دی رنګ کړی په حنـا
«پیر محمد کاکړ»

## ۱۱ـ حسن:

ته په دا حسن د گل غوندی پیدا یې — پـوری مور که ښا پیرۍ یې راوړی
«خوشحال ختك»

زه رحمان د هغه حسن ثنا خوان یم — چه جرگه دعاشقانو وی پر پنـده
«عبدالرحمان مهمند»

ستا دحسن د آفتاب له گرمه خوپه — لکه گل په نمن یت تـازه شبنم ودم
«شمس الدین کاکړ»

یـویکښ مخی د قندهـار د کـښلیو نشته — کښلی د کشمیر که دلا هو رو د کابـل

زړه دشمس الدین په حساب سره دری ځای کړ — یـوطرف دی تېك شو بـل دی ننه بل چار گـل
«شمس الدین کاکړ»

خـو بـرو نی یې دلبرنی څـه په کـارنده — لکـه و نـه بې میوی په بیا نـو پـو ره
«عبدالرحمان مهمند»

توری زلفې نشته خالونه سره رخسار — پښمه طوطیان دی سره گلونو تورشامار
«یونس»

## ۱۲ـ جامه او گانهٔ:

ارغوانی جامې یې واغوستې رحمانه — بیایې جوړ کړه ستا دقتل اسبابونه
«عبدالرحمان مهمند»

دعقیق د آب په رنگ یې تن معلوم دی — هره ورخ چه جامه واغوندی گـلنار
«مرزا حنان»

د نور دشمعې په فانوس کېله پټېږی — تاچه واغوستې دخیال جامې سری
«عبدالرحمن مهمند»

درسته‌دي له‌خیل غریبو واېستم خوشاله ... یودغاډي هارمی د ګلونو مه‌شلوه
« خوشحال خټك »

## وښي

دامال دی چه‌لیدلی‌شی په‌شفق کښي ... که‌په‌لاس د ګل‌اندامی سپین وښی‌دی
« عبدالرحمان مهمند »

## ۱۳ـ عیش، اودعشرت‌سامان:

دنیادار کره چه نه‌وی ښي دلبري ... اوردي یوري ددنیا په‌ملك ومال‌شی
ارمان دادي چه به زه همیشه نه‌وم ... همیشه به‌سره ګلونه کال په کال‌شی
د ګلونو وخت تېرېږی ساقی! ګرم بی ... که دجام په د کولو دي اهمال شی
« خوشحال خټك »

❀ ❀ ❀

ساقی! یورنه شه‌دمیو جام تیار کړه ... عمر هیڅ معطلی نه کوی تلوار کړه
که‌غمخوار غواړي په‌غم او په‌اندوه کښي ... ښېښه د که د شرا بو اختیار کړه
هغه‌خوك دی چه تهمت پري وایه نه‌شی ... غوزیه‌هیڅ‌با ندي‌مه‌باسه‌خیل کار کړه
« عبدالرحمن مهمند »

❀ ❀ ❀

غنچه‌غنچه‌شراب ساقی! بیا به‌ارمان کړي ... عندلیب ناري وهی چه‌بهار دروی
« عبدالقادر خټك »

❀ ❀ ❀

ساقی وخت دنوبهاردی شراب راوړه ... دشرابو سره نقل دخولي مل کړه
« خوشحال خټك »

## رباب

په‌آواز مي‌یی دزړه پرهار ګانه‌شی ... مین څکه د رباب په زیرو بم یم
« عبدالقادر خټك »

له مزینه زړه مي نرم اواز خېژی ... څکه‌خوښ لـګه‌رباب په‌زیروبم یم
« عبدالقادر خټك »

باغ د ګلو نو ګنج د کتاب وای ... رودوسرو دو نقل‌و شراب وای
ښې‌ښي محبو بي ښه ښه احباب وای ... خو بی د عمر وخت د شباب وی
« خوشحال خټك »

## شراب

زمایار په‌خوب ویده دی چه‌ویښ نه‌شی ... په‌پیاله کښي ساقی! مې‌تر یوه‌ورو
« عبدالقادر خټك »

ګله! نه چه د بلبلی مخ جار باسي ... مګرستاپه‌خیل ښایست امیدمدام‌دی
نور چه تل د کي پیالي تشوی ښه‌دی ... په‌یوه‌پیاله خوشحال خټك بدنام‌دی
« خوشحال خټك »

دا ګلګون شراب د کومې میخانې دی — چه صوفي يې په جرعه سره مدهوش دی
بیا به دا ګلونه نوی میخواري کړه — د بلبلو په اواز کښې دا سروش دی
« خوشحال خټک »

د رحمان شراب له عشقه — نه انګور نه له عنبه
« عبدالرحمان مهمند »

د ګلو نو میو ناوې راسته ناسته — زنګاری کمیس اغوستی د مینا دی
« عبدالرحمان مهمند »

شپه او ورځ په دا زه مستغرق یم د شرابو — وینم یکښې هر دم د خوبانو انعکاس
« قلندر »

په تاخیر کښې افتونه پیدا کېږي — معطل مه کوه ساقي! په داد ومل شه
« عبدالقادر خټک »

یو نفس دیاد پیاله له لاسه مه ږده — دا شراب حقیقي نه لري خمار هیڅ
« دولت لوانی »

نن هغه شراب حرام دی — چه یې سی کسازی له انګوره
« شیخ دولت »

ای ساقي د جام په ور کړه سستي مکړه — کاشکې بوهم پاتې نشي هوښیار دریغه
« دولت »

## ۱۵- بیلتون :

ګیځ رڼا د نمر خپره شوه — زما یرکور د و یرناره شوه
د بیلتون ورځ توره تیاره شوه — غمز شونا څا په چه بیلتون راغی
زده می له دی ویرنی سین دی — په زړا ژاړم څه ما ورین دی
زرغون له او بو می سادین دی — په نول نولېږم چه تاخون راغی

❀ ❀ ❀

نه به بیایم نه به بیا راشي — نه به تیاره شپه زما رڼا شي
نه به ښه شي را ته پخلا شي — بیلېږي پېر يې اوس دیوون راغی

❀ ❀ ❀

د ښبتن یار دی هیر مو نکړي — آ غلیه مخ چه په یا نه کړي
اور بل دي پر ښو وی وا ته کړي — په ما د بل اور کړوون راغی
« دا شعر دشیخ تمین بړ کا کړ دی چ، د ۵۲۵ ه په حدودو کښې ژوندون کاوه »

❀ ❀ ❀

ویر می زده سوري سوري کړ — را ته وګوره ملو کی ! !
په بیلتون کښې دي و باسم — له خوږ مینه زده ګی کوګی
را ته وګوره ملو کې !
را ته وګوره ملو کې !

د ببلتون او رو نه بل دی — هر گړی می زړ گی سو ځی
لبو نی یمه د مینی ! — سو ځم زه لکه پیلو ځی

را ته وگوره ملو کی !
راته وگوره ملو کی !

غوړ ولی دی اور بل دی — اور زما په زړ گی بل دی
زه د بختیار خاوری ایری شوم — په اور سوی می گو گل دی

را ته وگوره ملو کی !
را ته وگوره ملو کی !

« قطب الدین بختیار »
« متوفی : ٦٣٣ ھ »

❀ ❀ ❀

جدائی دما په زړه کا هغه چاری — لکه بازی په تارو یا په دراج کا
دوه مین چه په هواد وبله بیل شی — خدای بی څه شکل دتش سلام محتاج کا
زما اوښي د گو گل په جوش پیدادی — لکه اور چه له کبابه نم اخراج کا
هر ناوك چه دقضا له شسته خېژی — زمانه دخوشحال زړه ورته امـاج کا
« خوشحال خټك »

که داستا ستر گي راوجا رباسم ځانته — له بنادیه به بی نور شا کرم وجهان ته
یوزمان مي که داستالیدل نصیب شی — نوربه ستر گي بورته نکرم گلستان ته
طبیبان دخیل دارو درسره کېږدی — تا و یشتلی مینه نه کا و درمان ته
چه په ما باندي تېر یږی ستا په عشق کښي — خدای دي هسي حال پېښ نه کا مسلمان ته
په فراق دښو یارانو چه دېر ژاړم — دوا یړه ستر گي مي پیغور کا وباران ته
« خوشحال خټك »

اوس یی درد د فراقت زغملای نشم — لکه نی یم وهرچاته په فغان کړم
« پیر محمد کاکړ »

دفراق په درد کښي شوق د بوسي څه کړم — خوږ شربت په حال دمر گ د بیمار نښلی
« پیر محمد کاکړ »

مونږ له هواده تنها راغلی یو — دبنو طوطیان یو ، په دام و تلی یو
غمازه ظلم را باندي مکړه — د ښو یارانو فراق نتلی یو
« پیر محمد کاکړ »

دسحر چر گه خوږ شي په کومی — چه تا ناري کړي دلبرمي دروم ی
یو مي دلبر ځی بل رانه زړه وړی — زړه مي بدا وړی چه دلبر نومی
« اخوند گدا »

دهجران دغم راتله په توره شپه وی — په هر چاورمشه بیوخته میلما نه
د فراق اوښکو دصبر تیمم مات کړ — په دریاب کښي نشته نمونځ په تیبا نه
« شمس الدین کاکړ »

وخت دنوبهار دی زه جدا له خپله یاره — دریغه دریغه دریغه چه بی یاره ځی بهاره!
ژاړی غاړي غرونه په احوال دعاشقانو — سیل د اورو ندی چه رادرومی له کهساره

اوردخوږو زړودی چه‌غره پ‌ونو بل شو
سری ددوزی خېژی له نښتره له چیناره

غوا‌ړی چه‌احوال‌دفراق جنودرمعلوم‌شی
گوره هغه زانی چه جدائی نحی له قطاره

نوري ناري نشته خو ناري د بېلتانه دی
راشه که بی اوري در باب له هره تاره

رنځ‌مې نه کمېږی‌په‌زمان زمان‌زیاتېږی
زر راځه طبیبه! گنه مرم د خدای د یاره

مرگ د رقیبا نو بل ژوندون د حبیبانو
خدای‌زو‌به‌هنگام‌دوصل کېږی دادوه کاره

څه‌شو که لادم‌وهی په شماردی دژوندیو
رنځ چه‌لا دوا شی طمع پر ېکړه له بیماره

هسې‌خوارو‌زار‌شوم‌ز خوشحال‌په‌عاشقکېښي
خپل دی که پردی دی راته‌نه گوری اه هاره

« خوشحال ختک »

چه‌په‌وخت‌دتلو‌راتلو کاچیغار و نه
دهوا دیاران زا یاد زانی‌اکثر کا

« عبد القا در ختک »

که هر څو دبېلتانه له غمه وا یم
خپل‌ژوندون‌مي دروغجن کاندي‌چه‌وایم

په‌قد کوږ په‌تن‌ضعیف گوښه‌یولی
په مثال لکه ابرو د دلربا یم

« عبد القا در ختک »

له ښکیه وچاوده وخت دصبا شو
په هر مسجد کښې اذان ادا شو

راشه‌چه‌ښکل‌دي کړم‌اوس‌به‌بېلېږو
په ځان زمو نږه صبا بلا شو

« عبد القا در ختک »

مین را یاد شو دا ستا له رنگه
که یو د رنگ کښېښي زما تر خنگه

که اشنا نه‌بی داشنا مثال لري
ځار شم قربان شم تر تا ملنگه !

« عبد القا در ختک »

وخت د سحر شو پر یوتي تلي
له کښېبه لو ریه را و ختلي

د یار د راغلو وعده شوه تېره
په دېر ککتل مي ستر گي و تلي

« عبدالقا در ختک »

د مني و خت ؤ و ني لېد لي
یو څو بلبلي چه ژړ ېد لي

خواري خسته وي وي‌مي سزاېی
چه بی گلو نو و یا ښېد لي

« عبدالقا در ختک »

ودل‌دهجر‌پرما شرط‌مکره‌پعشقکښي
ز هر چا خو ړ لی ندی په شرطو نه

« شمس الدین کاکړ »

دزړه‌ویښي‌مي په کومه‌درشتی‌خوری
هغه شونډي چه په شهدوشکر خوږ شی

بېلتانه‌مي‌هډوپوست‌هسي‌وچ کلک‌کړه
دیار لاس مي په وهل دخنجر خوږ شی

« شمس الدین کاکړ »

د هند بار را نه آهسته و وره !
یار مسافر دی د ر پسره بی ژ ړ ور ه

د سا یې گل ؤ په نازلوی شوی
و تلی نه دی هر گز له کور ه

« شمس الدین کاکړ »

د هجران له دېره غمه ولي نه مرم
له دي هسي رنگه ماتمه ولي نه مرم

چه یو یار له بله یاره جدا کېږی
د دي دهر له ستمه ولي نه مرم

چه په هر سحر زما په ژړا خاندی
چه‌یه‌لنزه گرمی شا کاندي و گل ته

له دي هسي صبحد مه و لي نه ر م
ه دي بیو فا شبنمه و لي نه مر م
« عبدالر حما ن مهمند »

زاروخوار عاشق‌دی چه‌په‌شپه‌دجدائی

درستهٔ‌شپه‌بخو به‌دا-مان ستوری شمېری
خو شحا ل ختك »

## کاغذ

مخ یی سپین ورق خالونه توری په کاغذ
دادی تما ما د محبت کمال طور و نه
ته‌که‌نه‌رادرومي گاهی گاهی په‌خطیار کره
مه کوه ناتر سه د جفا ستم را باند ي
وران به هر گز نه شی کښلی توری‌له‌ازله
ستوری د طا لع هم له جبینه معلو میږ ی
مه گوره یی خط قلندره د یا ر مخ ته

سرو مال په دا عا شقان یلوری په کاغذ
یار له جدا ئی چه یار ژ غوری په کاغذ
نیم ملا قا ت و ینم ستا له لوری په کاغذ
کله کله یاد کړه خیل‌غمخوری په کاغذ
هرزمانی که ستر گي د چا اوری په کاغذ
څه گوری قالونه د بخت ستوری په کاغذ
بی تورو ندیږی چه‌څوك گوری په کاغذ
« قلند ر »

## ١٦ — ژړا

که گریوان می‌دسپوږمی‌دنمرمشرق‌شی
درحمان خندا په اجـر دژړا ده

زه چه یار په ستر گو نه‌وینم تورتم وی
تـاز گـی د گـل پـه قـدر دشبنم وی
« عبدا لرحمان مهمند »

نـاخبـر یـه ی لـه حـالـه شفـق بـولی

که دویـنـو پـه ژړلـو کړم اسمان دوب
«عبدالر حمان‌مهمند»

بی دردان ئی‌لاس‌سرخی دشفق بولی

که په وینو کړم برجونـه د آسمان دوب
« شمس الـدین کا کړ »

زه دشمعي پـه څېر ژاړم تر صباحـه

تـه د صـبح پـه شـان خاندي لـه‌غروره
« شمس الـدین کا کړ »

لـه ژړامی شوه تـازه دزړه داغو نـه
څما دیـار پـه زړه کښی جوروستم نشتـه

لـکـه تل چـه شبنم اور ی پـر وښـو
در وی ئی سپی رقیب را تـه پرېښـو
« شمس الـدین کا کړ »

پـه سحـر ژړا دیمنـی نشا نـه ده
کـه فریـاد پـه زورمـنـکرم‌زړه‌می‌چوی

بـلـبلانو یـر ي لـوولـی گـواهـی ده
کـه‌پـه زوره ناري کړ مـه رسوانی ده
« مطیـع الله پیر خیل »

هرسحر ستر گي د گـل له اوښود کی

پـه دابـا غ کښی ئی ژړلـو خنـدانشته
« عبدالقـادرختـك »

روهی گلونه (٥٢٥) ب: سردار محمد: ح محمد علی خان: ر عبدالغنی: ن رجب علی: ه اجرائیه پښتو ټولنه تاریخ ۷ - ۱۱ - ۱۳۲۵ ع

## ۱۷ ـ اوښکي :

څه اثر به زما اوښي په تا کاندي
لا تازه شي اور په اوښو د کباب
« عبدالرحمان مهمند »

هومره اوښي مي بهېږي په رخسار
چه غرقاب مي هم ګرېوان دی هم کنار
په ګرېوان مي تل د اوښو باران وري
نه ورکېږي در حسان د زړه غبار
« عبدالرحمن مهمند

خدای پیدا کړم لکه اوښکي په ماتم کښي
څکه برخه مي ژړا شوه له السته
« شمس الدین کاکړ »

پاکوم سترګي په اوښو دیار مخ ته
ناروا دي په قران وهل خیچن لاس
« مطیع الله پیرخیل »

په ناولی مخ دیدن د ښکلو نشي
چه څوک اونه شي د اوښو په باران مخ
« پیر محمد کاکړ »

له حسرته خپلو اوښکو پرسر پوډم
محبت په شان و شکل د حباب کړم
« عبدالله یوسفزی »

دا ورك زړه غواړم په او ښو یسي څغلم
زخمي ښکار په بسمل دوینو پیدا کېږي
« میرزا حنان »

## ۱۸ ـ غم :

غم دي هسي غلبه شو په ما باندي
له ژګېروی ئې مي نور خلق په عذاب شوه
زه دستا په غم کښي شمعې غوندي ژاړم
زړه مي ستا په اوری هسی او ېران دی
ما دي ستا دانه ښیڼو په غم کښي سوي
داد ستور دی چه لوی غم په سړی ورشی
هرچه ما په نصیحت له تا جار باسی
سره لمبه ګوره چه څه کا په وچ دړکی

هسي زه یمه دیار په غم تازه
سترګي وخورم که نېي وچي کړم له نمه
زه به څه کړم دچا چاري بی دیاره
دیار نوی نوی غم زېږوی و صل
که دي زړه له غمه وچوی دلګیر مه شه
ښایسته یاران ګلونه دی رحمانه !

چه مي څای شی نه دننه نه د باندي
تل دوچو له کبله سوزی تاندي
ته زما په غم کښي صبح غرندي خاندي
لکه زلفي دي په مخ دی او بېزا ندي
ددنیا اند ښیڼی واړه لکه سپاندي
نور غمونه ئې همه شی تر پښو لاندي
بیا دي ستا په اوری دروسی له ماوړاندي
مخ دیار په رحمان هسي چاري کاندي
« عبدالرحمان مهمند »

لکه وی هره ګیاه په نسیم تازه
که مي شي په دا ژړا صنم تازه
هر سړی دی پخپل سا په دم تازه
رفوی سوی پرهر مرهم تازه
کا تبان کړی په چول قلم تازه
بیلتا نه کړه اکثر مرا وی کسم تازه
« عبدالرحمان مهمند »

لکه غم دبختورو له خاطره
قسمت هسې لهښا دليو کناره کړم
« عبدالقادر خټك »

تل مطيع الله ځکه سرور په دود نغمې کا
دا مشهور متل دی فرياد غم پر ښا نوی
« مطيع الله پير خيل »

غم د يار مې په خاطر کښې محکم بيا موند
په کعبه کښې مې صياد د حرم بيا موند
« پير محمد کاکړ »

جاى نشين وغم ته تل په انتظار کښې
رکالا يا نوى بندي يم د انګريز
« عبدالله يوپلزى »

لاله افسوس کاد زړه له داغه
کفن ئې رنګه کړ دزړه په وينو
په چمن نه دی خاطر فراغه
په ارمان ويست خزان له باغه
« شمس الدين کاکړ »

ګوتې چه پر نبض زماز دی هغه پېرې سوځی
ځکه مې حيران شوو علاج و ته طبيب
« پير محمد کاکړ »

۱۹ ـ رقيب :

ستې رقيب ئې کښېنولی دی په مخکښې
هر څوك زدی کوډی په مخکښې دباڼېز
« شمس الدين کاکړ »

عشق له عقله څخه کا خلاف کارونه
بې هنره سپی رقيب هلته څه غوښت
ګڼه زه څوك اشنائى د زور ورڅوك
که ويارته رسېداى شوى په هنر څوك
« شمس الدين کاکړ »

د رقيب وسرته وزى تېرى ناست يم
پرې پرېږنې نېږدم که ئې پلار په لاس را کښېوت
« مرزا حنان »

مافبول د رقيب ناز کړ ستا دپاره
سوداوزيان په دا جهان کښې خوراوورور دی
« عبدالرحمان مهمند »

۲۰ ـ جفا :

ستاد عشق حرفونه تورنه دی ګلګون دی
تش به نه شى هغه خم د عشق له ميو
د دنيا چارې همه واړه فانى دی
مقتولان ستا د غمزو دی لا له ندی
در جمان دزړه خوناب مګر قبول شو
هم په دا چه نوشته په جګر خون دی
چه ئې خاورې د فرهاد و د مجنون دی
داد ستا جورو جفاو لې افزون دی
چه په سره کفن له مځکې رابېرون دی
چه مخ ونه د دلبرو پرې ګلګون دی
« عبدالرحمان مهمند »

له خو بانو چه کوم دوفا طمعه
کتورى غواړم د زانو له قطاره
« قلندر »

ن مې پيالې تور وستر ګو سره جنګې دی
که پر هکړی سر په لاس ورلره راشم
پر لبانو ئې دزړه دوينو رنګې دی
لا په دائى باور نشى زړه ئې سنګ دی
« تيمور شاه ابدالى »

## ج : بدیعي تشبیه گاني

خوله دې گل غنچه ده تور گیسو دې سنبل پاڼې ... ښې ددې دزر کې سپینه غاړه دې دزانې
شونډې دې ژوندون ښې به ستر گو کړې خونه ... ژبه دې شکرې ده د ننه په زړه پانې
هیڅ پری نه یو هیبزم دا دې زنه که منه ده ... خال دې دی په رنه که دانه ده د هما نې
« خوشحال خټک »

کنده ولی د دوا ړو ستر گو ستا په طمعه ... وهر لور ته مې نیولی کور په کور دی
چه مې خیال د تر کوو لید و په زړه کښې ... د وا ړه کسی مې و زړه و ته ننسکور دی
« عبد الرحمان مهمند »

مایه خوا ست وزاری خوله له یاره غو ښته ... ده په ناز لکه غنچه سره و نغښته
څه خو حال زما تر غوږه د یار ور و ړه ... چه مدام هسکا پرتا خواب د ناز با لښته
محبو با پر پا انګک وا وښته په خوب کښې ... که هوسۍ ده د بهار پر گلو ر غښته
ثمره د بد فر زند ښکنځل د پلار دی ... پیدا مشه نا خلف د چا له پښته
« شمس الدین کاکړ »

چه له غنګه د گلرخ مې اغیار کښېناست ... په چشمانو کښې مې گل عوندې خار کښېناست
« پیر محمد کاکړ »

آهو چشم پر سبزه د چمن رام شو ... یا پر تخت د زمرد شهر یار کښېناست
« پیر محمد کاکړ »

که عشاق جنګ وجدل کابانډې څه شوه ... پر گلزار وی د بلبلو شر و شور
« پیر محمد کاکړ »

کوم یو له دوه ؤښه دی سپین رخسار که چنبیل گل ... کوم یو له دوه ؤښه دی تور گیسو که سنبل گل
« پیر محمد کاکړ »

پر سینه د گلبدن گر یوان پاره شو ... د غنچې له چا که رنګ د گل ښکاره شو
« پیر محمد کاکړ »

دا تور خط راغی پر مخ د گلعذار ... که غالب شوه په کشمیر باندې کفار
« شمس الدین کاکړ »

چه مې ستا د مینې داغ په خاطر یوړ ... زړ غونه به مې لاله شی له تربته
« میانعیم متی زی »

میانعیم ناست دی ستا دغاړی الیلونه شماری ... یکښې پراته دی هزاران زړونه پلیلی صنم
« میانعیم متی زی »

گوتې تورې کړې په بای کړې دا بورې ... زه حیران یم ستا د سپینو گو تو تورته
« خوا جه محمد بنګښ »

زه درپسې درسته شپه پټ ژاړم لکه شمع ... ته صبا خندان لکه گل واز گریوان دچاپی
« علیخان خټک »

یون ني د تند رو ، در بد ه ني دی د سرو    بپر کوی به بلهو کښي حمله ني دسپاره ده
« علیخان ختك »

تما شا چه زه د خپل دا غو نو تـل کړ م    هم گـلشن هم لاله زاریه لاس را کښیوت
« مر زا حنان »

د گـلرخ په هوا در ستـه شپـه ر فتـن کړم    دشبنم په څېر بښي يبلي سر سر تور تحم
« شمس الد ین کـا کړ »

او ښي در ، ر نـگك گهر با ز بده لـکه لعل    جنس مي ډېر ولي رونق د بازار ته نشته
« مرزا حـنان »

د یار خیا ل ته مي خالی کړ د ز ړ ه غو لی    میلما نه لره تیا ر شی سرای د ستور دی
« مر زا حنان »

چه دي خیال په خا طر را شی مضطرب شم    لـکه پیښ چه د مفلس کره مهما ن شی
« مر زا حنان »

چـه تا و و یـنم تا ز ه غز ل ا نشـا کړ م    يري بلبلي فریاد کـاندی چه گـلعذاروی
« خو شحال ختك »

پـر خپـل ځای با نـدي ولاړ يـم لکه شمع    تـرڅـزل پـوري رفتـار کړم لـکه شمع
« شمس ا لـدين کـا کړ »

وخـت دی راغـی دڤـدا کـه فدا کـپـېزی    شـمعـه بلـه شوه تـازه پـتنـگـه خوڅـه !
« جمعه بـار گـزی »

آفـریـن دي پـــه ول ول تـوروسنبـلـــو    چـه ئی ځـای د پـا ســه وینـو پـه گـلـو
« خوشحال ختك »

## قبیـح اوملیـح

کـه یو ځـلـه ئی پـهسرور بـاند ي کښېني    رنـــځ د هجـر بـه شـی د فـم دبیمـار
پـه مـدار مدار بـه ئي کـازم چـه خوزنه شی    دبـانـو پـه ستني ستـاد پو نـدي خـار
« شمس الـدين کـا کړ »

# دویم باب ـ اخلاق او نصایح

## الف : ښه خویونه

### ۱ ـ اخلاق

که د رنګ خوبی ئې ستایې بودیې نشته      په جهان کښ که باقي دي خو اخلاق دی
« خوشحال خټك »

په خو یونو کښ ډېر فرق دی      که سړی پرې خبردار شی
ځینې هسې خوی آغاز کا      چه خپل هم ځینې ویزار شی
ځینې هسې خوی آغاز کا      چه پر دی ئې خدمتګار شی
که څوك خپل خصلت دښو کا      تر سرو زرو به ډېر و پېدار شی
« خوشحال خټك »

ثنا د ګل شی له ښکلیه بو یه      صفت د مرد شی له نیکه خویه
اهل به نه کا ستا ینه هیڅ ري      د ګل له رنګه د مرد له رویه
« عبدالقادر خټك »

چه ګل همت ئې خوراك لباس وی      په تحقیق هغه ارذال الناس وی
شرف په خوی دی په دیانت دی      که څوك شریف وي یا څوك کناس وی
« عبدالقادر خټك »

په ښه خوی د سړی قدر قیمت کېږی      بد خصلت سړی یا دیو دی یا پېری دی
چه ئې علم وهنر نه وي ځني تښته !      بې هنر سړی که وګوري لاشی دی
« خوشحال خټك »

په ښه خوی باندې پردی عالم خپلېږی      په بد خوی باندې خپل واړه شی سوا
« قلندر اپریدی »

که دي رنګ، بو، لطافت واړه دلحان کړل      نور د ګل په څېری یاس په دستار ګرځه
« فاضل »

دښه خوی ګټه ده ډېره      له ګڼلو تر اند تېره
هغه څوك چه اخلاقی وی      د هغه نوم به باقی وی
که دچا اخلاق ښه نه وی      د هغه به ژوند ښه نه وی
د اسلام دین دی راغلی      پیغمبر دی یا څپه لی
چه پوره کی ښه اخلاق      او پر ځای کی دا میثاق
په خویو انسان انسان دی      که نه وی خوتش حیوان دی
مکارم انسانیت دی      ر ذائل حیوانیت دی
« عبدالکریم کاکړ »

هر طرف پرې سره ځمکه سره پنډه شي
په نسب که خان ، نواب قاضي قضات وي

لکه کښت لره باران اوباد په کار دي

رب دې مکړه د اخلاقو پلمه سپکه
بد اخلاق سړی نه ارزي په کنجله
« احمد گل الملي »
د عالم تولي په خلق په احسان شي
« خوشحال ختک »

۲ - په ځان باور « او » همت :
چه فلك سره سر باسي
کړه ئې ندي بې حکمته

په همت کښې هغه زه يم
زه خوشحال دده په کړه يم
« خوشحال ختك »

په تېرو تورو ور دروې يکسر ننگان
د کنجکو قدر يو ، د در ويل د ی
ار تگى د زړه دليل د جنتي د ه
د باد شاه په سلطنت پورې خندا کا
نور ماهي ئې تار په تار دروي له مخې
دهاتي دپاسه سپور ورته پيکه وي

په له بو باندې ځان ولی پښتنگان !
ننگيا لو سره څه ژوی بی ننگان
د دو زخ دا ور لا يق د ی دلتنگان
په سپېر و اېرو لړ لي ملنگان !
ما تو ی لو لې بېړ ی، نهنگان
چه د مېو پيالې آخلي سر هنگان

څه د ځان صرفه اوس کار کوه خوشحاله
لکه کار کا پر ها ر ژ ا ی پلنگا ن

« خوشحال ختك »

چه په غوښو ئې روز گار هغه زمری يم
که عالم راته کل تا وکاغم مې نشته
په دانش په شعور نده په همت ده
هر پښتون چه د مغولو نو کرى کا
چه منصب مې د مغل خوړ يو ملك وم
د فرمان د پروانې حکم ئې نشته
نه مې کار په خاص وعام نه په ديوان دی
نه تصديق شته نه يادداشت شته نه توجيه شته
هر گيدی به چه له ما سر کوزی غوښته
پښتانه لره شړی، اند ېر مې بس دی
آزادی ده په ساده سپينه جامه کښې
د وښو جونگړي هسې راته ښې شوې
که او گره د ښو شته په شړو مېو سپينه
چه نيولی مې داهو د ننگ ونام دی
په بل غشی توپك هيڅ ويشتلی نه يم
چه ښهپر مې ښۍ خيل وو كند كيرشول
د کريز بڼې مې توښې لکه باز کړې
تف په زيره د همه وا ړو بار کو

نه چه ولې ئې خوراك هغه مېږك يم
په رښتيا ويل د دېرو بو ليو لك يم
چه دا هسې سر گردان لکه پتك يم
که د ی زر ، د هغو واړو بهترك يم
چه منصب د مغل نشته اوس ملك يم
شکر داچه په خپل حکم په خپل وك يم
نه په درو لاړ د هر يو ه مردك يم
نه په فكر د سند نه د دستك يم
د هغه د سر يا توره يا كوتك يم
نه په فكر د مسندنه د تو شك يم
خلاص دغمه د زر بفت اود ميلك يم
وايى ناست په محلونو د آهك يم
د مغولو پولاو پانې دېر برې دك يم
که له خپلو هوده وا وړم كنيزك يم
که ويشتلی يم خو بيا په خپل توپك يم
پر وا دار په لنډو پرونو دبارك يم
گمان مه مکړه چه بې پرو ښا پېرك يم
لا زما په زيره هم كه زه بارك يم

که دواړو پښتنو را ته تسليم دی  زه خو يا دسبا کی انا خشتك يم
نن خو قام‌را سره ډېره جفا و کړه  کانده يا د خدای وحکم و ته ځك يم
که څه حق يا دنيکی يا دوروری شته  و يا داش وته په طمع د هر يك يم
مهمندی زما د کډی لاس او پښې دی  راضی من دافريد يو په کو مك يم
ډېر چينی چه تراوش و کا درياب شی  چه ايده شم اوس خود ايم يو بولك يم
کړ لانسی څړ بنسی څو چه پښتانه دی  زه د ننګ په کار دواړو مشترك يم
که مې عمر په شماره تر شپيته تېر دی  لا په کار د سواری لکه از بك يم
د افغان په ننګ مې وتړله توره  ننګيالی دزمانې خوشحال خټك يم
« خوشحال خټك »

❀ ❀ ❀

حواله مې په تېشه د فرهاد شه ده  تر هغه چه نا هموار لکه خا را يم
تر هغه چه سرد جوشی د حنا وينم  خو ش په طور د مك بې دست و پا يم
« کاظم خان شيدا »

بار دهر خس و خاشاك په‌خپل ګردن زده  حو صله دې په مثال د لوی دريا کړه
« کاظم خان شيدا »

راته يو دی بحرو بر  که څه سمه وی که غر
په همت به ئې تسخير کړم  په شا ها نه شا ن وغر
« احمدشاه بابا »

ای مرزا په خپل اختيار له ځايه پاڅه  دون همت انديښه مه‌کړه بله بله
« مرزا خان انصاری »

که فلك ئې دزمری په‌خوله کښې ور کا  خدای‌دې نه کا چه‌عارف پکښې غارت‌شی
« خوشحال خټك »

څه‌هغه شهباز شه‌چه دې‌ځای په سردرو وی  نه لکه د کلی کارغه ګرزه غم دبن کړه
« خوشحال خټك »

که ئې ته په منت مومې وائې مه خله  که دچا په باغ کښې بوټی د کيميا دی
« خوشحال خټك »

سردې دروميمال دې دروميی پت دنه ځی  د سړی د چارې کل خو بی په پت ده
چه‌يې خدای ور کاو چاشکرد کاندې‌ندې  په جها ن کښې او په بحر و د همت ده
« خو شحال خټك »

علم تا پيائی په پورته جهل تا پيائی په ښکته  پاعيسی اره وردرو مه پاقا رون ته‌ځان‌سپاره
د نباتو حلوامه‌خوره چه‌منت‌ورسره مل‌وی  خپل کشکاب‌دخپل‌محنت خوره په‌سر راوړه‌پشتاره
« خوشحال خټك »

❀ ❀ ❀

هغه زيست چه د عز ت له مخه‌نه وی  چه‌يې کابه هغه زيست پورې هكې پكې يم
اوريې پوری په منصب په نو کری شه  چه تر فهم و تر نظر د مغل کښې يم

په خپل نام و ننګ چه را شم لیونی شم
خبر دار کله په سود او زیان دلګی یم
چه په طمع د او ړ و ز غلی و شست ته !
ګمان مکړه چه هغه نا پوه سمګی یم
تر قضا پورې د هیچا چاره نشته !
او کنه تر زاړه ذئب لا زیرک یم
لکه باز په لوی لوی ښکار زما نظر دی
نه چه ګرځی ګونګټ نیسی بادخورکی یم
« خوشحال ختک »

❁ ❁ ❁

که د جام لکه حباب وه نه نیو سیند ته
آفرین دې په همت شیدا ختک ته
« کاظم خان شیدا »

❁ ❁ ❁

په خو غره په غره د باز غوندی پرواز کا
بیا به وانی د خوشحال ختک پرښته
« خوشحال ختک »

ساقی جام د میو مه پر ښږده له لا سه
خو د عقل څه زده وی لا به مست کښې
د بلند همت کښې پورته پورته درومی
ښکته ښکته ځی سړی په پست همت کښې
« خوشحال ختک »

چه همت د سړی څو قدر ی هو مره
د امیز په تله هر سړی تا له شی
د و لتمن سړی هغه بلبلی بویه
چه له سینده نی جدا د چا واله شی
« خوشحال ختک »

نور ه پښتو نخوا ه په ځای میشته د ه
خو یو زه دی زمانی په کښې منصور کړم
که یی درست د دوی زور راته ښکاره کړه
نه به بیا په قوم کښې کښېنم نه به هور کړم
عجب مار می چار و تلی تر دوه پښو دی
مګر لوی پادو پیداشی چه یی دور کړم
مست ها تیان خونی زمری په زنځیر کښېږی
بویه دا چه ځان فلک وته تر بور کړم
په خپل اه می باور شته اثر به وکا !
رقیبا ن به او ر لړ و نی د تنور کړم
یو دوه سړی مارمی پروت په دواړو پښو دی
په دیدن یی له نشاطه نه نفور کړم
« خوشحال ختک »

کار په خپله تر دستی لکه حباب کړه
چه محتاج د خیاط نه شی پیرهن ته
« کاظم خان شیدا »

د با ښی د باز نصیب شوی تازه غوښی
دوچ در بو بیخ نصیب شود سپهر کنندي
« مطیع الله »

وزی تېږی پروت په خپل پوزکی ښه نی
نه په تخت د پاسه ناست د بل کره
دمنت پو لا و دي زهر شه که نی مومي
د محنت سوی سکړک د ساګی سره
« عبد الحمید مهمند »

که د توان رسی به لوی دریاب کښې ګرزه
په بیله کښې دي زوال وینم نهنګه
عاقبت به ککری ور با ندی کښېږدي
تر خراغ چه کېښې وښی ګرځی پتنګه
هغه یار که په پا لنګ را سره نشته
دا هم شکر چه نی بوی ځی له پالنګه
دعمزي به تیغ نی خوږ ښه نی خوشحا له
مړ نی په روغ صورت نه ځی له جنګه
« خوشحال ختک »

که غوټۍ پسې وهې په لاس به در شي
که د جنګ په کار کښې دېر دي حکمتونه
څه عجب باد شاهي لکه خور شید کړم
د همت دارو که مرم په کار مې ندی

را شه ګوره نامردان بلا و هلې
د آسمان د پاسه ګنبت ننداره نکاه
مړ هغه چه ئې نوم نه یې نښان شته
خوك په خپل همت کړل کا د اغزي و
پسینه کړنه هو مره فا ئیده نکا
چه محنت په ځان قبول کا راحت موی

بنسیاد د چارې په مصلحت دی
چه سره یو شي دا دواړه نو که

مردان هغه دی چه همتناك شو ی
کار چه آغاز کا انجام ئې فرض ګڼي

چه په ځبل د خپلو وینو سر خرو ګرزم
چه په وازه خوله موندہ شي مه یې وینم

که د مځکې غوندي کوز په تواضع یم

چه همت دي د تپوس دی ځان بازمه کړه

هر سړی په موافق د خپل همت نظر اری نه

مردان هغه دی چه همتناك و ی
چه غم پرې را شي پروا د غم نه کا

چه په شان د آفتاب ندی ګرم رو یه

چه همت مې نه کا ډېر په هسکو او
سوال مې خوی له در افشانه ابر ندی
د آفتاب په کمند نه خېژم آسمان ته

چا وی دا چه په دریاب کښې ګوهر شته
خو صدا پر نشي ز لمیه ظفر نشته
یکه تنها په جهان ګرزم لشکر نشته
که علاج لره مې را شي مسیحا هم
« خوشحال خټك »

د پرې میدان پرېښې دی لړې تې زغلی
کوز د ځمکې د تلې په منځ کښې هلې
تل تر تله په زوندون پاڼې بنا غلې
چا په خپل همت ګدو نه دی کړ لې
چه په وخت کړ نه و کا پر آ خلې
رنج و ګنج سره دا دواړه دی تړ لې
« خوشحال خټك »

بیا د مړ د انو په بنه همت د ی
واړه دولت دی حرمت عزت د ی
« خوشحال خټك »

د ننګیالی په کار کښې چست و چالاك وی
په زړه هم پاك وی په خوله هم پاك وی
« خوشحال خټك »

څه منت به دد و نا نو د دینار کړم
که صدف غوندي حاصل در شهوار کړم
« عبدالقادر »

په همت تر واړه پاس لکه آسمان یم
« عبدالقادر »

ځان په رسم د جانباز و جان باز مه کړه
« عبدالقادر »

په ورو چارو هیڅ کله ګته نکاندي لوی چاری
« عبدالقادر »

په هره چار کښې چست و چالاك وی
خوازه له هر چا په زیست وژواك وی
« خوشحال خټك »

ستا په سر کې په سایه دهما خوښ یم
« کاظم خان شیدا »

لکه موج نکړمه بیم له پر هو تلو
صدف وار انه خپله خوله کړه په غوښتلو
په زړه بار لکه شبنم پر دوش د ګلو
« کاظم خان شیدا »

۳ ـ امید :

د شپې څېښتن دې سحر نه گوري
هیڅوك د ی طمع امید پرېږي نه کا

له مقصوده نا امید مشه یکلخته

دادستور دی چه شپه و لوېږي په څمکه

په ژوندون به لکه شمع دا سرد نه شم

هر گره گره کشا لري نیکبخته

٤ عزم او توکل :

دهوښیارو نادان هومره تفاوت دی
که په ما باندې څرخ خوري پروایې نکړم

نه رسي ترپاره هر چه دېرې اندېښنې کا

هغه باغ چه تل ما واده دبلبلو
دزړه راز و چاته ووایم حیران یم
توکلت علی الله و ینا یو وه ده

په پرېشانو اندېښنو خاطر پرېشان شي

۵ ـ جد وجهد :

په طلب کښې دې سستي وینم درویشه
نعمتونه رنګارنګ دي په هر لوری
څو طلب هومره موندل دي په دادور
د عملو خوازه کله هغه مومي !

غشي چه ډېر ولي ښه تیر انداز شي
کار د محنت دی د مشقت دی

هر مرغه چه دبل غوښې خوري مردار دی
دذړې په خیر دلمر په طالب گرځه
کار به تش لستوني نشي بې دلاسه
چه تقوی د یانت نلري ز حما نه

گوندې پسرې و خپړی د صبا ستوري
باران په تېز و کښېتو نو اوري
« خوشحال خټك »

خدای په ځمکه کامرغونه د هوا پېښ
« عبدالحمید مهمند »

په شتاب ور پسې صبحدم را ځي
« عبدالحمید مهمند »

چه تر مرگه پورې زما جانگزاري ده
« کاظم خان شیدا »

نا امید له خدایه غوته جبین مه شه
« عبدالرحمان مهمند »

خو د ځمکې د آسمان په مینځ کښې وت دی
د هر هر کله دانا سره په نښت دی
«خوشحال خټك

نورې کیسې پرېږده دعشق په تو کل هسې
«خوشحال خټك»

اوس یه ده کښې د بلبلو آواز نشته
په هر لوری چه نظر کړم همراز نشته
د خوشحال دزماني سره ساز نشته
«خوشحال خټك»

جمعیت مومي خاطر له توکله
«عبدالقادر خټك»

چه و تلی یی ددې خونې له ویشه
په غښتونې با نه پې نده جفا پېښه
بلکه لا تر طلب بخره مومي بیشه
چه حذر کا د مچې له بده نیشه
« خوشحال خټك »

چه مشق دخط کړی وخط ته سازشي
ودو ورو په هر هنر ممتاز شي
«خوشحال خټك»

ځان حلال کړه لکه زانه شاهین مشه
لکه تېښزه هسې پروت په زمین مشه
لاس په توره کړه بې لاسه آستین مشه
د دې هسې همنشینو نشین مشه
«عبدالرحمان مهمند»

چه زمري خپلې منګولې نه کا کيلې     هومره نه وي ښکاري غوښې ورته ملي
مرجونړا درو مرجان هله ولجه کا     چه قبول کاندي د بحر خوني چلي
عاشقان چه ترسره تېر شي هله ښکار کا     د ابرو پسې خولې لکه جلې
بازچه والوزي له جالې هله ګوري     د کبکانو ښايسته سترګي کجلې
چه داور بخري ياد سره رفيق شي     بيا هاله کا په ملکو نو لمبې بلې
چه سيلاب د غره د سره نه روان شي     بيا هاله بيايي په مخ د بري خځلې
«خوشحال خټک»

* * *

په تحصيل پسې يې ځکه کوښښ بويه     خپل هنر له لاسه مه پرېږده خوشحاله
«خوشحال خټک»

چه تورده ترڅه قبول لکه درياب کا     هم هغه د قيمتي در و ماب شه
چه لمبه يې د آتش کړه په ځان تېره     له هغه پسه د ګلا بو ګل ګلاب شه
د کمال کسب پا په دسعا دت ده     هغه ښه چه د کمال په اکتساب شه
ته هم زده مراد وغواړه له عمله     چه په علم يې عمل وکړ کامياب شه
«خوشحال خټک»

ښادي عم غوندې آسانه موندنه شي     سور په خپلو وينو لعل د بدخشان دي
«عبدالرحمان مهمند»

زر ندوهله څه حاصل کاندي چه ګرزي     بو زمان قراري مکړه له طلبه
«عبدالقادر خټک»

له آزاره چا بازار موندلی ندی     له انګاره چا ګلزار موندلی ندی
تلوار مکړه په خپل وار به برخه در شي     بې له واره چا خپل وار موندلی ندی
په قصور مطلب موند نه شي پسې پاسه     له ګفتاره چا کردار موندلی ندی
«مطيع الله پير خيل»

کار کوه کار په کار هم کار دی     تاوان په ځان باندې خالي ګفتار دی
عقل څه بل دی خبري نور څه دی     ګوتره ګوته طوطا طرار دي
«عبدالقادر خټک»

لکه عامل شوه د خاورو لاندې     عمل هم ورك شو په مځکه باندې
اوس په خبره بړول و بل دی     دا بيت بازي دي عالم يې کاندي
«عبدالقادر خټک»

ګله بلا د رومي له ماي د سحر خوبه     خوب بيغمه نه کا چه په مخکښ يې منزل دی
«عبدالقادر خټک»

چه منت په ځان قبول کا نو راحت شي     چه عارف د مصيبت شي عافيت شي
«خوشحال خټک»

٦ـ صبر او استقلال :

غشی چه د ېز ولې ښه تېر انداز شي     چه مشق د خط کړي و خط ته ساز شي
کار د محنت دی د مشقت دی     ورو ، ورو ، په هر هر هنر ممتاز شي
«خوشحال خټک»

مړ تېي د هر چا نه دی سره سمي
نه چه لافې د مردانو د میدان کړی
که همه خلق یې سنز شه پخندانه

دمرد چه صبر چه استقلال نه دی
مرد دی یې هیڅ ده و زما په بو هه

اضطراب به دې خلاص نه کاله خدا؛

په تاسکه را شي خداد ته لو یه
ته په یې دفع په صبرو کړی

صبرو نیسه په بخکښ که مراد غواړی

ای حنانه صبر وکړه مراد به مومی

خلاص به نه شي سر کشان له گوشمالی

دا نا یی مه گڼه چه صبر نه لری
سړی د صبر به کار کښې و زمیه !

صبر نا کو سره جور فلك نه کا

ژوندی که گرځي خان یې ژړلی دی
چه صبر نه لری ظفر به نه مومی

شورش مکړه د گردون له کش مکشه

دخرد بار د فیل په شا باندې مثقال دی
په میدان دی کوم راوړی استقلال دی
بېچاره خوشحال په خپل هنر خوشحال دی
« خوشحال خټك »

چه هم پری راشی یکښې خو شحال نه دی
که بې په جاه ودولت خوك سیال نه وی
« خوشحال خټك »

مستقل و ر ته په صبر و تحمل شه
« عبدالقادر خټك »

تېښته تسلیم صبر ته بو ه
نه په لښکر و په زر ا و ز و یه
« خوشحالی خټك »

هیڅ کړی دغه کار په شتاب نه دی
« عبدالرحمن مهمند »

د فلك زر نده په وارده پس و پیش
« مرزا حنن »

چه فلك په جهان شته دی تلوار مکړه
« کاظم خان شیدا »

چه صبر نه لری حکمت به څه لری
چه صبر ناك وی هر څه به ښه لری
« خوشحال خټك »

د فلك جور د چا چه سبکسار و
« خوشحال خټك »

تور زن د سر به وینو لړ لی دی
ظفر له صبره سره تړ لی دی
« خوشحال خټك »

اومه کلکه کا مرغی له اضطر ا به
« اشرف خا ن هجری »

## ۷ــ دوخت اهمیت :

دو باره دې را تله نشته په د نیا
هرچا چه تروخت تېره شي عتقاشی
تر ورځ تېری او به بېرته نه جار وزی
تېر ساعت په مثال مړی د لحد دی
مره انبه چه صحیح گڼه به زړه کښې
په عمل د نیکو بدو فهم و گرنه
شه.

نن دې وار دی که دروغ کړی که رښتیا
عتقانه نېلی په دا م کښې د هیڅ چا
نه جار وزی تېر ساعت به بېرته بیا
مړی چاری ژو ندی کړی په ژړا
په غرور به هغه نېه کړی خطا
چه به دا کښې دې بهو د دی که په دا
« عبدالرحمان مهمند »

چه بې وخته ارمان کا به وخت وبه موی

که د پېره سعیه کوښښ کړی څه شي
که هر څو مې په ېږی مـلاج کا

آبشا ره ! و لی دا هسې ژاړ ی !
که تل فریاد کړی به کاڼی سروهې !

کړل دی ویل دی دواړه اوان لري
چه کار دنن ورځې پر بېرړدی صباته

## ۸ - زړه

شه سړی پردی بدلا په نیکی خپل کا

یوزړه دخوشحال ندی چه جهان بکښې ایده شي

دواړه څکو نه لکه تن دی
زړه یی چون او بیچکو دی

خودي زړه خاندی خوله دي خندا کا
مدار دهري چاري په زړه دی

د ناز کدلو اطو ار مشکل دی
... هم بې نښته گنډل یې هم لا

ستړو سوځـه پداور کښې شراب وخښه

که هزار ځله تقري په هېز اگاری کړنې

قلب د دمومن گوره ملقب په عرش الله دی

چه ذړه تو دنیا نخلو ... پروا وی

و گر ی واړه کاروانه خپل کا
خو که چه آرام گټې ذ شکو نام گټې

د هغه عالمو زړه ري د وښکو دی
« عبدالرحمان مهمند »
په وخت چه نکړی بې وخته څه شي
په ژانگی چه کښېوزی پوري هاله شي
« عبد القادر ختک »
له چا فریاد کړي څوك یسی غوادی
بیانه را نشین او به نځه لاړ ي
« عبدا لقادر ختك »
چه وخت یې تېر شی افسوس ار مان لری
هو ښیار به نه وی دا خوی نادان لری
« خوشحال ختك »

کومه شاغلناده چه خوك بد کا زړه دیار خپل
« خوشحال ختك »
دهرچا زړه مر آت دی صفائی وراره بویه
«خوشحال ختك»
کار د تن جوړ وی زړه
خوك دا غم شه گنی زړه
«خوشحال ختك»
چه زړه دي ژاړی ستر گې ژړا کا
زړه دي مفتی دی هزه فتوي کا
« خوشحال ختك »
په دا به پوه شی هر چه عاقل دی
که زخمی شوی د مینا دل دی
« کاظم خان شیدا»
در ته وا یم خود زړونو آزار مکړه
« عبدالرحیم هوتك »
شه دي مشته چه مدام دل آزاری کړی
«عبدالرحیم هوتك»
زار ذاراز جو یو چه دزړه په بازار بلوسی
« دالپوری حافظ »
تزو که زړه دسړی پوسی څه یکار
« عبدالرحمن مهمند »
مردان هغه دی چه کار د بل کا
د خو زو زړو نو دارو به تل کا
«خوشحال ختك»

نه سره سم دی واله مړونه ؛ نه سره سم دی دهر چا زړونه
زړه هم هغه ګڼه چه ا که غرشی که یا ندی راشی هزار غمونه
«خوشحال ختک»

مرهم په زړه‌زده پرهارونه دا نیا به گل کړی ناادان خارونه»
په هره سوړه لاسونه مه منده یکښې به خوب کا خونی مارونه
« خوشحال ختک »

زړه دی دهر چا سره صفا وی په‌چا گرم مه‌شه که‌دی رضاوی
که‌څوک ناحقه اتا پرخاش کا اند وه ئې مه‌کړه ظفر به ستاوی
«خوشحال ختک»

په بدن کښې دزړه اهمیت .

زړه په مثل د یادشاه دی هر اندام د ده سپا دی
ټول د ده فرمان برداردی دی یاد دوی خدمتگار دی
کل اعضا یې مسخر دی د ده حکم ته مضطر دی
په فرمان یې خوله ویل کړی لاس نیول ، ستر گې کتل کړی
په بدن کښې گوشت پاره ده چه کوچنوټې یې جثه ده
چه وی راست شی راست بدن شی چه فاسد شی فاسد تن شی
پس چه شو صلاح فسا د: تما می په زړه بنیاد
ته مدام اصلاح دزړه کړه په هیڅ وخت غفلت مه‌کړه
زړه په مثل گنجینه ده د گوهر و خزینه ده
ډیر پکښې دی جواهر قیمتی نفیس نادر
اول عقل ښه گوهر دی د جمله نعمتو سر دی
بل گوهر یې معرفت دی زیات تر نورو په قیمت دی
نور علمونه حکمتونه واړه دی لوی نعمتونه
چه زړه هسې خزانه ده د گوهر و گنجینه ده
پس لازم یې ده ساتنه له جمله ؤ غلو ر هزنه
چه دښمن یې تالا نه کا جواهر یې یغما نه کا
«حبیب الله کاکړ»

چه‌غرقاب‌شی تورمژگان په‌نم دزړه نورخراب شی خانمان په دزړه
عبث‌وای غم دزړه وبوالهوس ته چه‌یوهېنزی هلکان په غم دزړه
په بل مخ باندې سوا د یار له مخه ما ترلی دی چشمان محکم دزړه
چه‌یې عرش او کرسی لاندې‌تر قدم‌دی بالا تردی هسې شان قدم دزړه
دخلیل له کعبې ۱۰ کعبه ده اویه که‌آباد کاڅوك ویران‌حرم دزړه
که‌نور خلق قدمونه ږدی په مځکه مادی ایښی په آسمان قدم دزړه
دامکان‌چه‌دآسمان مځکې‌ترمیان‌دی یو خلوت دی دامکان سلم دزړه
زه مرهم دزړه له‌چا غواړم بی‌یاره چه کړی نشی طبیبان مرهم دزړه
صورتی همدان ډیر دی په دنیا کښې ولې نه مومی رحمان همدم دزړه
«عبدالرحمن مهمند»

همیشه په ځای د شکر شکایت کړي!   منکر پېژي په عطا د سبحان و لي!
در بېلي خدای د هر چا چرې توان دی   په هر توان کښې خپل ځان بولي نا توان ولي!
زړه د نفس په پیروی در ځخه لاړو   د خبیث په لاس دې ور کړو قرآن ولي!

« رحمان »

بنګ شراب سرود کوه عبدالقادره!   خو یو مکړه آ زړه د مسلمان زړه

«عبدالقادر»

مرده دل دې له تړه زړه بیرون کا   یو ساعت په کور کښې نه پرېږدي څوک مړی
جمعیت چه لدنیا په دنیا غوا ړی   هغه غړی په معنا د شګو پړی

«عبدالقادر»

هر څوك چه یو کاز ړه خو له خپل دواړه   دو یم په نیت شی ثابت له واره
که کمی ورغی په دین د نیا کښې   تاوان یې واړه وزما په غاړه

«عبدالقادر»

هغه چه ستادی چه یی سائل نکړي   ویره مې کېږی چه یې دبل نکړي
که دادې خوی دی دادې خصلت دی   خپل به پردی کړي پردی به خپل نکړي

«عبدالقادر»

چه زړه له تا نه دچا سره کېږی   سره کړه د عا ګټه د عا قبلېږی
ازار د هیچا د ا خستو نه دي   سپری د خو ز و زړو نو لګېږی

« خوشحال ختك »

لتو مه ګنج دزړه په ویرانه کښې   پر و ا نلر م د شهر په عسس

«شمس الدین کاکړ»

زړه ولاړ شو اوښی یو وار بسی ولاړ ئی   لکه چیر ته انبکر دروی د سلطان درست

« مرزا حنان »

زړو نه مه ماتوه لعل د بد خشان دی   بیا مشکل دی ر غول د شکسته ؤ

« خوا جه محمد بنګښی »

چه بهتر تر در ګوهر دی هغه زړه دی   چه پراخ تر هر کشو ر دی هغه زړه دی
مکرم په مخلو قاتو کښې انسان دی   په انسان کښې چه بهتر دی هغه زړه دی
کم یې مه بو له بیحد ه مشرف دی   چه د خدای باندې نظر دی هغه زړه دی
دمکې حج خو موقوف په یوه وخت دی   چه مد ام حج اکبر دی هغه زړه دی
که هر څو یې صفت و کړم څه به و کړم   چه تر حد صفت بهر دی هغه زړه دی
د زړه شان خو یو بیحد ه عالی شان دی   چه تر ډېر خوږو خوږتر دی هغه زړه دی
سرچشمه د معرفت د لوی در یاب دی   چه محل د در ګوهر دی هغه زړه دی
څه سیالی به نیشکر ور سره کاندي   چه شیرین تر نیشکر دی هغه زړه دی

دا د خولي په وبل حکم دقاضی دی
چه ظاهر وباطن دواړه بري رو ښان دی
هیڅ اشیا یی لد فتره بیرون نه دی
زه نبی به یی نن کم هر بیان کړم

چه مقبول دخدای په در دی هغه زړه دی
چه دا همسي بلند لمر دی هغه زړه دی
چه د درست جهان دفتر دی هغه زړه دی
چه منبع د هر هنر دی هغه زړه دی
« عبدالنبی »

دلجو ئی په دي تمام وګړی و کړی

که نه هم د د لجو ئی په جستجو ی شی
« قلندر »

داپند له مانه په زړه کښې یاد کړه
زړو نه د هر چا په احسان ښاد کړه .

خو د ي لاس د سې مر و ت د اد کړه
آز اد بنده کړ ه بند ه آز ا د کړه
« عبدالقادر خټك »

٩ ـ ژبه

قولا دي تو ره وی که اویه تبه !
ډېر یی بلا به د ر خځه وا وړ ی

تر دا لا بد ه ده بد ګو یه ژ به !
ژبه که بده کړ ي د پند طا لبه !
« خوشحال خټك »

په واك چه نه اری په کلام کښې ژبه
په بده ژبه ځا ن ځی جهـا ن ځی

که ګنګك شی ښه دی په لویه تبه
ایمـا ن لا هم ځی و ا وره طا لبه !
« خوشحال خټك »

خوږه مری ده که خو ږه ژ به !
هنر هم دادی که دا هنر اری

چه خولا بري خپل کړی‌زما صاحبه
چـار به دي تل وی تر سیـا ل غالبه .
« خوشحال خټك »

که هر خو نېـر یي تـر صحبتو نه
لا به یه ژ بـه ډېر فهم و کړ ی

عـلـم ادب لـر ي فصا حت‌و نـه
د ژ بي د ېـر د ی قبـا حت‌و نـه
« خوشحال خټك »

ژبه عا دت کـړه په ښه و یلـو
که یی عـادت کړي په بد ګـوئـی

چه د ي عا د ت شـی هغه تـر تلو
مخ به دي تور کا تر پر د و خپلو
« خوشحال خټك »

په مر هم دخوشامند سره روغ مشه

هغه زړه چه پکښې تیغ دژبان کښېنی
« پیر محمد کاکړ »

په مجلس کښې دمهرویو ځکه زاړی

شمعې هم ځکا ره کو له بله ژ به
« عبدالله یوپلزی »

هر سړی چه شی ګـویا لکه قلم

سر به یی شی له تن جـدا لکـه قلم
« عبدالله یوپلزی »

درست عالم به داخبره خبردار دی

چه بلبله خپلي ژ بي به قفس کړه
« خوشحال خټك »

ketabton.com - The Digital Library



سلامت کاروان به تیر کړی له رهزنه — که جرس رنګه نکړي په غوغا ژبه
« ملاجمعه »

که تازی ژبه هر ګوره ښه ده — فارسی هم ډېره په خوند خوږه ده
چا یی پلو دجمال وانه خیست — پښتو لاهسې بکره پرته ده
«خوشحال ختک»

ژبه به تن کښې څه عجائبه ده — صحت هم ژبه ده ژبه هم تبه ده
چه ښه مې لحیر کړ ښه بري خبرشوم — جنت هم ژبه ده دوزخ هم ژبه ده
«خوشحال ختک»

جنګ دهاني او مزري آسان دی — د خپلې ژبې آفت لا ګران دی
چه خپله ژبه یی به خپل فرمان کړه — هم یی رستم ګڼه هم لا لقمان دی
«خوشحال ختک»

که څوک نیکان دی که څوک بدان دی — بدادنیا کښې چه به هر شان دی
مه یی ستاینه کړه مه یی غندنه — ته به یی څه کړي چه دخپل ځان دی
« خوشحال ختک»

دهوښیارو ژبه پټه وی به زړه کښې — راز به نه وایی اشنا ونا آشنا ته
لږ اوډېر ویل به نکاندي بی ځایه — هیڅ باطل ویل به نه وایی و چاته
«خوشحال ختک»

ژبه عادت کړه به ښو خبرو — خبري ښې دی ښه تر شکرو
دخوند مثال یی شکري وایم — قدري ډېر دی تر مرغلرو
« عبدالقادر »

لکه ودی له میدان ګوی داخه ژبه — نه یی شي ودای په تیره کړی شمشیر ګوره
« عبدالحمید مهمند »

که دین دنیا غواړی پرده پوشی کړه — فتنې له خولې پاڅی نوخاموشی کړه
که نه خاموش یی نه پرده پوش یې — بېخوده پر یوزه باده نوشی کړه
« خوشحال ختک»

سخی یی مه ګڼه چه نغن بی خوار نه وی — پاتوری مه بوله چه پری پرهار نه وی
که دانشمند وی تفسیر به یاد لولی — چه ډېر ویل کا دی به هوښیار نه وی
« خوشحال ختک»

ښې خبري در ګوهر خاموشی مهر — داناتل ځکه به خوله دغه خاتم ږدی
« عبدالقادر ختک»

د میرو میره دخانو خانه — د جهانبانو جان او جهانه
دارنګ لویی به هاله روزی کړی — که وي نیکنیته او نیک زبانه
«عبدالقادر ختک»

ketabton.com - The Digital Library



بحر خاموش دی سیلاب غرغر اری
سیلاب تش لاس دی سیند امن پرلری
دسیلاب گیډه د کانړو ډکه ده
بحر په گیډه کښی قیمتی در لری
«عبدالقادر ختټك»

لهخامی جوش وخروش خېژی لهدېگه
دی له خپلې پختگی پختگان چپ
په ابو بهدې ډیوه شی دمراد بله
کهصدف غوندې پهصبر کړي دهان چپ
چه دانه پهخاورو پټه شی خوشهشی
په گو گل دننه وساته ارمان چپ
دبلبلو ناري ښې نهدی پر گلو
چه پهسر ولمبو کښی سوځی پتنگان چپ
لکه کاه او کهربا چه سره بولی
هسې پټه خوله بلل کاندې یاران چپ
«عبدالحمید مهمند»

سپین ویل دحق کوه عبدالحمیده!
کهٔ به ژبه اویزان شي لکه صبح
«عبدالحمید مهمند»

تماشا دزمانې کوه عظیمه !
مه له خولې نهڅه وباسه مهڅه وایه
«عبدالعظیم رانیزی»

صافدلان له گفتگو په خفه کیږی
شی نفس دآئینی پرمخ غبار سخت
«مرزا حنان»

۱۰ اخلاص:

گوره څه بلند مقام دی د اخلاص
چه جهان والړه غلام دی داخلاص
کهله ځمکې نه اسمان ته خاته گران دی
د اسفر په پوه گام دی داخلاص
چه خبر کا مخلصان له علم غیبه
داهمه والړه الهام دی د اخلاص
در واج د رسم عمر مدام نه وی
لکه عمر چه مدام دی داخلاص
بی اخلاصه حلاوت د اسلام نشته
که اسلام دی خو اسلام دی داخلاص
څهعجب دی کهمستانوی تری چاپیره
هرساقی څخه چه جام دی د اخلاص
څه عجب دی که همای په دام نیلی
هر صیاد څخه چه دام دی د اخلاص
درحمان کلام په داسبب شیرین دی
چهپی هر کلام کلام دی د اخلاص
« عبدالرحمان مهمند »

هرباغی بوزې بنده کاندې اخلاص
هر بی شرم شرمنده کاندې اخلاص
آب وتاب پی عالمگیر لکه افتاب شی
هرجبین چه تابنده کاندې اخلاص
هیڅ پروایی دحیوان په اوبو نهشی
هغه زوی چه زنده کاندې اخلاص
هیڅ مقراض پی غوڅولی په خوله نهشی
هرپیوند چه پائنده کاندې اخلاص
هغه کار چه سحر گر کاندې پهسحر
تر هغهپی څوچنده کاندې اخلاص
سمدلاسه زوند کافر دلو کاو
واسلام ته خواهنده کاندې اخلاص
دنفاق له اهله ځان ژغوره حمیده !
پهلباس بهدې گنده کاندې اخلاص
« عبدالحمید مهمند »

ketabton.com - The Digital Library



هر باغی او هر سرشوخه هر بی شرمه — همه واړه شکسته کاندي اخلاص
په نیکي نوم به عالمګیر لکه افتاب شي — مغه څوك چه همیشه کاندي اخلاص
د نفاق د شپي تیاره به رڼا ورخ کا — چه سحر غوندي خنده کاندي اخلاص
که بي پښولسره راتلی ملامت یم — که انسان له درنده کاندي اخلاص

« شمس الدین کاکړ »

## ۱۱ ـ راز ساتل :

چه بل خبر کړي د زړه راز په — هوښیار په څه یې و ماته وایه!
هر چه هوښیار دی هنر یې دادی — خبره نه کا چاته بې ځایه

« خوشحال خټك »

د باد شاهانو به راز خبرمه شه — که یې خبر شي ځان ته غاورمه شه
راز یې د زړه په صندوق کښې وساته — په ښکارول یې چاته لر برمه شه

« خوشحال خټك »

که چاته و کړي د زړه خبره — تاکبد یې کړي و کړي چه وبی نغره
که دي خپل ځوی وی ګمان بري مه کړه — چه به یې نه کا چاته ظاهره

« خوشحال خټك »

که پښایه زر کې نه وښکی آواز — نه صبا د ځنې خبر و ، نه شهباز
سکه لیه دي خبر په هسي معلوم یږي — چه خپل صوت دی هر سری لره غماز
د منصور وحال ته ګوره حال ئي څه شو — خدای دي فاش د هیچا نه کاندي پټ راز
درېغه دربغه که وروستی عقل دومی وای — د انجام خبري نه شی په آغاز
چه منکر پري اعتراض کولی نه ئی — دا د شعر دی رحمانه! که اعجاز

«عبدالرحمان مهمند»

ته چه ما یو ښتي دیار له حقیقته — څوك دیار خبري کاندي واغیار ته

«عبدالرحمان مهمند»

خاص خاوت د ښکلیو عام په وخت د خط شي — کم فوت سري له هر چا سره راز کا

« عبدالحمید مهمند »

ځای په ځای به ستا د مال حساب کاوه شي — خپل اسباب د کاله مه ښیه مزدور ته

«عبدالعظیم رانړیزی»

هوښیار به هر کله زمانه سازوی — په دانائی به یې د کار اغاز وی
نادان به هیچیری په داخبر نه وی — په هر هر کار به یې پښایه راز وی

« خوشحال خټك »

زړه بېځایه مه را باسه و بازار ته — وایه نشی به کو څو د خلوت راز

«عبدالله یوېلزی»

منصور راز ظاهر او مسوئی ته وخوت — د خلا خبري کله به ملا شی ؟

« دالپوری حافظ »

ketabton.com - The Digital Library



۱۲ـ زر:

اوس پهدا دور ماولیدل خوازه دی
نورو چار وو ته څه گوري دا گوره
څکه څهچه د آسمان ښایست پهزردی
شاهزاده بی زرو گوښی تنها گرځی
زور،قوت،حرمت هوري درومی چهزروی
هرمراد چهدسړی وی په دنیا کیږي

په خیالي کیسه به نرسی تر کامه

کههر څومشکل کارونه درتهپیښ شی
ماچه وایده خوازه دی پدنیا کیږي

کهپښوی پهاوریخ کیږيهم ترمیاشتی امرتیری کا

زردیچه ز یرمه دننگ وشرم کا
دیر گران کارونهپه زر آسان شی

زردي هرچاته اعجاز معلوم کا
وینځه میرمن کا خادممخدوم کا

بادشاهان ښهدی پهخوانو زر ښندی
زرسردا دواړه تو گو دیر گران دی

زرپه بده ورځ پـه کـار وی
د زر دار بلا پـــه زرو
چه سپروی گذار پته سپر شی

چاومـاته نصیحت کړ چه زرښه دی
چهپه گور کیږي خزاني لری دزرو
هرپادشاه چه خزانه ور څخه نهوی
هرسړیچه پهنام لوی پهدولت کموی
پهامثال یی دهغي مرغی، مثال کړه
گوره مادهغه څرنگ ځواب ورکړ
ماوی مرد لره څونام بویه نادانه

تر پدر تر برا در تر پسر زر
چه صاحب دمسلمان کاکافر زر
ستوري زردی آفتاب زردیقمر زر
دهندو سره روان کا ابنکر زر
دپادشاه پهسر څوك کیږدی افسرزر
دطلب په وخت یی ور کا دربر زر
«خوشحال ختك»

څه حاصل که بوعلی شي په قصو!
«خوشحال ختك»

فکرمکړه چهآسان به یه زر نشی
خوسړی دي یی په مینه کا فرنښی
«خوشحال ختك»

همهعالم خبردی چهزر ښهدی لهدرمه
«خوشحال ختك»

صحبت د هرچا و بـلـه گـرم کـا
زرپهفولاد کیږدی فولادهم نرم کا
«خوشحال ختك»

معدوم موجود کا موجود معدوم کا
زرپهسندان کیږدی سندانهمموم کا
«خوشحال ختك»

ځواناندیري ښه کا چهورتهسرښندی
پویوی و ښندی نهیی هربو ښندی
«خوشحال ختك»

هوښیار څکـه سـاتی زر
د نـا دار بـلا پـــه سـر
چه سپر نـه وی لاس شی سپر
«خوشحال ختك»

تو اول به کا دزرو چه خبر دی
هغه کس کهیك تنهادی زورور دی
عاقبت ورڅخه تـار پتـار لبدکردی
پهمعنا بدر نگه ښځه سپین خادردی
چهسینه یی کشـاده تن یی لاغردی
پریږبهبوهشی هرسړیچهدا نشوردی
نه دزرو تولول چه بد هنر دی

ketabton.com - The Digital Library



که هندوخځه انبار انبار مهران وی
په مهرانو به ښه نه شي مختصر دی
که په خره باندې دزروصندق بار کړی
خر به هیڅ پداښه نشي خر خوخر دی
چه هنر یې دلویې وینویه لاس کښې
دهغه وجود پارس شو واړه زردی
«خوشحال خټک»

ځکه نوم یې دزهب وربا ندې کښېښود
چه دباد غوندې هردم کا گذرزر
«عبدالقادر»

که زده سخی اری چه مال یې نه وی
په ځان مې ولید څه حال یې نه وی
که باز داواړه هنر د ښکار لری
ښکار به په څه کوی چه بال یې نه وی
«خوشحال خټک»

## ددولت اهمیت

زبه هم ښه وینا کاندې چه یې وینه
دخاوند په لاس کښې زراو درهمونه
زبور ور له ورځی وینا یې اوری
ددرهم خاوندان تل وی په ویاړونه
که درهم یې ځنې ورك شو شي نتلی
پر نري یې وی په خرو پېژندونه
که بلای سونی(۱)وبولی خلق وایې
داوینا ده رښتیاینه له رښتو نه
که بې وزلې ووایی ر ښتیا خبره
نور خووایی دخوسونی دی تېرونه
هو، درهم ښندی هرچاله لویه برخه
ددرهم دخاوند هرځای پرتمونه
درهم زبه ده که خوك زبور کښېږی
ده وسله که څوك به کاندې قتالونه
«ابو محمد هاشم ابن زیدالسروانی البستی المتوفی ۳۰۰ ه»

چه نېستګاره شي که څوی داحمدشاه ئي
ترتازیانت پډبډبه دی تا کرداس
«عبدالله یوپلزی»

* * *

### ۱۳ ــ خپل قام :

هرسردارچه دخپل قوم دبدوخیال کا
آئینه دې دخپل ځان حال دجمال(۲) کا
پرې کوی ترخپلو ښو لاندې ښاخونه
چه بدی دخپل عزیز په زړه نهال کا
عاقبت هغه سردار شي مردار پاتی
چه یې نفس دخپل بدوته لېوال کا
چه دبل و سرو مال وته هوس کا
ترهغه پخوا بهورك خپل سرومال کا
هم هغه به پېکښې پر بوځې دامثل دی؛
چه وبل وته کوهی کښې وبال کا
دهغو په خونه ډېرش جنګ وقتال شي
چه هوس دچا دجنګ و دقتال کا
چه له خپلو لاس و پښو شي بې مجاله
له غنیم سره به جنګ په کوم مجال کا
په بردو مړانه نه کېږی بی خپلو
له لحده دااواز جمال جلال (۲) کا
چه تر خپله حده پښه غزوی ورانېږي
زمانه به یې جمال غوندې پایمال کا
پردی نجره هیچاندی خپله کړی
بلکه خپله به پرې بایلی چه داخیال کا
« عبدالحمید مهمند»

---

(۱) لغات ؛ سونی : دروغ

(۲) جلال اوجمال ، دوه نوموته اشارت دی ، «خادم»

### ١٤ ـ وطن :

دوطن ونسي چندڼ اگر دی
که سرای ونورو ته سنگېږ دی

درزي‌لا گزلري مقراض‌سوزن لري
کوچ‌یې اسان دی مشکل هیڅ ندی

هغه ورځ دهجرغم لره سرا شوم
ماهله ماتم دځان و کړ په وینو
اوس په‌څه دوطن کاڼي‌بوټي ژاړم
بوناوك‌مي په‌دل لك‌راووړله کوره
په محنت‌مې یوریاض جوړ کړ په‌دهر
شین‌فلك په خزاسورشو له‌هوسه
بوپاڼو په د کن‌نشه چه‌مې‌دم کا

خاوري يې واړه مښکې و عنبر دی
کاڼي‌يې ماڼه واړه سره زره دی
« خوشحال ختك »

يوجمدر گوټي خو شحال خیرن لري
غم دیارا نو درد د وطن لري
« خو شحال ختك »

چه له یاره په ژړا ژړاجدا شوم
چه اتك وته‌مي شاشو په ژړاشوم
درخصت سلام‌مي کړی‌تري جدا شوم
زاروجارمي دباغ ونه کړ خطا شوم
لامی گل‌بوی کړی نه ځني سواشوم
چه‌هوړی جبل‌په مخزه ورته شاشوم
گرفتار په کنج‌و کاو داژ دهاشوم
« اشرف خان هجری »

## د وطن په یاد

ستا دعشق له وینودك شوځیگرونه
تاته را شه زړ گی زمافارغ شي
که هرڅومې‌ددنیا ملکونه ډېرشي
د ډیلی تخت هیروم چه رایاد کړم
در قیب‌دژوند متاع به تاریتار کړی
د«فرید»د«حمید»(١) دور به‌یاراشي
که‌تمامه دنیایوخوا ته بل خوایې

ستاپه‌لاره کښې بائلي ځلمي سرونه
بي له تامي اندېښني دزړه مارونه
زماهېر نشي داستا ښکلي باغو نه
زه د خیلې ښتو نخوا دغرو سرو نه
چه په تورو ښتنا نه کا گذارونه
چه‌زه و کاندم په هرلوری تاختو نه
زما خوښ‌دی ستاخالي تش‌د گرونه
(احمد شاه بابا)

خوار غریب او بېنوا وای
وا ته غواړ مه له هنده
خو ژوندی یم تر مرگه
مېشته خو ښ یم په وطن کښې
نه دي هند شی نه دي نوم شي
چېر ها ر کښې کلا شیخ وای

خو وطنه ! ستا په خوا وای
چه وطن بسر خه زما وای
هم هاغه آب و هوا وای
نه چه هند وا ړه ز ما وای
هما غه بېد بېد یا وا ی
ر ز ق ا لله ا و مشغو لا وای
« خواجه رزق الله »

بی وطنه نهاپروت‌یم‌په‌غربت کښې
دهواداشنا په ستر گو لیده نشي
قاصدان له روهه رانغله مدت شو

نن له ماسره همدم د صنم‌غم دی
که‌په‌خوب‌راته‌حاضرشي‌بس کرم‌دی
سلام بادرا رسوی منت‌یې تم دی
« اشرف خان هجری »

---

( ١ ) فرید : شیرشاه سوری . حمید : سلطان حمید لودین

پښتني جونه‌دي زلفي بادته نيسي    چه شمال يې بوي راوړي په رنتمبور (۱) کښې

« اشرف خان هجري »

خو به فخر د کشمير په دوشالو کړي    خو به خيال کړي په اطلسو د فرنګ

« پير محمد کاکړ »

نسيمه ور شه د « سراى » سواد ته    له هغه په افضل آباد ته
سلام م وکړه په دواړه لاسه    د رود په وارو ګل و شمشاد ته

« کاظم خان شيدا »

که ګذر به خير ابادو کړي نسيمه !    يادي ګيت وشي د «سراى» د سيند په سيمه
په وار وار سلام زما ورته عرضه کړه    ور سره زما د لوري خو تسليمه
ابا سيند وته ناره وکړه په زوره    و لنديء ته و يښا و وايه حليمه !
ګوندي وي چه بيا مي ستاسي جام روزي شي    په ګنګا جمنا به نه وو له قديمه
چه سړي اوبه دغره نشته په هند کښې    تري توبه که واړه ډك وي له نعيمه
خدايه زړه مي په وصال دهغه خوښ کړي    داچه اوس ورځني لري دي دوه نيمه
هميشه به په هند نه او سي خوشحاله    عاقبت به عاصي ووزي له جحيمه

« خوشحال ختك »

نورجهان سقر شو بيا دي سراى دار القرار دي    که له به خوشحال دار القرار لره ور درومي

« خوشحال ختك »

د خوشحال دزړه خوښي نشي بي سرايه    خپل وطن يې په هرچا بانديي کشمير کړ

« خوشحال ختك »

دهواد ياران مي هر زمان يادېږي    چه ني مخ په خوب کي ووينم وياړم

«خوشحال ختك»

که په هند کښي چنبا ګل دی    تر دا ګل د وطن خار ښه
د سراى قدر نور چا نه زده    په خوشحال دي ترفر خار ښه

« خوشحال ختك »

درزي لا ګزلري بيا ني سوزن لري    يو جمدر ګوته ني خوشحال خبرن لري
کوچ يې آسان دی مشکل هيڅ ندی    غم ديارانو درد دوطن لري

« خوشحال ختك »

۱۵ ــ مسلماني :

په دا دوه حرفه مسلماني ده    هرچه نه پسندي په ځان په چا مه پسنده
چه يې اوس به تولولو نه مرېږي    همدا خپل دولت به وکايه تا شنده

« عبدالقادر ختك »

چه نه پسندي په خپل ځان هغه مه پسنده په بل ځان    همدا ده که ته يې ګوري په صحی مسلماني
نيکانو سره زيست روزګار په مهر و محبت کړه    بدانو سره زيست روزګار هم بويه لساني

«خوشحال ختك»

په قوت به داسلام کړي    د کفار انکار غارت

« دولت لواني »

---

( ۱ ) رنتمبور ديو ځاى نوم دى چه شاعر هلته بندى و « خادم »

ketabton.com - The Digital Library



دمسلم نښانه داده که یې و ینې ... چه اول په شریعت دې استوار شي
«مرزا خان انصاری»

په مسلمو کښې خاصه مسلم هغه دی ... چه یې وشلاوه زنار ددې د نیا
«عبدالرحمان مهمند»

## ۱۶ ـ آزادی :

وهرچاوته چه وګورم فریاد کا! ... روزه نه یم د جهان دی سینې خوږې
په جهان بهیڅوك نه وی چه آزادوی ... څنې عشق اندوه بنده کړه څنې لوږې
عقل وهوښ یې وسړی وته پیدا کړ ... داچیچل دادل دیرانګ دی یادیږي
«خوشحال ختك»

چه سړي شړ ومبی بی چښم په وخت داوړی ... بادشاهی داورنګ زیب زماه غړ که
«خوشحال ختك»

دحاتم دسخاوت خبري مه کړه ... لاپه دا کښې هم د طمع نښانه ده
«خوشحال ختك»

که یې ته په منت مومې وایې مخلمه ... که دچا په باغ کښې بوټی د کیمیا وی
«خوشحال ختك»

دمغل منصب می پرېښودهسې خوښ یم ... لکه خلاص داویه بنده بند یوان شی
دانا دره عقیده لکه زما ده ! ... لاعجب که بل پیدا هسې افغان شی
دمغل وته بههسې کار ښکاره کړم ... چه راضی راڅنې روح دفریدخان شی
آزادی ترباد شاهی لاتیری کا ... چه بل د حکم لاندی شی زندان شی
«خوشحال ختك»

چه نوکری کاڅوك ډیر ګنده کا ... سړی ازاد وی خپل ځان بنده کا
تر آزا دی نه بهتر هیڅ نشته ... چه څوك په کور کښې خپله دنده کا
«خوشحال ختك»

طمع بلاده اصیل بنده کا ! ... ښه ښه سړی وی دائی ګنده کا
ماډیر لیدلی دی چه طمع نه لري ... په بادشاهانو پوري خنده کا
«خوشحال ختك»

لکه ونه مستقیم په خپل مکان یم ... که خزان را باندې را شی که بهار
«رحمان بابا»

که دعقل څه اثر لري وسرته ... لاس په سرمشه دهر ګیدی ودرته
په نظر دهغو خاوره سره زر کېږی ... هرچه نه لری نظر و سیم و زرته
بی منته جام دزهرو ښکلی ښه دی ... نه هغه چه منت بارشی و کوثرته
دیوسف له حاله زده که دغه پسه ... وایه حال د ز ماني وبرا درته
دی فلك وچاته هیڅ بخښلی نه دی ... چه یې نه دی را پیرودی څنې بیرته
که له خدایه دوې خلقوته مخ شی ... له فردوسه بهدې مخ شی و سقرته
همیشه به در په در ګرزی ر تلی ... داستو ګنې ځای به بیانه مومی چرته
ددې سست بدن منت په رحمان باندې ... چه له خپله دره تلی نه شی بل درته
«عبدالرحمن مهمند»

زندګی که څوك يو هېتري حضور ده دی　　آينده و رفته کله دچا ياد وی
« عبدالرحمان مهمند »

نه خوښي کړم داحق سره دمه‌دحي　　نه‌مي رده موږی اندوه دده له ذمه
دزلفو و تور حلقو دي عذار و پنم　　که نسرين دي دی په زلفو کښې صنمه
« عبدالقادر »

چه مې شاکړه وښا دهوو ته ښاد شوم　　چه د زړه مرادمې پرېښود په مراد شوم
اوس څه غم نکړم له غمه بې غم ګرزم　　راضي من چه دازل دويش په داد شوم
چه مې طمع ددنيا ور څخه پرې کړه　　هغه کس که کيکاؤس زه کيقباد شوم
ځان بازيد ولی کاروئه دېزيد کا　　له شيخانو ځکه زه بې اعتقاد شوم
خدای مې بيا په کښ بندي مه کړه ترمړ که　　احتياج عظيم زندان وه تري آزاد شوم
هم یی ځان له غمه خلاص کړ هم نیکنام شو　　د پرمین په وروستني ضرب دفرهاد شوم
بادی بوی عبدالقادر ره سحر راوړ　　شګفته لکه غنچه په دغه باد شوم
« عبدالقادر ختټك »

چه خوښ له ګمه دالګيرله خاره دی　　عشق له دو بينه بی اعتباره دی
نه شکايت کړم لچا ، نه شکر　　در دمی اهياره در همان له ياره دی
« عبدالقادر ختټك »

له بیخونده آزا دی شوسه دسر وي　　دګني پخير پخو بنده بندی بيا
« عبدالحميد مهمند »

وزی تېزی پروت بخت ل پوز کی ښه نې .　　نه په تخت د پاسه ناست دبل کره
دمنت پولاو دي زهرشه ! کي مرمی :　　دمحنت سوی سکروك له سا کټ سره
« عبدالحميد مهمند »

تخت وتاج ته‌به سرکوز د همت نه کا　　چه په داد ددهر بوه آزاده مرد وی
« اشرف خان هجری »

دافقير دولت په مرکه هسې هوس کا　　لکه ستړی مسافر وخپل وطن ته
زينهار حلت په هسی ساعت ور کړه　　چه دنيا وريانې نه وی و کفن ته
« دولت لوانی »

آزادی او کارو بار دی سره اېری　　لاس له کار و باره وباسه که کار کړي
« عبدالرحمان مهمند »

هر ګدای چه آزاده وی تري قربان شه　　باد شاهان دشام دروم که دختن وی
ماتول دبت آسان دی مرد هغه دی　　چه مشغول دخپل وجود په شکستن وی
« عبدالقادر ختټك »

۱۷ _ انسانیت :

يوې اصل سره دوه او يامه هېه　　خدايه‌خه‌بني آدم فريق فرين‌شو
« خوشحال ختټك »

خلق ناديده دي په خبر و پسې تللي — جار تر عار فانو چه په حال دي پوهيدلي
دوه او يا مذهبه پکښې هو هره قيل وقال — واړه سرهوا په خپل مطلب پسې دي تللي
د هر دي کتابونه مشتمل په ده ډېرش حرفونه — کل واړه که گوري له الفه دي تړولي
سل بهي سل سبقه چه يې مات په يوه ځای کړي — سل به بلل نه شي سره يودي ماليدلي
واړه نور تنمر دي هم دننه هم د باندې — هر چېرته دا نور دي په هر ښهر په هر کلي
زه خوشحال ختک يم د رندانو په مذهب کښې — نور ويل مې نزده مختصر مي دي ويلي
« خوشحال ختک »

ب : بابېزه خويونه

١ ـ بدعادات :

عادت لا ډېر شي عادت له سره نه — خداى دې نه کاندي په بدو چار عادت خوك
« عبدالرحمان مهمند »

همېشه وي نرم چوب غذا د کرم — شيدا مشه مرد خالى له سياسته
« کاظم خان شيدا »

مترکي به وزي دخس له نامردانو — که همه لکه ايري آتش نسب وي
« کاظم خان شيدا »

٢ ـ بې پته خويونه :

يو چه ډېر خوري سوگندونه — بل چه ډېر کاندي پورونه
آشنائي ور سره کمه — دا دواړه بې پته دي خويونه
« خوشحال ختک »

٣ ـ کوزتيا :

تر هر څه بد کجئي خطر دي ! — کجي به نه کا چه دانشور دي
الف چه سم شي کجي يې نشته — ځکه تر نورو حروفونو بر دي
« عبدالقادر ختک »

٤ ـ بدنيتي :

چه د بل په نامرادی کښې مرادغواړي — دا سبب گڼه د خپلې نامرادي
« عبدالحميد مهمند »

٥ ـ بدگوئي :

څوارې د حلال خور په نامه بولي — له ښو خلقو بدگوئي نده ممکنه
ته چه بد له خلقو وائي زه و پوهېږم — چهر ي خپله بدي نکړي معينه
له هغو نه به دومبي ستا عيب ښرگند شي — چه هر چا و ته دې کړېده خندنه
« عبدالرحمان مهمند »

مه پرچا غيبت تهمت وا په مه نښلوه — مه د بد نامه په هيڅ بڼې آدم زده
« دولتلواني »

٦ ــ بېکاري :

د جمله بلاؤ سرتن اساني ده
فراغت د بېغمۍ په ملک کښ شته

لټ غوبی شي خرڅاوه په قصا نو
څه امید د بېغمۍ کړی ظالمانو !
« عبدالحمید مهمند »

٧ ــ ډېر احتیاط :

کل وسواس له احتیاطه پیدا کېږي

زه له ډېرې هوښیارۍ نه لېونی شوم
« عبدالرحمان مهمند »

٨ ــ تذبذب :

کمال د کفر تر ناقص دین ښه دی
چه کله د اشي کله هغه شي

یا درست گمان ښه دی یا درست یقین ښه دی
دا نا ته کله منذبذبین ښه دی
« خوشحال خټک »

٩ ــ شخصیات :

دزړه غلا به زړه کښ غم ده
هر سردار چه به زړه غل شي

لا به تېره د سردار
ځان رسوا کا خلق خوار
« خوشحال خټک »

١٠ ــ ظلم :

باز چه وینې د ځیگر خوري مرګ یې ژروی
که تر څه دی هم شراب د قهر نغره

له دې وینو ځان ساته زما ځیگره !
ظلم وجور په چا مه کړه ځیگر وره
« عبدالقادر خټک »

چه بېهوشي د ډېره ګېره پسې نربلی
ماشي مړ کاندې هاتي چه سره تول شي
لیزي لیزي او به تولي شي ملک وران کا

ډېر په ظلم کښ څوک مه کوه ګبر گوره
په یوه وجود کې مه ګړه ډېر گوره
په لېز جبر چېري نه شي دلېر گوره
« عبدالحمید مهمند »

باز کرګس شاهین چوړه تری په هوا شول
بلبلان طوطیان د فکر په تال ځانګی

چه ثابت د عندلیب شو په گلعذار حق
خدای کړ پورته ا دي باغه د منار حق
« عبدالعظیم رانیزی »

خدای دي نه کا چه وازي د آزار خولی
په گړ کښ بخته برج هسی میدان کړی
د یوې خولې له آراره وو پېر پېږه
چه پېری راشی د مظلوم د آه سېلی
چه قوصر د آه سر دور باندی لگی
چه اثر د مسیحا لری په دم کښ
ورځ به شی د غم شپه په هغه خلقو

دغه خولی ده په آزار کښ دښامار خولې
یا تو بو بدی خولی دی یا دو یام خولې
که پېمر دي دعا کا نه دې هزار خولې
کاله خاورو ایرو ډکی د مدار خولې
ور به نشی د هغه چا د پېر هار خولې
خوز وی دي هغه خلق بېگ فتار خولې
چه پیاب بی بد دعا که هر سحار خولې
« عبدالحمید مهمند »

چه داغی یې سپین بشر په اور د ظلم … په لاس مه شه باز پرور د ظالمانو
د مومن د زړه آزار د خدای آزار دی … هم آزار دی پیغمبر د ظالمانو
چه نهال د ظلم کېږدی ځنی لاړ شی … تریخ تر زهرو شی ثمر د ظالمانو
آزادی که دې پکار ده شمس الدینه ! … له مجلسه کړه حذر د ظالمانو
« شمس الدین کاکړ »

هسې خوبن د ظالمی په کار ولاړ دی … نه به وایی مرګ یې نشته تل به ژوی
« خوشحال ختك »

ر سپید لی تر مطلبه به خود نه یی … چه خوړی د د مظلومو د سر وینې
« عبدالله پوبلزی »

١١ قهر :

ما نی مه کوه ځنا نه صبر بویه … جوړ کارونه خشموران کاندي تلوار هم
« مرزا حنان »

همیشه غوته جبین یې وي له کینه … له خپلواو کورو کلی مرور یی !
« ملا جمعه »

د جهان کېنې غصې واړه تر شا کا … که سړی په وخت دقهر مرګ تر زړه کا
دا پیدا چه خو د بینی ور څخه نښته … د جهان ننداري ځکه دوه ایمه کا
په کینه په حسد هېڅ د چا و نشی … هر سړی چه حسد کاندی ځان او به کا
« خوشحال ختك »

١٢ – تعجیل :

دانا وران کارونه جوړ په دانائی کا … په تعجیل سره نادان کاندي سم کار کج
« عبدالقادر ختك »

په هنر هنر خبري کړه دلبره … تېزی مه کوه په هیڅ کار کښې د سره
« عبدالله پوپلزی »

١٣ – حرص :

په غم د نورو و غم ته ساز مه شي … سیك و عالم ته به خیل آواز مه شي
سړی په طمعه د بل بنده شی … د عا به دا کرم اخته په آز مه شي
« خوشحال ختك »

١٤ – کبر غرور :

دغه زور به چلوي تر کومه پوري … چه پوازي دي په ځان تمام جهان خوړ
تا چه تېز تېزه سمند د خود را یی … ما دا ستا ډېر پواته هله ارمان خوړ
« عبدالحمید مهمند »

چه کمال غواړی په کبر احمقان دی … په پلیتو اوبو نه کېږي او د س
سبره ! هیڅ په تېتو و نو لو یی مه کړه … ستا به هم دغه قیمت کاندي روزګار کج
« عبدالقادر ختك »

۱۵ – بیوفائی :

چه یې نه وینې وفا په رنګ وبوی کښې
زړګه څکه مینه نه کا و ګلزار ته
« عبدالحمید مهمند »

چه نه ننګ لري نه شرم مه یې غواړه
تو به و کا زه له یاره د بیوفا
« مرزا خنان »

که یې اوی دزړه په وینو لکه ګل کړي
هم هغه به په زړه در کاندي شنه تا نده
« عبدالقادر ختك »

۱٦ – طمع :

څوك چه طمع له چا کا په حقیقت کښې
که بادشاه د درست جهان شي لا ګدا دی
« خوشحال ختك »

نه دی نفس لره جلب د ور کړو لو
نور قیدونه و اړه سهل د ی حمیده !
امو ختمه در باندي غل او کا سیر مشه
خو به غاړه د ي د طمع زنځیر مشه
« عبدالحمید مهمند »

له هغو ترخه ویل شي د حق پاتې
چه به خوله کاندي خوږه حلو اد طمع
« عبدالحمیدمهمند »

سړی توب به دي سپیتوب کاندي دا طمع
هسې چارې به حرص در باندي و کا
عزت و سا ته په صبر که د ا نا یې
چه په هیڅ شو ي نه وی بیا به وا یې
« عبدا لحمید مهمند »

کړدي زړه وی چه بدای شي طمعه پرېږده !
څو دي طمعه چاته شته توا نګر نه یې
« عبدالقادر ختك »

که یاس له حقه تحقیق حرام د ی
اصیل بنده کا خلاص شو ی بند کا
یا س له مخلو قه د حق ا نعا م د ی
طمعه له خلقو د خلقو د ا م د ی
« عبدالقادر ختك »

شرموی هر یو سړ ی د د نیا طمع
همت ناك سړي که خوار وی دو لتمن دی
د هغه د شرم بو زه په مخ نه و ی
لکه څوك لوبی په خپله حیا کا ندي
لکه یو سپی چه هیڅ ن شتی ... هغسې
د هغو د عزت پښه د ه بنو نږد اسې
تل د خواست لاس به بې نیولی دی کوڅه کښې
د حاتم د سخا وت خبرې مه مکړه
د سپي توب نامه حاصل کا په دا طمع
خاشاکی ګوره نه کوی له دریا طمع
چه کوی د نس د پاره له چا طمع
هسې ما و ته ښکار پېژې دا ستا طمع
هسې ده د یو له پل نا صلا طمع
چه په دا زبره له چا کا ندي بیا طمع
محمدی چه څوك کا بل ته پیدا طمع
لا پیدا کښې هم د طمعې نشا نې ده
« خوشحال ختك »

۱۷ – ریا :

دریا عمل مې طوق شو را تر غاړه
لکه خیور شي په څیګر د ستار د چا
« شمس الدین کاکړ »

۱۸ ــ بدي :

چه په بدو په رشوت کاندي حکمونه
چه په طمع د دنیا مفتیان فتوی کا

تور مخونه به دوزخ ته قاضیان د رومی
شرمنده به د دوزخ په زندان د رومی
« مطیع الله پیرخیل »

## ج: نصایح

دا همه به نا بوهي پیدا کیږي
پیر څو ، سلطنت ، نمانځنه ، اوبل عدل
کبر جن حریص بې زده چه دروغ وایي
که وعده یې قیامت وی د غو ښتنې
که طالع یې ددولت په شربت ډك کا

خر خشي دعوي نا ساري شر و شور
کهدي دا خوي نه شته څهغواړي نور
د یاری لایق نه دی دا خلور
ده و ښیار سړی بهنه وی په کار پور
بیا آخر شی د کم عقل جام نسکور
«خوشحال خټك»

چه دخلقو نیکخواهی اری په زړه کښې
که یې غوږ د دانشمند په صیحت وی
د ناصح په نصیحت به اصلاح نشی
د مردانو په معراج به ور تللی نشی
مختورن د دوادو کونو ندی خه دی
نیکبختان به اندیښنه کا ندی د نیکو
په هغه هنر کښې تړنگ او سه خوشحاله

مبارك شه بادشاهی اری بهزړه کښې
خه عجبه آگاهی اری به زړه کښې
هر سړی چه تباهی اری به زړه کښې
که دسعی کوتاهی اری به زړه کښې
چه هر چا سره سپاهی اری به زړه کښې
گمراهان به گمراهی اری بهزړه کښې
هر هنر چه سپاهی اری به زړه کښې
«خوشحال خټك»

په دوستانو تلطف کړه خو به تاشی
د نماځه تر قضا گران دا قضا ده
نورانی کا هغه ځای چه سره کښېني
چه په تشه تواضع کښې گته کیږي
که حاتم غواندي درم کړي د مهرانو
څو بدانو سره بدشی هومره ښه دي
که دي سرځي کهدي مال ځي کهدي نور څه
په ظاهر باطن کفران دنعمت مکړه
که راحت غواړي په ځان محنت قبول کړه
که دارو به خواست موندل شی مه یې آخله
که آسمان دي دزمری په خوله کښې ورکا
که ژوندون دی هم هغه دی په جهان کښې

د دښمن سره هم ښه کوه خلقت
چه قضا شی د خلور و مصلحت
دیرینه خلور هو ښیار په مشورت
هومره سود نشته دډك طباخ دست
دیوي دمړی په چا مه زده منت
ولې عفوه کرم ډېر اری لذت
استو ار اوسه په کار د رفاقت
هوا خواه اوسه دخپل ولی نعمت
بی محنته هیڅوك نه مومی را حت
که دمر گ و ته نژدي کاندي زحمت
دزمری په خوله کښې مه پرهیزده همت
چه یادیږی د سړی د خوی خصلت
«خوشحال خټك»

خپل استاد و مانه ووي څو پدونه
وي چه هره بدی کړه هغه بد مکړه
که دي زده وی چه بدنه موي له چا نه

هر یو پندی مرغلري دی لا لونه !
چه دلاسه دي آزار شی دچا زدونه
اول ته پرهیز ده د بدو خصلتو نه

د شهوت په نغوته مه ځه شهوت اور دی
ته کینه ، رخه ، حسد له هیچا مه کړه
د هر چا سره دښو سلوك بایده دی
د دنیا په مال دنیکو نوم حاصل کړه
د هرچا سره نرمي ملایمت کړه !
خپل پردی ته دخپل راز خبره مه کړه
خوشخوئی هر ګوره ښه ده نه دا هو مره
هغه کار چه په ار می تر سره کیږی !
و هغو وته چه قهر کړي روا دی !
دهغو په مرګ ثواب ګټلی بویه
که دښمن دي ډیر زبون ته ځني ډار کړه
د دښمن په تملق غلطی مه کړه
عاقبت به خپل ورغوی په غابښ پریکا
چه دي لاس په دښمن برشی پرې يې منږده
په خپلوانو باندې هومره خشم مه کړه !
د پاد شاه په مهر مینه غلط مه شه !
پاد شاهان چه په چا مخ کا دبدی
په هغې معشوقي ځه بارز د کړو دی
د بیلو یانې خوره نه هغه پا ستی
د بد خویه سره هیڅ بدی ته مه کړه !
د کمذات په ښو خبرو غلط مه شه !
په هر کار کښې چه در پیښ شی بیړه مه کړه
په رښتیا که په دروغوی سو ګند مه خوره
د حرص سترګې مړې په قناعت کړه
که هرڅو دي علم ډیر چه عمل نه کړي
د ښه دین دپاره علم ، دانش ښه دی
په جهان کښې که مردان دی هم هغه دی
چه بدانو سره ښه کړي قباحت دی
عاقبت به ملګیري در ځني پریکا
که دي وروروی که دي ځوی وی چه بد کار شو
چه بد فعل ، او بد غرض په کوم ځای ناست وی
چه په کالو وی مشران ته يې حرمت کړه
په هغه کور کښې چه ښځه چر که بانګ کړی
هرچه شرع فرمائی په هغه کار کړه
نیکو کار په فقراؤ خیر خیرات کا
که دي زړه له وینو ډك شی و دښمن ته

پیدا اور د ډیرو سوی دی کورونه
دا زل په ورځ مقسوم دی قسمتونه
په بدی کښې څه فایده د کوم سودونه
تل جهان و چاته نه پرېږدی مالونه
ګنډي وی چه پداخپل کړي دچاز یونه
د بخچی دننه ښه دی خپل ر ختونه
چه په باغ کښې دي خر بزی وهی خرونه
څه حاجت چه رساوه شی تر جنګونه
چه اری د بدو فعل بد خو یو نه !
چه یې سوځی له شامته غا ډي غرونه
په یوه شجري و سوځی ښا رونه
د رستم غوندې هسې مړه دی په مکرونه
هر چه کار کا د دښمن په ور مونه
د ما رانو په غارمه منډه لاسونه
چه پردی ورځنی تښتی په ملګونه !
زورور په لږ ګناه و هی سرونه !
و سپینډو نوته تږل نه شی بند ونه !
چه په هر لوری یاران لری زر ګونه
چه بی خوري د نو کری په خوشر طونه
غلیمان ور له بس دی خپل خو یونه
د ګیډ پر ، ونه خوازه لری ګلونه
په تلوار ، سره ورانیږی جوړ کارونه
منافق وی چه ډیر ډیر خوری سو ګندونه
چه په کور کښې دي انبار شی نعمتونه
ته حمار یې په تا ابلی کتابونه
نه پیدا چه پری لوټې پردی کورونه
چه و سختی و ته و نیسی لاسونه
د بدانو خو هم نور ښه وی مخونه
چه په لارې ترتا ډیر دروې ستاملونه
په خپېروی کاږه کړه ور مېږو نه
دهغو د ناستی تښته په کړو هونه !
بیا هغه چه دي په ځای وی لکه ترونه
دهغو خونو نه ځی پر کټونه
مه عمل کوه په ر... دو دونه
هرزه کار په عمارت کاندې خر خونه !
انږو ډیر په زبان مه راوړه عمونه

به هر کار بهدې لاس بروي په ځوانۍ کښې
که طاعت که عبادت که نور کاروونه
په ځوانۍ کښې چه د کار نه لاسه ووزي
په پیرۍ به دې ونه رسي لا سونه
همیشه او سه خو له پښه لکه ناوې
چه ضرور شي هالـه و کړه دوه حرفونه
تر هغه به نا معقول په جهان څوك وي
چه همیش په خندا سپین اري غاښونه
که خبره که خندا کړي جګې جګې !
هره چار تر حساب مه کوه بیرونه
که دې زړه وي چه پټ عیب دې ښکاره نه شي
چاته مه شماره د خلقو پټ عیبونه
که له تانه په قوت د مټو زیات وي
له هغه سره حجت مه کړه بحثونه
چه توانیږي د هغي خبرې لاف کړه
او که نه په دروغ مه وهه لافونه
چه د ښمنو کښې د جنګو خرخشې وي
تـه بې غمه خپل هوس کړه خپل ښکارونه
که دې واوریدل چه بیا وبله روغ شول
نور په خپله وسله ووهه لاسونه
چه د ښځو نه بتر دی هغه څوك دی !
چه د ښځو سره کا مصلحتونه !
خدای هغه په دولت کړه دی نما ځلی
چه په ورځ کا عدل و داد په شپه نمځونه
چه دزړه په تامین د هغو نازو ده
تل نیاز منو سره وي دې نیاز و نه
داصیل شیوه خپل اصل نه ابا س دی
په زړبانو کښې یادم وي یامړ وي نه
« خوشحال خټك »

په پیرۍ کښې چه هوس دی د ناب کړي
بیهوده ګمان به صبح د مهتاب کړي
داسته ګناه کوي توبه و کاږي
لکه بت هسې په غټو سترګو خواب کړي
علم و کړي بیا عمل ورباندې نه کړي
لکه طفل هسې لوبې په کتاب کړي
په شپه پروت بې د مغان په میخانه کښې
او د ورځې مخ په لوري د محراب کړي
له خالقه دې نه شرم نه حجاب وي
له رحمان ګوښه و نیسې حجاب کړي
عبدالرحمان مهمند »

کړ د ګلو کړه چه سینه د ګلزار شي
اغزی مه کره په پښو کښې به دې لاړ شي
ته چه بل په غشو ولې هسې بوه شه
چه هم داغشی به ستا په لور ګذار شي
کوهی مه کنه د بل سړی په لار کښې
چیرې ستا به د کوهي په غاړه لار شي
ته چه هر چاته بخوارو ستر ګو ګورې
لا ډومبی به ستا صورت تر خاور و خوار شي
آدم زاد په معنی واړه یو صورت دی
هر چه بل آزار وی هغه آزار شي
که نه نه کوی نظر د چا و عیب نه
هر سړی به ستا د عیبو پرده دار شي
دهقان کر په لو ده مخکه باندې ه کا
سر کوزی کوه چه پټ دي مر غزار شي
دمات لو ښي او از کله ثابت خیژی
د هر چا عمل خر ګند په خپل ګفتار شي
واذا حکمتم بین الناس راشه واوره
حق با طل سره جدا کړه معنې نغاره
مدا ماچه لکه باز غو ښي د قام خوری
عاقبت به شي بند ی په پښو په غاړه
چون وی نوی قصر و نه خبر نه ئې
تن صبا د ی ا با دی و پښم و یجاړه
فکر و کړه وخت کو تاه دی و بار لو یېږي
د د نیا پر لاند ه باڼ باندې ولاړه !
« مرزا حنان »

نن چه صبح دی روښانه لار صحیح کا    ناګهانه به دا صبح شب تار شی
لږ مه نیسه ګڼه هر څو که ګناه لږوی    چه لږ لږ وسره جمع کړی بسیار شی
که بل بد کا نه دی ته ښه ورسره وکړه    هر یو نخل چه میوه لری سنګسار شی
تل و ښو و ته آزار د بدو رسی    هر چنجی و نرم چوب و ته دوځار شی
هغه زده به له طوفانه په امان شی    چه کشتی غونډی د خلقو بار بردار شی
خدای دې بدله لاسه نه کا او که وی هم    در حمان دې له کل بد و استغفار شی
« عبدالرحمن مهمند »

ای مدام د بل په کمه روا داره    نیکی نه کوی بدی لره تیار ه
قدم مږده پر عاجز میږی په ظلم    نه چه دغه پشه دی و منبلی له مار ه
هر چه وهی صباح بې راوهی لږ که دیروی    دا چه نن یې پستم اخلی له خوار ه
کبر مه کوه چه کبر پر خدای ښائی    چه رانده یدا شیطان شو له دربار ه
تکیه مه کوه پر مال فرزند بې بختهٔ!    که دې مال که دی فرزند دی نا یکار ه
دا جل صیا د طلب د استاد روح کا    ته طلب د مال اسباب کړی نا قرار ه
که دا پند د حنان ونیسی په غور کښی    دی بهتر له هغه ګنجه بې شمار ه
« مرزا حنان »

دیر به ستا په سبب خواب دراحت وکا    که دمهد په شان ورك دخان ارام کړی
« شیدا »

پند دی سو دمن واوره تور زنه    اسا نه نده د سر بند نه
مصلحت مه پر ږده د خپله لاسه    هم به خپل راز لری د زړه د ننه
« خوشحال خټك »

همیشه وائی چه خدای می پیږندلی په یکی دی    که دی خدای وی پیژندلی مینه مکړه په باطله
په خپل حسن غره مه شه که په حسن لکه ګل شی    زمانه به دی څېره په یوڅو ورځې کا زائله
« خوشحال خټك »

د چاوخوان ته خالی کتل مکړه    که تل دی خوان خوری منت په بل مکړه
چه پری باور ځی هسی و یل مکړه    چه مال د بل شی هسی بیا تل مکړه
( خوشحال خټك )

منجم که در ته نحسه ادینه کا    یا طبیب وتا ته بد ي کا شکر ي
په جمعه به و نمانځه و ته و نوزي    له شکرو به هم ګرزي اري لري
په قران کښې چه شراب دی منع شوی    ته یې وای لکه یې د مور نغري !
« خوشحال خټك »

عاقبت به یې زده ترلاسه کړي حنانه!    لکه زلفي دنګار تواضع خوی کړه
« مرزا حنان »

لکه ځان ژغوری بربنده تېرو تورو هسې خپل سر له بېېرو دسحر ژغوره!

« عبدالحمید مهمند »

چه ظاهر غوړوی په باطن سپوروی په ژبه خوږوی په زړه کښې شوروی

ور سره مه کښېنه تا به تباه کا سپین زر که سپین وی اثر یې توروی

« عبدالقادر خټك »

له همه واړه عالمه صلح کل شه وښوېدو خوشبویی ور کوه گل شه

تعلق په تېرېد و نی هوس مکړه په بهار کښې په ډارو لکه بلبل شه

« عبدالقادر خټك »

خوك چه نرم ویل کا عمل یې گوره تېگان دم په خوله ویل کا نرم نرم

« خوشحال خټك »

ښېتن مومل دی اوس مویر غل دی هواد د بل دی

غازیانو گوری ښېتن مومل دی

توري تېري کړی د ښن مو برېکړی منگلی سري کړی

خله به تېښتو ښېتن مومل دی

که تینگه کړو زړونه بر به ری یو نه چه زمری یو نه

اسلام راځخه دی ښېتن مومل دی

غازیانو را شی تول شاؤ خوا شی دشهاب په ملا شی

دښن موغوځ کی ښېتن مومل دی

« شیخ ملکیار فرشېن ستانه داشعر په یوه غزا کښې چه دسلطان شهاب‌الدین غوری سره ؤ ، د غازیانو د تودولو دپاره درجزیه رقم ویلی دی . »

# دریم باب: پښتو او پښتنوالي

## ۱ـ مېړانه او توره:

مرد به نه شي په گفتار     خو پیدا نه کړي کردار
چه دي و ښکنځي مرد نه یې     که له تا نه وي په دار
چه څه دي خو انتقام دی     د مردانو کار و بار
عفوه هور ته ځای لري نه     چه نه عیب وي نه یې عار
چه عزت و رخته نه وي     هغه مرد نه وي پکار
هم مهره لري هم زهر     ښه مردان دي لکه مار
چه هم تندر هم باران وي     تر هغو ځوانانو جار
مرد به غم دخپل هنر کا     نه د زر نه د دینار
مرد به غم کا دخپل شرم     د عزت د اعتبار
نا مرد فخر په نسبت کا     مرد نه مور لري نه پلار
د خوشحال خبري گوره     لعل و در پېیي په تار

« خوشحال خټك »

یا د سپینې توري مرد شه یا عاشق شه     چه یا د ښېزي په بدلو په ښندرو
د خوشحال خټك خوښي په هغه وخت وي     چه بر ښنا د سپینو تورو شي د زغرو

«خوشحال خټك»

د نامرد، د مرد به دا تفاوت وشو     په نامرد، شرم آسان دی په مرد گران دی
مست هاتیان خوني زمري توري وښکلي     که د سروبره دي نه شي کار آسان دی
کاشکي ته به دا دنیا همیشه پاتې     به احتیاط احتیاط کښ د هر خلق طوفان دی
که د ځان که د ایمان بدخوامي د بردي     ما به خدای باندي سپارلی ځان ایمان دی
ننگیالي چه د اخلاص توره به لاس کا     د هر لښکري د همت پوري کاروان دی
په ښادي سره شریك دي اولسونه     غم یوازي د خوشحال خټك په ځان دی

«خوشحال خټك»

مور دي نه شي باندي پوره     چه مېړه و نه د کارزار دی
څوك چه شته تر شر قسه غیر به     د تورزنو خدمتگار دی

« خوشحال خټك »

د رست پښتون تر قندهاره تر اټکه     سره یو د ننگ په کار پټ و آشکار
به داهسي وخت، چه وخت د نام و ننگ دی     دا بي ننگه پښتانه کا څه رفتار
پښتانه چه نور څه فکر کا نابوه دی     بې د توري خلاصي نشته په بل کار
تر مغلو پښتانه په توره ښه دی     که په پوهه پښتانه وای څه هوښیار!
[illegible]

«خوشحال خټك»

ketabton.com - The Digital Library



مېړنو لـه تېښتـه شرم دی یو نسه !
د نصیب له پېښې مالوه جلب
« یونس »

خـه سړی خـه یې تـد بیـر ! — هـم هغه شی چه تـقـد یـر
کـه جـهـا ن شي تـیر ه توره — ستا په مرګ شی خلق خیر
بـی تـقـد یر ه بـه و نـه مړ ی — نـه پـه تو ر ه نـه پـه تـیر
بـی ا جـلـه مـر ګی نشـتـه — تیغ و هـه مکـر ه تـقصیر
لـکـه کـا ر د مړ نـی د ی — هسی کـا ر نه د ی د پیر
د غـا ز یـا نـو شـهـیـد ا نـو — یـر و ا نـشـتـه د سعـیـر
کـل ګـتـنـه د ه د تـو ر ی — که کـا بل د ی که کـشمیر
مړ نـی د ی چـه یـا د ښـځ ی — پـه سنـد ر و هم پـه و یـر
چه پـه دروغ د توری لاف کا — د هغو نـه یم د لـګیر
توره نجره د خو شـحـا ل د ه — کـا ل په کـال خلق خبیر
تر ا و و ښـېر یـو ښـو ر ی — و ا ړ ه مړه په تیغ و تیر
د ا د ځـا ن ستا یـنـه نـه د ه — حـقیقت و ا یم پـه ځیر
« خو شحال ختك »

چه په توره یې ځواب ور کړی مردیده
که وجوددی ځوك آزار کاندی په چوب
« خوشحال ختك »

چـه مین پـه و سله نـه و ی
لاس دی سره کا ستر ګې توری

مرد دی نه وائی خپل ځان ته
ځان دی و جود وی ځوان ته
« خوشحال ختك »

باغ وی سرود وی نقل و شراب وای
مجلس د خا صو کتاب پـه مینځـکښی

ښې ښې دلبری ښه ښه احباب وای
نقل د تورو و خت د شباب وای
« خوشحال ختك »

د زنانو په حساب د ی مر دان مشه
شړی ور پښتون به سل په د که یوسی

چه له زیبه له زینته هم آغوش وی
کشمیری چه بفر ګك شالونه یې په دوش وی
« خو شحال ختك »

د بلا تـه د اختیـار توره په لاس کښی
تند رهـم زمـالـه ذاتـه نـه پیـدا دی

وقضا وتـه تسلیم پـه شان دمړه یـم
په سپین زړه که د باران سپینی اوبه یم
« خوشحال ختك »

چـه جنګیا لی وی دولت هغـه مـو مـی
دا د و ا ړه تـو کـسی سـره تـړلی د ی

چـه ننګیالی وی عـزت هغـه مـومـی
خوك چه محنت کا راحت هغه مو می
« خوشحا ل ختك »

چه ځان غـواص کا ګـوهر هغـه مومی
دا کا رمـي خوځـلـه په ځان را غلی

چه بـې ننګی واخلـی دلبر هغـه مومی
لـه سر چه تېر شی ظفر هغـه مو مې
« خو شحال ختك »

ستار قیب کله زما په مخ را تلای شی
دمړو و جنګ ته نه د رومی غو رتي

« مرزا حنان »

چه نری شی میاشت آخره شپه را خیژی
پتوه ځان له عالمه په افلا س کښی

شی ورښمني جامی خو ی د ا ر تینو د ی
دمېره مړانه نه ځی په کرباس کښي

له یا ر ا نو ا خلا ص تلیلی د ی حنا نه !
ګذران د زمانی شو په لباس کښي

«میرزا حنان»

د میدا ن په و رځ چه تښته کا له جنګه
یا تې هیڅ نشی با قی له نا م و ننګه

له میدا نه تښته کا ر د ی د ز نا نو
مر د به نه تښتی له غشی له تسفنګه

چه د تورو په بر ښنا یی وا ر خطا شی
مور یی مه وای په هغه غولا تی انګه

د ضرور په و رځ به تښته له ګید ړ کا
چه همېش کاندی خوښی له نای وچنګه

د عزت صدقه سر د سر د نیا د ه
مړ نی به شر م سرور کا بید رنګه

«یونس»

## ملی وحدت

تو له یو دی که غلجی که ابدالی د ی
ښه هغه چه یی ښینه د زړه صفا د ه

چه عمل یی د نیکی و ی مېړ ه هغه
که اغوستي یی ګډ له د خامتا ده

«احمد شا ه بابا»

۲ ـ ننګ او ناموس :

چه ننګ کا ننګیالی دی ورته اینبی دی دوه کاره
یا کام د ننګ حاصل کا یا د دوی مینه سپېرېږی

«خوشحال ختک»

چه د ننګ په چارو نر ندی خوشحا له !
که یی نر وینی په ستر ګو هم ما د ه دی

«خوشحال ختک»

کاشکي ځوان دی پښتانه په ننګ کښی مړوی
نه چه ګور لره روان شو م له تلتکه

چه دقام به ننګ کښی و مړ هغه ځو یه
په عالم کښې دخیل پلار غاړه کا لکه

«خوشحال ختک»

څه یو ازې ننګ په ما را غلی نه دی
پښتا نه د پر د ی په غرو نه په سمو نه

چه ښور وا خوری دمغلو واړه سپی دی
د سګا نو په خو له څه ا خلم نو مو نه

ګور به هم په ژړا سر کړم که یی ور ودم
زه خو شحال د زړه دا هو مړه ا لمو نه

« خوشحال ختک »

چه د بل ننګ و ناموس سا تلی نشی
و به نه ساتی څوک خپل ننګ و نا موس

« عبدالحمید مهمند »

دخپل رنځ د درد علا ج را څخه نه شی
په حکمت که ارسطو و ا فلا طو ن یم

د ګلو خو په هوس شپې ر نیو مه
ا مو خته لکه شبنم په د ا شبخون یم

تلخ ویل پر رقیب څو کوی ومیا تـه
آخر زه شمس الدین ننګی ارم پښتون یم

«شمس الدین کاکړ»

خو وا نخلی له ظلمه انتقام — مرد نه خوب کا نه خواږه کانه آرام
چه د ننګ او د ناموس اندوه یې نشته — د هغه سړی به نه وی احترام
« خوشحال خټک »

نام و ننګ افغانی مې ولاړ برهم شو — انصاف نشته د خوبانو په بازار کښې
« عبدالله یوبلزی »

واړه ننګ د پښتانه دی ګدا نه څې — حال یې وړخ په وړخ زبون دی ستا په غم کښې
« خوند ګدا »

په جهان د ننګیالی دی دا دوه کاره — یا به و خوری ککری یا به کامران شی
« خوشحال خټک »

ننګیالی د ننګ د پاره — په هر څه لګوی اور
سر به باد د سری پر ښو زه — چه یې نه وی ژو ندون نور
چه په نام و ننګ اډ نه وی — که تل ژوی مخ ئې تور
د جهان بلا دي کل وی — خو دي نه وی ویی (۱) سپور
« خوشحال خټک »

سر به دار لاك شوی ښه دی
نه لاك شوی په پیغور

---

۳ ــ ټینګښتیا

قول و بول په ژوندون نشی بدلولی — څکه ځان په جهل و ژنی پښتانه
«عبدالحمید مهمند»

ځان به مړ د عشق په جهل کړم ناصحه! — وا به نوډم زه حمید هسې پښتون یم
« عبدالحمید مهمند »

ددنیا ناوې به بیا به نکاح نکړم — که پښتون عبد العظیم یم په نسب
«عبدالعظیم رانیزی»

زما څه بې اعتقاده عقیده ده — چه له عجزه پر ملا خم و چاته نشو
« شمس الدین کاکړ »

د مرد چه نه وی وینا محکمه — په ده به نه شی در غلمه سمه
چه یوی ژبه وی یو خبره — خلاص وی له همه خلاص وی له غمه
« خوشحال خټک »

٤ ــ ښه ځوانی :

جار شم قربان شم دپلار له پنده — را ته یې ووې زما فرزنده !
لذت دور کړي تر ساتل ډیر دی — خوی خیر ندی ممسك له خو نده
« عبدالقادر خټك »

دلو یې په مقام به هاله کښېنې — که د ور کړې دمراني به وزرځې
«عبدالقادر خټك»

---

(۱) ویی : لفظ ، کلمه.

د خپل ځان د یارهییم درم اسراف دی  چه په بل خونه ښندې بې اسرافی ده
« عبدالقادر ختك »

تر اول کښېوول دزرو ښځې کاندې  ور کول بازل یې خوی خصلت دنرو
« عبدالقادر ختك »

چه شجاعت کا دنیا په کف لری  نوم به دنیکو په هر طرف لری
هر چه حاصل کا دا د واړه خوی ـه  هغه میراث دشاه نجف لری
« عبدالقادر ختك »

که ځوا نمردی بل آزار مکړه په گلو  ځان دښو دبدو تیرو ته کړه هدف
« عبدالقادر ختك »

چه گټل خورول بخپل کا ځوان هغه  چه تو ره لری د توری خان هغه
کان دلعل ودیا قوت و گوهر څه دی  چه احسان تری پیدا کیږی کان هغه
چه ئې ته په گېره وخوری حیطه شی  د مجلس سره چه خوړ شی خوان هغه
که دمال دی که دملك دی که د لېچو  چه ئې توان دچا یکار شی توان هغه
په تما مه شپه په ورځی مباشتی کال کښې  چه د خدای په یادو در ومی آن هغه
چه دخوك دوړ اندی روستو ځی داخه شی  په تنها وجود چه شان شی شان هغه
و نور چاوته وران مهوایه خو شحاله !  چه قول عهد وران شو وران هغه
« خوشحال خان ختك »

که پښتو ن شی گدا گر د کل جها ن  غگ ئې تللی دی ودی دی تریو نان
هسی شه مهما ن نوا زه خلك نشته  لکه خدای چه پیدا کړ یدی افغـان
که بهردرته مرزی شی خویه کور کښې  له ادبه ځان میر ئې کړی تا به خا ن
دهرچا ځای له چه ور شی بې تکلیفه  کټ پو زی در ته تیار وی آش و نان
« میر احمد شاه رضو انی »

۵ ــ د پښتو نولی غرور :
زه له ځایه د ماغی په جهان را غلم  ماد هسې د ماغ سر نه دی زا وړی
له اصلی فو لا ده هله تیغ ر غیبز ی  پهوار وارچه ځنې لاړ شی و سنیخړی
« خوشحال ختك »

که زه گوری درد آشامو سره شماریم  خوار هغه چه ئې له ما سره آهنگ دی
هر ملخی دسر بازی هنر څه زده  چه په دا هنر کښې سر ښندی پتنگ دی
لا تر او سه ئې ما غزه په قرار ندی  چا چه ما سره و هلی سر به سنگ دی
د گیندیو په ځیگر کښې ئې گولی دی  که لیدلی چا دما د ښکار تفنگ دی
لا په خوب کښې په لرزه پر یوزی له کټه  چه دچا ترغوږ زما د توری شرنگ دی
که په دا د رومی گو ری هغه زه یم  چه می داغ په خاطر ایښی داورنگ دی
در ست جهان می ومغل و ته خپر کړ  ځای په ځای ئې پښتانه وته قلنگ دی
ځنې څه اویه دعوی لرم په زړه کښې  ولې څه کړم چه پښتون واړه بې ننگ دی

ketabton.com - The Digital Library



خو طالع را سره هسې مدد نه کا
د خوشحال د زړه د حال ننداره وکړه

ګڼه تیر تر فریدونه مې فرهنګ دی
که په تخت دیاخه کښېنې هم ملنګ دی
« خوشحال ختک »

چه زما د در وېزې به کچکول ډېر شي

دحاتم به زړه به سهم د سوال پرېوت
« عبد الحمید مهمند »

هسې رنګ له دې عالمه تنها خوښ یم
ترهغه چه خشک طینت د صحرا وسنم
چه شاړه یې له اقلیم وزې مګس شي
چه په شان د آفتاب ننده ګرم رو یه
چه په قید یې د قفس کړم لکه زرکه
که بیدار لکه تصویر له خوا به نه شو

چه مدام لکه وحشي په صحرا خوښ یم
لکه موج اواره په دریا خوښ یم
کله زه د هغه خوان په صلا خوښ یم
ستا په سر که په سایه د هما خوښ یم
تر دا هسې خنده ازه په ژړا خوښ یم
په دا حال له خپله بخته شیدا! خوښ یم
« شیدا ختک »

جهان شرم ننام و ننګ دی
چه وفا ور څخه نښته
چه یې عشق تر سره کړی
په ښا غلیو جهان ارت دی
چه خوشحال باندې ناسته کا

که دانه وی جهان رنګ دی
ګل به څه کړې چه خوشرنګ دی
نور څوک نشته خو پښتنګ دی
په غو ولیو باندې تنګ دی
دا یو زی ندی اورنګ دی
« خوشحال ختک »

اکوړی ، یحیی ، شهباز واړه سره زر وو
اکوړی ، یحیی ، شهباز واړه زمری وو

په خیل دور واړه وښه تېر کړ خیل وار
زه هم نه یم د ګیدړو په قطار
« خوشحال ختک »

د حاتم غونډې مې خیل و حشم نشته
سخاوت مې په تقلید په رسم نه دی
په وګړی مې خبرې د مردی شته

په عطا کښې له حاتمه برابر یم
زه له حایه د سخی وپا با پسر یم
په همت کښې په هر لوری نامور یم
« خوشحال ختک »

هرچه کاندی نوکری د بادشاهانو

خامخا به د در بانو منت بار وړی
« عبد الرحمان مهمند »

مطیع الله له موره پلاره هم سوال مکره

سل بلا شرمندګي دی په سوال کښې
« مطیع الله پیر خیل »

دروېزه له دروېزه ګرو ناکسی ده
چه رښتینې سیده صاف نه وی حمیده!

د فلک کچکول ته مه ګوره , کچکول
بول لې بول عافلان دا هسې بول
« عبدالحمید مهمند »

هسې فخر شمس الدین کاندی به عشق کښې

لکه فخر کړی پښتون په خپل نسب
« شمس الدین کاکړ »

دروغ ویل هغه کا چه یې وېره وی یا طمع

خوشحال به دا اوه نه دی حق به وایی خوی یې سرشته
« خوشحال ختک »

روهي ګلدونه (۵۰۲۰) ټوک سردار محمد : ح : سراج الدین : ر : محمد امین : ن : رحیم علی : ه : اجرا د پښتو ټولنه ۲۱-۲-۳۷

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*